# كَنزُ العِرفان

## مع حاشيه: اِفهامُ القُرآن

(پښتو ترجمه)

# سُورَةُ البَقَرَة

از: شيخ الحديث والتفسير مفتي محمد قاسم عطاري دامت برکاتهم العالیه

پیشکش: دعوتِ اسلامي شعبه ټرانسلیشن

سُوْرَةُ الْفَاتِحَةِ مَكِّيَّةٌ ٥ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○ اٰيَاتُهَا ٧ رُكُوْعُهَا ١

د الله په نوم شروع چې ډیر زیات مهربانه رحم کوونکے دے.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ﴿١﴾ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۙ﴿٢﴾ مٰلِكِ

ټول صفتونه الله لره دي چې پالونکے د ټولو جهانونو دے (١) ډير مهربانه، رحم والا دے (٢) د جزا

يَوْمِ الدِّيْنِ ؕ﴿٣﴾ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ؕ﴿٤﴾

(قيامت) د ورځې مالک دے (٣) مونږ صرف ستا عبادت کوو او هم ستا نه مدد غواړو[1] (٤)

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ﴿٥﴾ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ

مونږ په سمه لار روان کړې[2] (٥) د هغه خلقو په لار چې تا پرې احسان

عَلَيْهِمْ ۙ۬ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ؑ﴿٧﴾

کړے دے (٦) نه په لار د هغوئي چې پرې غضب شوے دے او نه د ګمراهانو په لار[3] (٧)

ع ١

حاشیه [1] حقيقي مددګار صرف الله تعالٰی دے ولې چه هغه په ذاتي توګه قادِر، مستقل مالك او بے نیازه غني دے او د الله تعالٰی مقبول بندګان د الله تعالٰی په عطا [یعني د هغه په ورکړه] مدد کوونکي دي نور تفصیل په تفسیرِصِراطُ الْجِنان، جلد۱ صفحه ٤٩ کښې اوګورئ. [2] د صراط مستقیم نه مراد د هغه عقائدو نیغه لاره ده په کومه چه ټول انبیاء کرام عَلَیْهِمُ السَّلَام تلي دي یا د دې نه مراد د اسلام نیغه لار ده په کومه چه صحابه کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان بزرګان دین او اولیاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهِم تلي دي. [3] په چا چې د الله تعالٰی غضب شوے دے د هغوئي نه مراد یهودیان یا بدعمله خلق او د ګمراهانو نه مراد عیسایان یا بد عقیده خلق دي.


اَلْمَنْزِلُ الْاَوَّلُ ﴿1﴾

٢ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ ٨٧ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰياتها ٢٨٦ رکوعاتها ٤٠

د الله په نوم شروع چې ډير زيات مهربانه رحم کوونکے دے.

الٓمّٓ ﴿١﴾ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛۚ فِيْهِ ۛۚ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٢﴾

الٓمّٓ ❶ (١) هٰغه لويه مرتبه لرونکے کتاب چې د هيڅ شك ګنجائش پکښې نشته. په دې کښې دويريدونکو [پرهيزګارو] د پاره هدايت دے (٢)

الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ

هٰغه خلق چې بے ليدلو ايمان راوړي او لـمونځ قائموي او زمونږ له طرفه ورکړي شوي رزق (مال) نه څه (زمونږ په لار کښې)

يُنْفِقُوْنَ ﴿٣﴾ وَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَ مَاۤ اُنْزِلَ مِنْ

خرڅ کوي ❷ (٣) او هغوئ چې ايمان راوړي په هغې، څه چې په تا نازل شوي دي او په هغې څه چې تا نه مخکښې نازل

قَبْلِكَ ۚ وَ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿٤﴾ اُولٰٓىٕكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۗ وَ

شوي دي ❸ او په آخرت باندې يقين لري (٤) هُم دا خلق د خپل **رب** له طرفه په هدايت دي او

اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ

هُم دوئ کامیابي حاصلوونکي دي (٥) بيشکه هٰغه خلق د کومو په قسمت کښې چې کُفر دے د هغوئ د پاره برابره ده

ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٦﴾ خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ

که تاسو ئې اُويَروئ او که اُو ئې نه يَروئ هغوئ ايمان نه راوړي (٦) **الله** د هغوئ په زړونو او غوږونو

---

حاشيه ❶ دا حروف د **الله** تعالیٰ رازونه دي او د متشابهاتو نه دي، د دې په مراد **الله** تعالیٰ او د هغه رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوهيږي او مونږه د دې په حق کيدلو ايمان راوړو. ❷ د دې نه معلومه شوه چې د **الله** تعالیٰ په لار کښې مال خرڅ کولو کښې داسې کول نه دي پکار چې دومره زيات خرڅ کړے شي چې د خرڅ کولو نه پس سړے پښيمانه وي او نه په خرڅ کولو کښې د کنجوسئ [شومتيا] نه کار اغستل پکار دي بلکه په دې کښې اِعتدال [ميانه روي] پکار ده. ❸ د **الله** تعالیٰ نازلو شوو کتابونو باندې د ايمان راوړلو او د قرآن مجيد نه د مخکښينو کتابونو په احکامو باندې د عمل کولو تفصيل په **تفسيرِ صِراطُ الْجِنان**، ج١، ص ٦٨ کښې اوګورئ.

ع-١

وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ وَعَلٰۤى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۫ وَّلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝٧ وَمِنَ

مهر لګولے دے او د هغوئي په سترګو پردے پرتے دي ❶ او د هغوئي د پاره ډير لوئے عذاب دے (٧) او بعضې

النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ۝٨ (وقف لازم)

خلق وائي چې مونږه ايمان راوړے دے په الله او په ورځ د آخرت باندې حالانکه هغوئي ايمان والا نه دي (٨)

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّاۤ اَنْفُسَهُمْ وَمَا

دا خلق الله لره ❷ او ايمان والو لره دهوکه ورکول غواړي، او هغوئي دهوکه نه ورکوي مګر خپلو ځانونو لره. او هغوئي

يَشْعُرُوْنَ ۝٩ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ۙ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ

شعور نه لري (٩) د هغوئي په زړونو کښې مرض دے ❸ نو الله د هغوئي مرض نور هُم زيات کړو او د هغوئي د پاره د هغوئي

اَلِيْمٌ ۢ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ۝١٠ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ ۙ

د دروغو وئيلو په وجه دردناک عذاب دے (١٠) او کله چې هغوئي ته اوونئيل شي چې په زمکه کښې فساد مه کوئ

قَالُوْۤا اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ ۝١١ اَلَاۤ اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا

نو وائي مونږ خو صرف اصلاح کوونکي يُو (١١) واورئ: بیشکه هم دغه خلق فساد خوروونکي دي ❹ خو هغوئي (د دې)

---

**حاشيه** ❶ د کافرانو په زړونو او غوږونو باندې مهر لګيدل او په سترګو پردے پريوتل د هغوئي د کفر، کينے، سرکشئ او انبياء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام سره د دښمنئ د انجام په طور ووګني په هغوئي د هدايت لارې د شروع نه بندې نه وے. ❷ الله تعالىٰ د دې نه پاک دے چې څوک هغه له دهوکه ورکړي ، دلته د الله تعالىٰ لره دهوکه ورکولو نه مراد د هغه حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دهوکے ورکولو کوشش کول دي. ❸ دلته د زړه د مرض نه مراد د منافقانو منافقت او حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د بغض لرلو بيماري ده، معلومه شوه چې بدعقيده کيدل د روحاني ژوند د پاره تباهي ده او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عَظَمت او شان نه سوزيدلو والا د زړه بيمار دے. ❹ د منافقانو د طرزِ عمل نه معلومه شوه چې د عامو فساديانو نه لوئے فساديان هغه دي څوک چې فساد خوروي او هغې له د اصلاح نوم ورکوي. زمونږ په مُعاشره کښې د داسې خلقو کمے نشته چې هغوئي فساد خوروي او بد کارونه په ښو نومونو سره تعبير کوي.

يَشْعُرُوْنَ ﴿١٢﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ قَالُوْٓا

شعور نه لري.(١٢) او کله چې هغوئي ته اوويل شي چې تاسو هُم داسې ايمان راوړئ څنګه چې نورو خلقو ايمان راوړے دے ❶ نو وائي :

اَنُؤْمِنُ كَمَآ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ لَّا

آيا مونږه د بے وقوفو په شان ايمان راوړو؟ واورئ: بيشکه هم دا خلق بے وقوفه دي ❷ خو دوئي

يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣﴾ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚۖ وَاِذَا خَلَوْا

نه پوهيږي (١٣) او چې کله دوئي د ايمان والو سره مخامخ شي نو وائي مونږ ايمان راوړے دے او چې کله خپلو

اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ ۙ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٤﴾

شيطانانو سره يواځې شي نو وائي مونږه تاسو سره يُو مونږ خو صرف ټوقې ټقالې کوو (١٤)

اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِىْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٥﴾ اُولٰٓئِكَ

الله به هغوئي ته د هغوئي د ټوقو ټقالو بدله ورکړي ❸ او (اوس) هغه دوئي ته مُهلت ورکوي چې دوئي په خپله سرکشئ کښې سرګردانه ګرځي (١٥) هم دا

الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى ۠ فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا

هُغه خلق دي چا چې د هدايت په بدله کښې ګمراهي واخستله نو د دوئي تجارت څه ګټه اونکړه او دې خلقو هډو سمه

---

**حاشيه** ❶ په دې آيت کښې د بزرګانِ دين په شان ايمان راوړلو د حکم نه معلومه شوه چې د هغوئي تابعداري کوونکي نجات موندونکي دي او د هغوئي د لارې نه اووښتونکي د منافقانو په لار دي او دا هم معلومه شوه چې په بزرګانو پسې طعن و تشنيع [يعني سپکې خبرې] کوونکي ډير د پخوا نه راروان دي. ❷ معلومه شوه چې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابه کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د الله تعالیٰ په بارګاه کښې داسې قبول شوي بندګان دي چې د هغوئي ګستاخي کوونکو لره الله تعالیٰ پخپله جواب ورکړے دے. ❸ الله تعالیٰ د استهزاء يعني ټوقو ټقالو نه پاك دے په عربي ژبه کښې کله کله د څه کار بدله ورکول د هُم هغه لفظ سره تعبير کيږي او دلته هم دغه مراد دے چې الله تعالیٰ به منافقانو ته د هغوئي د ټوقو کولو بدله ورکړي.

مُهْتَدِيْنَ ﴿١٦﴾ مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِى اسْتَوْقَدَ نَارًا ۚ فَلَمَّآ اَضَآءَتْ
لار پيژندله نه (۱۵) د هغوئي مثال د هغه کس په شان دے چا چې وور بل کړو بيا چې کله هغه وور د هغه خوا و شا روښانه
مَا حَوْلَهٗ ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِىْ ظُلُمٰتٍ لَّا يُبْصِرُوْنَ ﴿١٧﴾
کړل نو الله د هغوئي رڼا يوړله او هغوئي ئې په تيارو کښې پريښودل چې هيڅ ورته نه ښکاري (۱۷)
صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿١٨﴾ ۙ اَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ فِيْهِ ظُلُمٰتٌ
کاڼه، ګونګيان او ړانده دي ❶ پس دوئي بيرته نه راګرځي (۱۸) يا (د دوئي مثال) د آسمان نه راوريدونکي باران په شان دے چې په کښې تيارے
وَّرَعْدٌ وَّبَرْقٌ ۚ يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِىْٓ اٰذَانِهِمْ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ
او تنا [ګړزار] او بريښنا وي دوئي د تندر له وجهې د مرګ له ويرې په خپلو غوګونو کښې ګوتې
الْمَوْتِ ؕ وَاللّٰهُ مُحِيْطٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩﴾ يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ؕ
ټومبي [ننباسي]، حالانکه الله کافرانو لره ګيروونکے دے (۱۹) بريښنا داسې معلوميږي چې د هغوئي [د سترګو] نظر به يوسي،
كُلَّمَآ اَضَآءَ لَهُمْ مَّشَوْا فِيْهِ ۙ وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا ؕ وَلَوْ
(حالت دا وو) چې کله به څه رڼا شوه نو پکښې روان به شول او چې تياره به خوره شوه نو ولاړ به پاتې شول او که
شَآءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٠﴾ ع ٢ ١٣ ٢
الله غوښتلے نو د هغوئي غوږونه او سترګې به ئې سلب [يعني ختمې] کړې وے بيشکه الله په هر څه قادِر دے ❷ (۲۰)

---

حاشيه ❶ منافقانو ته الله تعالیٰ په هدايت قدرت ورکړے وو خو هغوئي ترينه فائده وانخستله او کله چې هغوئي د حق اوريدلو، منلو، وئيلو او ليدلو نه محرومه شو نو غوږونه، ژبه او سترګې ټول بيکاره دي. ❷ هر ممکن څيز په شے کښې داخل دے او هر شے د الله تعالیٰ په قدرت کښې دے او هر هغه څيز چې محال وي په هغې کښې دا صلاحيت نشته چې د الله تعالیٰ د قدرت د لاندې راشي.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

اے خلقو! د خپل رب عبادت کوئ ❶ چا چې تاسو او ستاسو نه مخکښې خلق پیدا کړي دي، په دې اُمید (عبادت کوئ)

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿٢١﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّ

چې تاسو پرهیزګاره جوړ شئ (۲۱) چا چې ستاسو د پاره زمکه بستره او

السَّمَآءَ بِنَآءً ۠ وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ

آسمان چهت جوړ کړو، او هغه د آسمان نه اوبه را اُو ورولې بیا ئې د هغې اوبو په ذریعه ستاسو د خوراك د پاره ډیرې میوے

رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَاِنْ

پیدا کړې نو تاسو د پوهیدلو باوجود **الله** سره شریکان مه جوړوئ (۲۲) او که

كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ۠ وَ

ستاسو د دې کتاب په باره کښې څه شك وي کوم چې مونږ په خپل خاص بنده باندې نازل کړے دے نو تاسو د دې په شان یو سورت راوړئ او

ادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٣﴾ فَاِنْ لَّمْ

د **الله** نه سِوا خپل ټول مددګاران هم را اُوبلئ که تاسو رښتینې ئې ❷ (۲۳) بیا که تاسو

تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَ

دا کار اونکړے شئ او تاسو هیڅ کله هم دا کار نه شئ کولے نو د هغه وور نه اویریږئ چې د هغې خشاك انسانان او

---

حاشیه ❶ عبادت د هغه انتهائي تعظیم نوم دے چې بنده ئې د خپل عبدیت یعني بنده کیدلو او د معبود (یعنی د الله تعالیٰ د لائقِ عِبادت) د اُلوهیت یعني معبود کیدلو د عقیدے ساتلو او اقرار کولو سره اوکړي. دلته عبادت توحید او د دې نه علاوه د عبادت ټولو قسمونه ته شامل دے. ❷ دا چیلنج تر قیامته پورې ټولو انسانانو ته دے نن هُم قرآن ته د **محمد** مصطفي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لیکلے کتاب وئیلو والا کافران خو ډیر دي خو د قرآن په شان یو آیت جوړولو والا تر ننه پورې هیڅ څوك هم نه دے پیدا شوے او چا چې هم د دې دعوٰی کړې ده د هغه راز په لړو ورځو کښې پخپله ښکاره شوے دے.

الْحِجَارَةُ ۚۖ أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

کانړي دي هغه د کافرانو د پاره ① تیار کړے شوے دے ② (٢٤) او هغه خلقو ته زیرے واوروه چې ایمان ئې راوړے دے او

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ كُلَّمَا

نیک کارونه ئې کړي دي چې د هغوئي د پاره داسې باغونه دي چې د هغې نه لاندې نهرونه بهیږي، کله چې هغوئي ته د هغه باغونو

رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوْا هٰذَا الَّذِيْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ

نه د خوړلو د پاره څه میوه ورکړے شي نو وائي به، دا خو هُم هغه روزي ده کومه چې مونږ. ته مخکښې راکړے شوې وه

وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ؕ وَلَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙۗ وَّهُمْ فِيْهَا

حالانکه هغوئي ته (مخکښې صرف په شکل کښې) ددې په شان میوه ورکړے شوې وه او د هغوئي د پاره به په هغه باغونو کښې پاکې بیبیانې وي او هغوئي

خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيٖٓ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوْضَةً فَمَا

به په هغه باغونو کښې همیشه اوسیږي (٢٥) بیشکه **الله** ددې نه حیانه فرمائي ③ چې د پوهه کولو د پاره هر څنګه مثال بیان کړي، که هغه ماشے وي

فَوْقَهَا ؕ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ وَ

یا د هغې نه هم د پاسه. بهر حال ایمان والا خو پوهیږي چې دا د هغوئي د **رب** له طرفه حق دے او

اَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَيَقُوْلُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ

پاتې شو کافران نو هغوئي وائي چې د دې مثال نه د **الله** څه مراد دے؟ **الله** ډیر خلق

وقف لازم

---

حاشیه ① ”د کافرانو د پاره“ وئیلو کښې دا اشاره هم ده چې مومنان به د **الله** په فضل و کرم سره دوزخ ته د همیشه داخلیدو نه محفوظه اوسي ځکه چه دوزخ خاص طور د کافرانو د پاره پیدا کړے شوے دے. ② د دې نه معلومه شوه چې دوزخ پیدا شوے دے ځکه چې دلته د ماضي الفاظ دي. ③ د حیاء معني ده: ”د بدنامۍ او بدئ له ویرې په زړه کښې د څه کار نه رکاوټ پیدا کیدل“ **الله** تعالیٰ د دې نه پاک دے او دلته د دې نه مراد: ”د مثالونو بیان کول نه پریښودل“ دي.

بِهٖ كَثِيْرًا ۙ وَّيَهْدِيْ بِهٖ كَثِيْرًا ؕ وَمَا يُضِلُّ بِهٖٓ اِلَّا الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ ۙ

د دې په ذريعه ګمراه کوي ① او ډېرو ته هدايت ورکوي او د دې په ذريعه صرف نافرمانه خلق ګُمراه کوي (٢٦)

الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ ۪ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ

هُغه خلق چې د **الله** وعده پس د پخېدلو نه ماتوي او هُغه څيز پرېك كوي د كوم څيز د يو ځائے كولو چې

اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ

**الله** حكم كړے دے او په زمكه كښې فساد خوروي نو هُم دغه خلق نقصان اوچتونكي دي (٢٧)

كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ

تاسو څنګه د **الله** منكر كېدے شئ حالانكه تاسو مړه وئ نو هغه تاسو پيدا كړئ ② بيا به مو مړه كوي

ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿٢٨﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي

بيا به مو راژوندي كوي بيا به هُم د هغه طرف ته بيرته ګرځولے كيږئ (٢٨) هم هغه دے چا چې څه په

الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۗ ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ؕ

زمكه كښې دي ټول ستاسو د پاره پيدا كړي دي ③ بيا هغه د آسمان جوړولو اِراده اوفرمائيله نو پوره ووه آسمانونه ئې پيدا كړل،

ع ۳ ۳ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٢٩﴾ ع وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ جَاعِلٌ فِي

او هغه په هر څيز پوهيږي (٢٩) او ياد كړه چې كله ستا **رب** فريښتو ته اوفرمائيل: ④ زه په زمكه كښې خپل

---

حاشيه ① د قرآن د نازليدو اصل مقصد هدايت وركول دي خو ډير خلق د دې د انكار كولو، يا په دې پورې د ټوقو كولو، يا د دې نه غلطه معنې مراد اخستلو په وجه ګمراه كيږي، په دې اعتبار دلته د قرآن په ذريعه ګمراه كيدل وئيلے شوي دي. ② په دې آيت چې غور اوكړے شي نو مونږه مسلمانانو د پاره هم نصيحت دے چه مونږه [مخكښې] هيڅ هم نه وو خو **الله** تعالىٰ مونږ لره ژوند راكړو او د ژوند تيرولو لوازمات او نعمتونه ئې را عطا كړل نو د هغه د وركړې نه فائده اخستل، او [بيا] د هغه د ياد نه غافله كيدل او د ناشكرئ او غفلت ژوند تيرول زمونږه سره نه ښائي. ③ د دې نه دا معلومه شوه چې د كوم څيز نه **الله** تعالىٰ منع نه ده فرمائيلي هغه زمونږ د پاره روا او حلال دے. ④ فريښتو ته د خليفه جوړولو خبر په ظاهره د مشورے په توګه وركړے شو ګنې **الله** تعالىٰ د دې نه پاك دے چې هغه ته دې د چا د مشورے حاجت وي.

الْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوٓا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ

نائب جوړولو والا يم نو هغوئي عرض اوکړو: آيا ته به په زمکه کښې داسې نائب جوړوې چې هغه به په هغې کښې فساد خوروي او

الدِّمَآءَ ۚ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّىٓ أَعْلَمُ مَا

وِينه به تويوي. حالانکه مونږه ستا د حَمْد په ذريعه ستا تَسْبِيح بيانوو او ستا پاکي بيانوو [الله] اوفرمائيل : بيشکه ماته هغه معلوم دي څه

لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ وَعَلَّمَ ءَادَمَ الْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى

چې تاسو ته نه دي معلوم (٣٠) او الله آدم ته د ټولو څيزونو نومونه اوښودل بيا ئې هغه ټول څيزونه

الْمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِى بِأَسْمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾

فرښتو ته وړاندې کړل او اوئې فرمائيل: که تاسو رښتينې ئې نو د دې نومونه اُوښائے [1] (٣١)

قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ الْعَلِيمُ

(فرښتو) عرض اوکړو (اے الله!) پاکي ده تا لره، مونږ خو صرف دومره عِلم لرو څومره چې تا را زده کړے دے [2] بيشکه هُم ته علم والا

الْحَكِيمُ ﴿٣٢﴾ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ أَنۢبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ ۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم

او حکمت والا ئې (٣٢) (بيا الله) اوفرمائيل: اے آدمه! ته دوئي ته د دې څيزونو نومونه اوښايه، نو چې کله آدم هغوئي ته د هغه

بِأَسْمَآئِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّىٓ أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَٰوَٰتِ وَ

څيزونو نومونه اوښودل نو (الله) اوفرمائيل: (اے فرښتو!) آيا ما تاسو ته نه وو وئيلي چې ما ته د آسمانونو او زمکې ټول پټ

الْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٣٣﴾ وَإِذْ

څيزونه معلوم دي او ما ته معلوم دي هُغه څه، چې تاسو ئې ښکاره کوئ او هُغه څه چې تاسو ئې پټوئ (٣٣) او ياد کړه چې

---

**حاشيه** [1] په دې آيت کښې الله تعالىٰ د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د فرښتو نه د غوره کيدلو سبب علم ظاهر کړے دے، د دې نه معلومه شوه چې علم د خلوتونو او د تنهائي د عبادت نه افضل (غوره) دے. [2] دې آيت نه د انسان شرافت او د علم فضيلت ثابتيږي او دا هم ثابتيږي چې د الله تعالىٰ طرف ته د تعليم (ورکولو) نسبت کول صحيح دي اګرچې هغه ته به مُعَلِّم (يعني استاذ) نه وئيلے کيږي ځکه چې معلم پيشه ور تعليم ورکولو والا ته وائي.

قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰى وَ

کله مونږه فرښتو ته حکم اوکړو چې آدم ته سجده اوکړئ نو د ابلیس نه سوا ټولو سجده اوکړه، [1] هغه انکار اوکړو، او [2]

اسْتَكْبَرَ ۗ وَ كَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٤﴾ وَ قُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ

تَکَبُّر ئي اوکړو او کافر شو (٣٤) او مونږ اوفرمائيل: اے آدمه! ته او ستا بي بي

وَ زَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَ كُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ۖ وَ لَا تَقْرَبَا هٰذِهِ

په جنت کښې اوسئ او بے له څه بنديزه چرته مو چې زړه غواړي خورئ، خو د دې ونې خوا ته

الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٣٥﴾ فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا

مه نزدې کيږئ ګنې د حد نه تيريدونکو کښې به شامل شئ [3] (٣٥) نو شيطان هغوئي دواړه د جَنَّت نه را اُوښوئيوَل [4]

فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ ۖ وَ قُلْنَا اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ

پس هغوئي ئي را اُوويستل د هُغه ځائے نه چرته چې هغوئي اوسيدل او مونږه اوفرمائيل تاسو ښکته کوز شئ تاسو کښې به بعضې د بعضو

عَدُوٌّ ۚ وَ لَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّ مَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٣٦﴾ فَتَلَقّٰٓى

دُښمنان ئي او ستاسو د پاره د يو خاص وخته پورې په زمکه اوسيدل او (د ژوند تيرولو) سامان دے. (٣٦) بيا آدم

اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿٣٧﴾

د خپل **رب** نه څه کلمات زده کړل نو **الله** د هغه توبه قبوله کړه [5] بيشکه هم هغه ډير توبه قبلوونکے او ډير مهربانه دے. (٣٧)

---

حاشيه [1] فرښتو حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته تعظيمي سجده کړې وه، او هغه باقاعده تندے په زمکه د ايښودو په صورت کښې وه صرف سر ټيټول نه وو. [2] د دې واقعے نه معلومه شوه چې تکبر داسې خطرناک عمل دے چې بعضې وخت بنده کفر ته رسوي، ځکه هر مسلمان ته پکار دي چې د تَکَبُّر کولو نه ځان ساتي. [3] **الله** تعالیٰ مالك دے، هغه چې خپلو مقبولو بندګانو ته څه غواړي وائي، بل چا ته دا حق نشته چې دا بُنياد جوړکړي او د انبياء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام په باره کښې د ادب خلاف خبرې اوکړي. [4] د قرآن لوستلو نه علاوه د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام طرف ته د نافرمانئ او ګناه نسبت کول حرام بلکه د علماءِ کرامو يوې ډلې دې ته کفر وئيلے دے. [5] چې د توبے نسبت د **الله** تعالیٰ طرف ته وی نو د دې نه مراد "توبه قبلول" يا "د **الله** تعالیٰ د خپل رحمت سره په بنده باندې رجوع کول" وي.

قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى فَمَنْ

مونږه اوفرمائيل: تاسو ټول د جنت نه كوز شئ ١ بيا كه تاسو ته زما له طرفه څه هدايت راشي نو څوك

تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چې به زما د هدايت تابعداري كوي په هغوئي به نه څه ويره وي او نه به هغوئي غمژن كيږي. (٣٨) او هغه خلق چې كفر به كوي

ع٤ وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٣٩﴾

او زما آيتونه به دروغژن ګڼړي هغوئي به دوزخيان وي هغوئي به هميشه په هغې كښې اوسي. (٣٩)

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَوْفُوْا

اے د يعقوب اولاده! ٢ ياد كړئ ٣ زما هغه احسان چې ما په تاسو كړے دے او زما وعده

بِعَهْدِيْٓ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ۚ وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴿٤٠﴾ وَاٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ

پوره كړئ زه به ستاسو وعده پوره كړم او صرف زما نه ويريږئ. (٤٠) او ايمان راوړئ په هغه (كتاب) چې ما نازل كړے دے

مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهٖ ۖ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ

هغه ستاسو سره د موجود كتاب تصديق كوونكے دے او د ټولو نه مخكښې د هغې انكار كوونكي مه جوړيږئ او زما د آيتونو په

ثَمَنًا قَلِيْلًا ۫ وَّاِيَّايَ فَاتَّقُوْنِ ﴿٤١﴾ وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَ

بدله كښې لږ نرخ [قيمت] مه وصولوئ او يواځې زما نه اويريږئ (٤١) او حق د باطل سره مه يو ځائے كوئ او

---

حاشيه ١ دلته د جمع د صيغے په ذريعه د كوزيدلو وئيلے شوي دي په دې كښې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام او حضرت حواء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا سره د دوئي اولاد هُم مراد دے چې هغه لا د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام په شا مباركه كښې وو.
٢ په دې آيت كښې د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زمانے يهوديان مخاطب شوي او خبرې ورسره شوي دي. ٣ دلته د يادولونه مراد صرف په ژبه يادول نه دي بلكه د دې نه مراد دا دے چې هغوئي د الله تعالیٰ اطاعت او بندګي اوكړي او په هغه نعمتونو شكر ادا كړي ځكه چې د يو نعمت شكر نه كول د هغې د هيرولو برابر دي.

تَكۡتُمُوا الۡحَقَّ وَ اَنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿٤٢﴾ وَ اَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ

سره د پوهې حق مه پټوئ. ❶ (۴۲) او لـمونځ قائم کړئ او زکوٰة ادا کړئ

وَارۡكَعُوۡا مَعَ الرّٰكِعِيۡنَ ﴿٤٣﴾ اَتَاۡمُرُوۡنَ النَّاسَ بِالۡبِرِّ وَتَنۡسَوۡنَ اَنۡفُسَكُمۡ

او د رکوع کوونکو سره رکوع اوکړئ (۴۳) آيا تاسو خلقو ته د نيکئ حکم کوئ او خپل ځانونه هيروئ

وَ اَنۡتُمۡ تَتۡلُوۡنَ الۡكِتٰبَ ؕ اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿٤٤﴾ وَاسۡتَعِيۡنُوۡا بِالصَّبۡرِ وَ

حالانکه تاسو کتاب هم لولئ نو آيا تاسو عقل نه لرئ ❷ (۴۴) او په صبر او لـمانځه سره مدد حاصل

الصَّلٰوةِ ؕ وَاِنَّهَا لَكَبِيۡرَةٌ اِلَّا عَلَى الۡخٰشِعِيۡنَ ﴿٤٥﴾ ۙ الَّذِيۡنَ يَظُنُّوۡنَ اَنَّهُمۡ

کړئ ❸ او بيشکه دا لـمونځ ضرور دروند [مشکل] دے خو نه په هغوئي چې د زړه نه زما طرف ته ټيټيږي. (۴۵) څوک چې يقين لري چې هغوئي به

مُّلٰقُوۡا رَبِّهِمۡ وَاَنَّهُمۡ اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ ﴿٤٦﴾ ؏ يٰبَنِىۡٓ اِسۡرَآءِيۡلَ اذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِىَ ع ۵ ۷ ۵ الربع

خپل رب سره مخ کيږي او هغوئي به هُم د هغه په طرف بيرته ګرځي. (۴۶) اے د يعقوب اولاده! ياد کړئ زما هغه

الَّتِىۡٓ اَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَاَنِّىۡ فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿٤٧﴾ وَاتَّقُوۡا

احسان چې ما په تاسو کړے دے چې ما تاسو ته د هغې زمانے په ټول عالَم باندې غوره‌والے درکړے وو. ❹ (۴۷) او د هغه

---

حاشيه ❶ د دې آيت نه معلومه شوه چې هرچا ته پکار دي چې حق د باطل سره نه يو ځائے کوي او نه حق پټوي ولې چې په دي کښې نقصان دے او دا هم معلومه شوه چې د حق خبرې علم لرونکي باندې د هغې ښکاره کول واجب دي او حق خبره پټول حرام دي. ❷ د دې آيت شان نزول د خاص کيدلو باوجود د دې حکم عام دے او د نيکئ حکم ورکوونکي هر کس د پاره په دې کښې ډير عبرت دے. ❸ د صبر په وجه د زړه په طاقت کښې اضافه او د لـمونځ په برکت **الله** تعالىٰ سره تعلق مضبوطيږي او دا دواړه خيزونه په غمونو زغملو او د هغې لرې کولو کښې د ټولونه زيات مُعاوِن [يعني مددګار] دي - ❹ د دې نه مراد دادے چې بني اسرائيلو ته د هغوئي په زمانه کښې په ټولو خلقو فضيلت ورکړے شوے وو او چې کله حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو نو دا فضيلت د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم امت ته رامنتقل شو.

يَوۡمًا لَّا تَجۡزِيۡ نَفۡسٌ عَنۡ نَّفۡسٍ شَيۡـًٔا وَّلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا
ورځې نه اُویریږئ په کومه ورځ به چې یو کس هُم د بل له طرفه بدله نه ورکوي او نه به څه سفارش منلے کیږي او نه به
يُؤۡخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٌ وَّلَا هُمۡ يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۴۸﴾ وَاِذۡ نَجَّيۡنٰكُمۡ مِّنۡ اٰلِ
ترینه څه عوض اخستلے کیږي او نه به ئې مدد کیږي.① (۴۸) او (یاد کړئ) چې کله مونږه تاسو ته د فرعونیانو نه خلاصے
فِرۡعَوۡنَ يَسُوۡمُوۡنَكُمۡ سُوۡٓءَ الۡعَذَابِ يُذَبِّحُوۡنَ اَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُوۡنَ
درکړو چې تاسو ته به ئې ډیر بد عذاب درکولو ستاسو ځامن به ئې حلالول او لونړه به ئې درله
نِسَآءَكُمۡ ؕ وَفِيۡ ذٰلِكُمۡ بَلَآءٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ عَظِيۡمٌ ﴿۴۹﴾ وَاِذۡ فَرَقۡنَا
ژوندئ پریښودلې او په هغې کښې ستاسو د رب له طرفه لوئے ازمیښت وو (۴۹) او یاد کړئ چې کله مونږه
بِكُمُ الۡبَحۡرَ فَاَنۡجَيۡنٰكُمۡ وَاَغۡرَقۡنَآ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ وَاَنۡتُمۡ تَنۡظُرُوۡنَ ﴿۵۰﴾
ستاسو د پاره دریاب اوشلولو نو مونږه تاسو بچ کړئ او فرعونیان مو ستاسو د سترګو د وړاندې غرق کړل (۵۰)
وَاِذۡ وٰعَدۡنَا مُوۡسٰۤى اَرۡبَعِيۡنَ لَيۡلَةً ثُمَّ اتَّخَذۡتُمُ الۡعِجۡلَ مِنۡۢ بَعۡدِهٖ وَاَنۡتُمۡ
چې کله مونږه موسیٰ سره د څلویښتو شپو وعده اوکړه ② بیا په هغه پسې وروستو تاسو د سخي [د غوا د بچي] عبادت شروع کړو او تاسو واقعي
ظٰلِمُوۡنَ ﴿۵۱﴾ ثُمَّ عَفَوۡنَا عَنۡكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۵۲﴾
ظالمان وئ. (۵۱) بیا د هغې نه پس مونږه تاسو ته بخښنه اوکړه چې تاسو شُکر ادا کړئ. (۵۲)
وَاِذۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ وَالۡفُرۡقَانَ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُوۡنَ ﴿۵۳﴾ وَ
او یاد کړئ چې کله مونږه موسیٰ ته کتاب ورکړو، او په حق او باطل کښې فرق کول چې تاسو هدایت اُوموميئ(۵۳) او

---

حاشیه ① د دې نه معلومه شوه چې د قیامت په ورځ کافر ته نه یو کافر فائده رسولے شي او نه مسلمان، په هُغه ورځ به شفاعت صرف د مسلمان د پاره وي.② د فرعون او د فرعونیانو د هلاکت نه پس چې کله حضرتِ موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام مسلمانان ځان سره کړل او مصر ته بیرته لاړل نو د هغوئې په درخواست باندې الله تعالیٰ د تورات ورکولو وعده اوفرمائیله او د هغې د پاره د دیرشو ورځو او بیا د نورو لسو ورځو په زیاتولو سره د څلویښتو ورځو نیته اوټاکلے شوه.

اِذْ قَالَ مُوْسٰی لِقَوْمِهٖ یٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ
یاد کړئ چې کله موسیٰ خپل قوم ته اُووئیل: اے زما قومه! تاسو د سخي (د معبود) جوړولو په وجه په خپلو ځانونو ظُلم
الْعِجْلَ فَتُوْبُوْۤا اِلٰی بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَیْرٌ
اوکړو، ځکه (اوس) د خپل پیدا کوونکي په بارګاه کښې توبه اوکړئ (داسې) چې تاسو خپل خلق مړه کړئ. ❶ دا ستاسو د پیدا کوونکي
لَّكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ ؕ فَتَابَ عَلَیْكُمْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ﴿۵۴﴾ وَ
په نزد ستاسو د پاره غوره دي، نو هغه ستاسو توبه قبوله کړه، بیشکه هُم هغه ډیر توبه قبلوونکے مهربانه دے. (۵۴) او
اِذْ قُلْتُمْ یٰمُوْسٰی لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰی نَرَی اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْكُمُ
یاد کړئ چې کله تاسو اُووئیل: اے موسیٰ! مونږ به هیڅ کله ستا باور اُونکړو تر څو چې ښکاره خُدائے اُو نه وِینو نو تاسو
الصّٰعِقَةُ وَ اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ
[ناڅاپه] تندر اُونیولئ او تاسو پخپله لیدل ❷ (۵۵) بیا ستاسو د مرګ نه پس مونږه تاسو راژوندي کړئ
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ وَ ظَلَّلْنَا عَلَیْكُمُ الْغَمَامَ وَ اَنْزَلْنَا عَلَیْكُمُ
چې تاسو شُکر ادا کړئ (۵۶) او مونږه ستاسو د پاسه وریځ سورے [سایه] کړه او په تاسو مو
الْمَنَّ وَ السَّلْوٰی ؕ كُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَ مَا ظَلَمُوْنَا وَ
مَنّ وَ سَلویٰ نازِل کړل ❸ (چې) زمونږه درکړي شوي پاکیزه خیزونه اوخورئ، او هغوئي زمونږه هیڅ نقصان اونکړو
لٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَ اِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْیَةَ
بلکه په خپلو ځانونو ئي ظُلم کولو (۵۷) او چې کله مونږه هغوئي ته اُووئیل چې دې ښار ته داخل شئ،

حاشیه ❶ د دې آیت نه معلومه شوه چې د شرک کولو په وجه مسلمان مُرتد شي او د مُرتد سزا قتل ده ځکه چې دا د **الله** تعالیٰ نه بغاوت کوي او څوک چې د **الله** تعالیٰ باغي وي هغه قتلول د حِکمت او مصلحت عین مطابق دي. ❷ د دې واقعې نه د انبیاء کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام شان هُم ظاهر شو چې بني اسرائیل د دې خبرې کولو په وجه هلاک کړے شوي وو چې "اے موسیٰ! مونږ به هیڅ کله ستا باور اُونکړو". ❸ د "**مَن**" په باره کښې صحیح قول دا دے چې دا د ترنجبین په شان یو خوږ څیز وو او د "**سَلویٰ**" په باره کښې صحیح قول دا دے چې دا یوه وړه مرغۍ وه.

فَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّ

بيا چې په دې کښې چرته غواړئ بے بنديزه خورئ او په دروازه کښې د داخليدو په وخت سجده اوکړئ او

قُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾

اُووائي چې زمونږ ګناهونه دې معاف شي، مونږ به ستاسو خطاګاني اوبخښو، او نيژدې ده چې مونږ به نيکي کوونکو ته نور زيات عطا کړو (۵۸)

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا عَلَى

بيا هغه ظالمانو کومه چې هغوئي ته وئيلے شوې وه هغه ئې په يوه بله خبره بدله کړه ❶ نو مونږه په هغه

٦ ع ١٣ ٦ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۵۹﴾ ع وَاِذِ

ظالمانو د آسمان نه عذاب را نازل کړو ولې چې هغوئي [مسلسل] نافرمانئ کولې (۵۹) او ياد کړئ چې کله

اسْتَسْقٰى مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ؕ

موسىٰ د خپل قوم د پاره اوبه اُوغوښتلې ❷ نو مونږه اُوفرمائيل چې په خپله همسا دا کاڼړے اُووهه،

فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ

نو د هغې نه سمدستي دولس چينے جاري شوې ❸ او هرې ډلې خپل ګودر

مَّشْرَبَهُمْ ؕ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ

اوپيژندلو. (او مونږ ورته اُوفرمائيل) د **الله** رِزق خورئ او څښئ او په زمکه کښې

---

**حاشيه** ❶ بني اِسرآئيلو ته دا حُکم وو چې په دروازه کښې د سجدے په حالت کښې او په ژبه "**حِطَّةٌ**" وئيلو وئيلو سره داخل شئ، هغوئي د دواړو حُکمونو مُخالفت اوکړو او د سجدے په حالت کښې د داخليدلو په ځائے په مَقعد [يعني د ناستې په ځائے په] ښوئيدلو ښوئيدلو داخل شو او د توبه او اِستِغفار د کلمے وئيلو په ځائے ئې د ټوقې په طور "**حَبَّةٌ فِيْ شَعْرَةٍ**" وئيل شروع کړل، چې معنىٰ ئې ده: په وَړکي کښې دانه. ❷ په دې آيت کښې د خلقو د انبياءِ کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام په بارګاه کښې د استِعانت کولو او د انبياءِ کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام د هغوئي د مشکل حل کولو ثبوت هُم دے. ❸ د کاڼړي نه چينه جاري کول د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام عظِيمه مُعجزه وه، او زمونږه آقا **سَيِّدُ الْمُرْسَلِيْن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو مبارکو ګوتو نه د اوبو چينے جاري کړې، دا د هغې نه هم لويه مُعجزه وه.

مُفْسِدِيْنَ ﴿۶۰﴾ وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ فَادْعُ

فساد مه خوروئ (۶۰) او چې كله تاسو اُووئيل: اے موسیٰ! مونږ په يو خوراک بالكل صبر نه شو كولے. ۱ لِهذا تاسو

لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ مِنْۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَ

د خپل **رب** نه دُعا اوكړئ چې زمونږ د پاره هغه څيزونه را اُوباسي كوم چې زمكه رازرغونوي لكه سابه [ساګ] او تَرَه [بادرنګ] او

فُوْمِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ؕ قَالَ اَتَسْتَبْدِلُوْنَ الَّذِيْ هُوَ اَدْنٰى

غنم او د مسورو دال او پياز، ورته اُوئي فرمائيل: آيا تاسو د غوره څيز په بدله كښې كمتر

بِالَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ ؕ اِهْبِطُوْا مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ مَّا سَاَلْتُمْ ؕ وَضُرِبَتْ

څيزونه غواړئ، (ښه نو ښيا) مُلکِ مِصر (يا بل يو ښار) ته كوز شئ، هلته به په لاس درشي څه چې تاسو اُوغوښتل او په هغوئي

عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ ۗ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

خواري او نيستي مسلط كړے شوه ۲ او هغوئي د **الله** د غضب مُستحق شُو، دا خواري او غريبي په دې وجه وه

كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ ذٰلِكَ

چې هغوئي د **الله** د آيتونو اِنكار كولو او انبياء به ئې ناحقه شهيدان كول، (او) دا

بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۶۱﴾ ع اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ ع ۷

په دې وجه وو چې هغوئي نافرماني اوكړه او هغوئي مسلسل سركشي كوله (۶۱) بيشكه ايمان والؤ او

---

حاشيه ۱ بني اِسرائيلو چې سابه، تَرَه وغيره كوم څيزونه غوښتي وو د هغوئي دا مطالبه ګناه نه وه خو د "**مَن و سَلویٰ**" په شان نعمتونه چې بے محنته ملاويدل، هغه پريښودل او د هغه څيزونو طرف ته مائل كيدل كمزورے خيال وو. چې كله نسبت د غټو سره وي نو زړه، دماغ او سوچ هُم غټ كيدل پكار وي. ۲ بني اسرائيل په اوچتو مرتبو باندې د اوسيدلو نه پس چې د كومو كارونو په وجه د ذِلّت او خوارۍ كندې ته اوغورزيدل، كاش چې مسلمانان هُم د عبرت او نصيحت حاصلولو د پاره دغه وجوهاتو ته اوګوري او د خپلو اعمالو او افعالو جائزه واخلي او د خپل تير شوي وخت او حال مُشاهده اوكړي.

هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصّٰبِـِٕيْنَ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ

يهوديانو او عيسائيانو او د ستورو عبادت كوونكو كښې چې څوک هُم په رښتيني زړه په **الله** او د آخرت په ورځ ايمان راوړي او

عَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

نيک كار كوي نو د هغوئي ثواب د هغوئي د **رب** سره دے او په هغوئي به نه څه ويره وي او نه به هغوئي غمژن

يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ

كيږي (٦٢) او ياد كړئ چې كله ما ستاسو نه وعده واخستله او ستاسو په سرونو مې د طُور غر پورته كړو (او ومې فرمائيل چې) مضبوط اُونيسئ هُغه (كتاب)

خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿٦٣﴾

كوم چې مونږه تاسو ته دركړے دے ① او څه چې په هغې كښې بيان كړے شوي دي هغه ياد كړئ په دې اُمِّيد چې تاسو پرهيزګاره جوړ شئ. (٦٣)

ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ۚ فَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ

پس بيا تاسو مخ واړولو، نو كه په تاسو د **الله** فضل او د هغه رحمت نه وے

لَكُنْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي

نو تاسو به د نقصان اوچتوونكو نه شوي وے. (٦٤) او يقيناً تاسو ته معلوم دي هُغه خلق په تاسو كښې چې كومو د خيالي په ورځ سركشي

السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴿٦٥﴾ ۚ فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا

اوكړه نو مونږه هغوئي ته اُووئيل چې شئ ذليله شوي شادوګان (٦٥) نو مونږه دا واقعه د هُغه وخت د خلقو او

---

حاشيه ① په دې كښې صورةً په عهد [وعده] پوره كولو باندې مجبوره كول ښكاري، په دې باره كښې ياد ساتئ چې دين قبلولو د پاره په چا جبر نه شي كيدے البته دِين قبلولو نه پس به د هغې په احكامو باندې عمل كولو د پاره مجبوره كولے كيږي. مَثَلًا، حكومت څوک خپل ملک ته راوستلو باندې نه مجبوره كوي خو چې څوک ملک ته راشي نو حكومت به هغه په قانون باندې عمل كولو د پاره ضرور مجبوره كوي.

بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى

د هغوئي نه پس راتلونکو د پاره عبرت او د پرهيزګارو د پاره نصيحت اوګرځوله[1] (٦٦) او ياد کړئ چې کله موسیٰ خپل قوم ته

لِقَوْمِهٖٓ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ قَالُوْٓا اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ

اُوفرمائيل: بيشکه **الله** تاسو ته حُکم درکوي چې يوه غوا حلاله کړئ نو هغوئي اُووئيل چې آيا تاسو زمونږ سره ټوقې کوئ؟

قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا

موسیٰ اُوفرمائيل: زه د **الله** پناه غواړم د دې نه چې زه د جاهلانو نه شم[2] (٦٧) هغوئي اُووئيل: تاسو د خپل **رب**

رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا

نه دعا اوکړئ چې مونږ ته اوښائي چې هغه غوا څنګه ده؟ موسیٰ اُوفرمائيل: **الله** فرمائي چې هغه يوه داسې غوا ده چې نه بوډۍ ده او نه

بِكْرٌ ؕ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا

بالکل کم عمره ده، بلکه د دې دواړو د مينځه مينځه چې وي، نو هغه اوکړئ د څه چې تاسو ته حُکم درکولے کيږي[3] (٦٨) هغوئي اُووئيل: تاسو د

رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا لَوْنُهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ ۙ

خپل **رب** نه دُعا اوکړئ چې هغه مونږ ته اوښائي چې د هغې غوا رنګ څنګه دے؟ اُوئې فرمائيل چې **الله** فرمائي: هغه د زيړ رنګ غوا ده

فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ ﴿٦٩﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا

چې د هغې رنګ ډير پوخ دے، هغه غوا کتونکو ته خوشحالي ورکوي. (٦٩) هغوئي اُووئيل: تاسو د خپل **رب** نه دُعا اوکړئ چې زمونږ د پاره واضحه

---

حاشيه ① د دې نه معلومه شوه چې په قرآنِ پاک کښې د عذاب وا قعات زمونږ د عبرت او نصيحت د پاره بيان شوي دي لِهذا د قرآنِ پاک د حقونو نه دي چې د داسې واقعاتو او آيتونو لوستلو په ذريعه د خپلې اصلاح طرف ته هُم تَوجُّه اوکړے شي. ② پيغمبران عَلَيْهِمُ السَّلَام د دروغو، فضولو ټوقو او په چاپورې ټوقې کولو وغيره عيبونو نه پاک دي البته خوشحال طبعي [کول] يو محمود صفت دے دا په هغوئي کښې وي. ③ د نبي په فرمان باندې بغير د پس و پيش نه عمل کول پکار دي او د عمل کولو په ځائے د خپل عقل په مشورو عمل کول د بے ادبو کار دے.

هِيَ ۙ اِنَّ الْبَقَرَ تَشٰبَهَ عَلَيْنَا ؕ وَ اِنَّآ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ ﴿٧٠﴾
بیان کړي چې هغه غوا څنګه ده؟ ځکه چې بیشکه په غوا کښې مونږ ته شُبه راپریوته او که الله اوغواړي نو یقیناً مونږ به لار بیاموځو (۷۰)

قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُوْلٌ تُثِيْرُ الْاَرْضَ وَ لَا تَسْقِي الْحَرْثَ ۚ
(موسیٰ) اُوفرمائیل: الله فرمائي چې هغه یوه داسې غوا ده چې هغې نه د زمکې اړولو کارونه نه اخستے کیږي او نه پټو ته اُوبه ورکوي،

مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيْهَا ؕ قَالُوا الْـٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ؕ فَذَبَحُوْهَا وَمَا
بالکل بے عیبه ده په هغې کښې هیڅ داغ نشته ❶ (په دې باندې) هغوئي اُووئیل: اوس تاسو بالکل صحیح خبره راوړله. بیا هغوئي هغه غوا ذبح کړه حالانکه

ع ٨ ٨

كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧١﴾ ع وَ اِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادّٰرَءْتُمْ فِيْهَا ؕ وَ اللّٰهُ
هغوئي ذبح کوونکي نه ښکاریدل (۷۱) او یاد کړئ چې کله تاسو یو کس قتل کړو او بیا مو د هغې اِلزام په بل چا لګول شروع کړو حالانکه الله

مُخْرِجٌ مَّا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ﴿٧٢﴾ ۚ فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا ؕ كَذٰلِكَ
ښکاره کوونکے وو هغې لره چې تاسو پټوله. (۷۲) نو مونږه اُوفرمائیل (چې) دا مقتول د غوا په یوه ټکړه اُووهئ، هُم داسې

يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى ۙ وَ يُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٧٣﴾ ثُمَّ
به الله مړي ژوندي کوي، او هغه تاسو ته خپلې نښې ښائي چې تاسو پوهه شئ (۷۳) بیا

قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ وَ اِنَّ
د هغې نه پس ستاسو زړونه سخت شول ❷ نو هغه د کاڼړو په شان دي بلکه د هغو نه هُم زیات سخت دي او

مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ وَ اِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ
د کاڼړو نه خو څه هغه دي د کومو نه چې نهرونه بهیږي، او څه هغه دي چې کله هغه اوچوي

فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ؕ وَ اِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَ
نو اوبه ترینه را اُوځي او څه هغه دي کوم چې د الله له ویرې راغورزیږي، او

حاشیه ❶ دې نه معلومه شوه چې د شرعي احکاماتو مُتَعَلِّق بے ځایه بحث د مشقت سبب دے. ❷ دې نه معلومه شوه چې د زړه سختي ډیره خطرناکه ده.

مَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۴﴾ اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ

الله ستاسو د کړو نه هیڅ کله بے خبره نه دے (۷۴) نو اے مسلمانانو! آیا تاسو دا اُمید ساتئ چې دوئي به ستاسو له وجهې ایمان راوړي

وَقَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْۢ بَعْدِ

حالانکه په هغوئي کښې یوه ډله هغه وه چې هغوئي به د الله کلام اوریدلو او بیا به هغې د پوهیدلو

مَا عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا

باوجود به ئي قصداً [یعني اِرادَتاً] بدلولو ❶ (۷۵) او چې کله دوئي مسلمانانو سره مخامخ شي نو وائي چې مونږ ایمان

اٰمَنَّا ۚۖ وَاِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ

راوړے دے او چې کله په خپل مینځ کښې یواځې وي نو وائي: آیا د هغوئي په مخکښې هغه عِلم بیانوئ کوم چې الله په تاسو

اللّٰهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوْكُمْ بِهٖ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۷۶﴾ اَوَلَا

پرانستے دے؟ چې د هغې په ذریعه دوئي ستاسو د رب په بارګاه کښې ستاسو خلاف دلیل راوړي. آیا تاسو عقل نه لرئ؟ ❷ (۷۶) آیا دوئي

يَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۷۷﴾ وَمِنْهُمْ

په دومره خبره هُم نه پوهیږي چې الله ته معلوم دي څه چې دوئي پټوي او څه چې ښکاره کوي (۷۷) او په هغوئي کښې څه

اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۷۸﴾

النصف

بے تعلیمه دي کوم چې په کتاب نه پوهیږي خو اوریدلې خبرې یا د ځان نه څه راجوړ کړي او هغوئي صرف په خیال او ګُمان کښې پراته دي (۷۸)

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَيْدِيْهِمْ ۗ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا مِنْ

نو بربادي ده د هغه خلقو د پاره څوک چې په خپلو لاسو کتاب لیکي، بیا وائي: دا

---

حاشیه ❶ د دې نه معلومه شوه چې د عالِم خرابیدل د عوامو د خرابیدلو نه زیاته تباهي راولي ځکه چې عوام عُلماء خپل هادي او رهنما ګڼري، هغوئي د علماء په اقوالو عمل کوي او د هغوئي افعال دلیل جوړوي او چې کله د عُلماء په عقائدو او اعمالو کښې خرابي پیدا شي نو عوام به د هدایت په لاره څنګه روان شي. ❷ د دې نه معلومه شوه چې حق پټول او د حُضُور سیِّدِ دوعالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اَوصاف پټول او د هغوئي د کمالاتو انکار کول د یهودیانو طریقه ده.

عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ فَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ

د خُدائے له طرفه دے، د پاره د دې چې د هغې په بدل کښې لږ شان قِیمت حاصل کړي نو هلاکت دے د هغوئي د پاره د هغوئي د لاسو

اَيْدِيْهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ۝٧٩ وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ

د ليکلو په وجه او د هغوئي د پاره د هغوئي [د بدو اعمالو] د ګټلو په وجه تباهي اوبربادي ده (٧٩) او هغوئي اُووئيل: مونږ ته به وور نه رسيږي خو

اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً ؕ قُلْ اَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللّٰهِ عَهْدًا فَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ

د شمير يو څو ورځې. اے حبيبه! ته اوفرمايه: آيا تاسو د خُدائے نه څه وعده اخستې ده؟ (که داسې وي، نو بيا) اللّٰه به هيڅ کله

عَهْدَهٗۤ اَمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٨٠ بَلٰى مَنْ كَسَبَ

وعده خلافي نه کوي بلکه تاسو په اللّٰه پورې هغه خبره کوئ چې د کومې تاسو عِلم نه لرئ (٨٠) ولې نه چا چې ګناه

سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓئَتُهٗ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا

اوکړه ١ او خپلو خطاګانو کير کړو ٢ نو هُم دغه خلق دوزخيان دي، هغوئي به هميشه

خٰلِدُوْنَ ۝٨١ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

په هغې کښې اوسي (٨١) او چا چې ايمان راوړو او ښه کارونه ئې اوکړل هغوئي

ع ٩ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝٨٢ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

جنّتيان دي هغوئي به په هغې کښې هميشه اوسي (٨٢) او ياد کړئ چې کله مونږ د بني اِسرائيلو نه وعده واخستله

لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ ۟ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّذِي الْقُرْبٰى وَ

چې د اللّٰه نه سِوا بل د هيڅ چا عبادت مه کوئ، او مور و پلار سره ښيګړه کوئ او خپلوانو او

---

حاشيه ١ په دې آيت کښې د ګناه نه مُراد کُفر و شِرک دے. ٢ د اِحاطه کولو نه مراد دا دے چې د چا د پاره د نجات تولې لارې بندې شي او په کُفر او شِرک باندې ئې مرګ راشي.

الْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

يتيمانو او مِسكِينانو سره (ښه سُلُوک کوئ) او خلقو سره ښه خبره کوئ (۱) او لمونځ قائم ساتئ

وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْكُمْ وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٨٣﴾

او زکوٰة ورکوئ (خو) بيا په تاسو کښې ديو څو کسانو نه علاوه ټول اوګرځېدل او تاسو (هُم دغسې د الله د احکاماتو نه) مخ ګرځوونکي يئ (۲) (۸۳)

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُوْنَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ

او ياد کړئ چې کله مونږه تاسو نه وعده واخستله چې په خپل مينځ کښې د يو بل وِينې مه تويوئ او خپل خلق د خپلو

مِّنْ دِيَارِكُمْ ثُمَّ اَقْرَرْتُمْ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ اَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ

استوګنو [آبادو] نه مه اوباسئ، بيا تاسو اِقرار هُم اوکړو او تاسو (ښکپله د هغې) ګواهان يئ (۸۴) بيا هُم دا تاسو يئ چې

تَقْتُلُوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَتُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا مِّنْكُمْ مِّنْ دِيَارِهِمْ ز

خپل خلق مو قتل کول شروع کړل او په خپلو کښې مو يوه ډله د وطن نه ويستل (هُم) شروع کړه،

تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ؕ وَاِنْ يَّاْتُوْكُمْ اُسٰرٰى تُفٰدُوْهُمْ

تاسو د هغوئي خلاف د ګناه او زياتي په کارونو کښې مدد (هُم) کوئ او که هغوئي قيديان کړے شوي تاسو ته راشي نو تاسو ئي په فِديه ورکولو

وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ ؕ اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ

راخلاصوئ [هُم]، حالانکه په تاسو خو د هغوئي ويستل هُم حرام دي. نو آيا تاسو د الله بعضې احکام منئ

وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ مَنْ يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا خِزْيٌ فِي

او د بعضو نه انکار کوئ؟ (۳) نو په تاسو کښې چې څوک داسې اوکړي د هغه بدله په دُنياوي ژوند کښې د ذِلَّت او رُسوائي

---

حاشيه (۱) ښې خبرې نه مُراد د نيکئ دعوت ورکول او د بدو نه منع کول دي. د نيکئ دعوت ورکولو کښې د هغې ټولې طريقے شاملې دي، لکه بيان کول، درس ورکول، وعظ و نصيحت کول وغيره. (۲) د دې نه معلومه شوه چې د الله پاک د احکاماتو نه مخ اړول او د هغه وعده ماتول د بني اِسرائيلو عادت وو. (۳) د دې آيت نه معلومه شوه چې د شريعت په ټولو احکاماتو باندې ايمان ساتل ضروري دي او په ټولو ضروري احکاماتو عمل کول هُم ضروري دي. هيڅ څوک يو وخت هُم د شريعت د پابندئ نه نه شي آزاديدلے او ځان ته د طريقت په نوم يا په بله هره طريقه د شريعت نه آزاد وئيلو والا کافِر دي.

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ اِلٰٓى اَشَدِّ الْعَذَابِ ؕ وَمَا

نه سِوا بله څه ده ١ او د قيامت په ورځ به هغوئي سخت ترين عذاب ته ګرځولے کيږي، او

اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ

الله ستاسو د اعمالو نه بے خبره نه دے (٨٥) هُم دا هغه خلق دي کومو چې د آخرت په بدله کښې د دُنيا

ع ١٠

الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ۫ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٨٦﴾ ع

ژوند [په بيعه] واخستو، نو نه خو به د هغوئي عذاب کمولے کيږي او نه به د هغوئي مدد کيږي (٨٦)

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ ۫ وَ

او بيشکه مونږه موسیٰ ته کتاب ورکړو او د هغې نه پس مو پرله پسې رسولان اوليږل، او

اٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ

مونږه عيسیٰ بن مريم ته ښکاره نښې ورکړې او د پاک رُوح په ذريعه مو د هغوئي مدد اوکړو ٢

اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ ۚ

نو (اے بني اِسرائيلو!) آيا (ستاسو دا معمول نه دے؟) چې کله به تاسو ته يو رسول د داسې احکامو سره تشريف راوړولو کوم به چې ستاسو زړونو نه خوښول

فَفَرِيْقًا كَذَّبْتُمْ ۫ وَفَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ ﴿٨٧﴾ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ

نو تاسو به تکَبُّر اوکړو، بيا به مو (د هغو انبياء نه) يو ډله دروغژنه ګڼړله او يو ډله به مو شهيدان کول (٨٧) او يهوديانو اُووئيل: زمونږ په زړونو پردے

بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيْلًا مَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٨٨﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمْ

پرتے دي بلکه الله د هغوئي د کُفر په وجه په هغوئي لعنت کړے دے نو د هغوئي نه لږ شان خلق ايمان راوړي (٨٨) او چې کله هغوئي له

---

حاشيه ١ د دې نه معلومه شوه چې د چا په طرفدارئ کښې د دِين مخالفت کول د اُخروي عذاب نه علاوه په دُنيا کښې هُم د ذِلّت او رُسوائي سبب وي. ٢ الله تعالىٰ د حضرتِ عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مدد د حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام په ذريعه اوکړو. معلومه شوه چې د الله تعالىٰ محبوب بندګان مدد کولے شي.

كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ۙ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ

د الله هغه كتاب راغلو كوم چې هغوئي سره د (موجود) كتاب تصديق كوونكے دے او د دې نه مخكښې به دوئي د هُم دې

يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا

نبي په وسيله د كافرو خلاف فتح غوښتله، نو چې كله هغوئي ته هغه نبي تشريف راوړلو چې دوئي پيژندلو نو د هغه انكار ئې

بِهٖ ۫ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾ بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ

اوكړو نو د الله لعنت دې وي په انكار كوونكو باندې (٨٩) هغوئي د خپلو ځانونو څومره بده سودا اوكړه

اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ

چې الله څه نازل كړي دي د هغې انكار كوي ١ د دې حسد په وجه ٢ چې الله په خپل فضل سره په كوم

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ

بنده غواړي وحي نازلوي نو دوئي د غضب د پاسه د غضب مستحق شولو او د كافرو د پاره د

عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٩٠﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا

ذِلّت عذاب دے (٩٠) او چې كله هغوئي ته اُووئيل شي چې په هغې ايمان راوړئ څه چې الله نازل كړي دي نو وائي: مونږ صرف په

نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ ۗ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا

هغې ايمان راوړو كوم چې په مونږه نازل كړے شوي دي او هغوئي د تورات نه علاوه د نورو انكار كوي حالانكه هغه (قرآن) هُم حق دے، هغوئي سره

لِّمَا مَعَهُمْ ؕ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْۢبِيَآءَ اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ

د موجود (كتاب) تصديق كوونكے دے. اے محبوبه! ته اوفرمايه چې (اے يهوديانو!) كه تاسو ايمان والا وئ نو مخكښې تاسو د الله نبيان ولے

---

حاشيه ١ د دې نه دې هر انسان نصيحت حاصل كړي چې د ايمان په ځائے كُفر، د نيكو په ځائے گُناه، د اطاعت په ځائے نافرماني او د رضائے اِلٰهي په ځائے د الله تعالٰی د غضب سودا ډيره د خسارے سودا ده. ٢ د دې نه معلومه شوه چې د منصب او مرتبے طلب پيدا كيدل د انسان په زړه كښې د حسد پيدا كيدلو يو سبب دے او دا هُم معلومه شوه چې حسد داسې خبيث مرض دے چې دا انسان كُفر ته هُم رسولے شي.

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٩١﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ

شهيدان كول؟ [١] (٩١) او بيشكه تاسو ته موسیٰ روښانه نښو سره تشريف راوړے وو بيا تاسو د هغې نه پس سخے

مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا

معبود جوړ كړو او تاسو ظالـمان وئ (٩٢) او ياد كړئ چې كله مونږه تاسو نه وعده واخستله او طُور غر مو ستاسو د سرونو

فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاسْمَعُوْا ؕ قَالُوْا سَمِعْنَا وَ

دپاسه اوچت كړو (او مونږه اُوفرمائيل چې) مضبوط اونيسئ هغه (كتاب) كوم چې مونږ تاسو ته عطا كړے دے او واورئ. [٢] هغوئي اُووئيل: مونږه واوريدل

عَصَيْنَا ۗ وَاُشْرِبُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ؕ قُلْ بِئْسَمَا

او اُومو نه منل او د هغوئي د كُفر په وجه د هغوئي په زړونو كښې سخے [يعني د سخې محبت] پريوتلے وو. اے محبوبه! ته اووايه: كه تاسو

يَاْمُرُكُمْ بِهٖٓ اِيْمَانُكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٩٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَتْ

ايمان والا ئې نو ستاسو ايمان تاسو ته څومره بد حُكم دركوي (٩٣) اے محبوبه! ته اُووايه: كه د آخرت

لَكُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ

كور نورو خلقو د پاره نه دے او د اللّٰه په نِزد خالص ستاسو د پاره دے

فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٩٤﴾ وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَدًۢا بِمَا

نو كه تاسو رښتيني ئې نو د مرګ خواهش خو اوكړئ [٣] (٩٤) او د خپلو بدو اعمالو په وجه به دوئي كله هُم

---

حاشيه [١] د حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زمانے بـني اِسرائيلو نبيان نه وو شهيدان كړي خو ولې چې دوئي د قاتلانو په دې حركت راضي وو او هغوئي ئې خپل مشران ګنړل او هغوئي به ئې په عَظَمت [او احترام] سره يادول څكه دوئي هُم په قاتلانو كښې اوشميرلے شول. [٢] د دې آيت نه معلومه شوه چې د اللّٰه پاک په كتاب باندې د ايمان راوړلو مطلب دا دے چې د دې په ټولو احكاماتو او ټولو تقاضو باندې عمل اوكړے شي او د دې خلاف ورزي اونكړے شي. [٣] د مرګ محبَّت او د اللّٰه پاک د ملاقات شوق د مقبولو بندګانو طريقه ده البته د دُنياوي پريشانو نه د تنګيدلو په وجه د مرګ دعا كول د صبر و رضا و تسليم و تَوَكُّل خلاف او ناجائزه دي.

قَدَّمَتۡ اَيۡدِيۡهِمۡ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌۢ بِالظّٰلِمِيۡنَ ﴿۹۵﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمۡ اَحۡرَصَ

د مرګ خواهش اونکړي او الله ظالمان ډیر ښه پیژني (۹۵) او بیشکه ته به ضرور هغوئي اُومومي چې د ټولو

النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ ۛۚ وَمِنَ الَّذِيۡنَ اَشۡرَكُوۡا ۛۚ يَوَدُّ اَحَدُهُمۡ لَوۡ يُعَمَّرُ

خلقو نه زیات د ژوند حِرص لري، او د مُشرکانو نه یوه (ډله) خواهش کوي چې هغوئي ته

اَلۡفَ سَنَةٍ ۚ وَمَا هُوَ بِمُزَحۡزِحِهٖ مِنَ الۡعَذَابِ اَنۡ يُّعَمَّرَ ؕ وَاللّٰهُ

زر کاله ژوند ورکړے شي ❶ حالانکه دومره عمر ورکول به هُم هغه د عذاب نه بچ نه کړے شي، او الله

بَصِيۡرٌۢ بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۶﴾ ع قُلۡ مَنۡ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبۡرِيۡلَ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ

د هغوئي ټول اعمال ډیر ښه وِیني (۹۶) اے محبوبه! ته اُووایه: څوک چې د جِبرِیل دُښمن وي (نو وي دې) پس بیشکه هغه خو ستاسو

عَلٰى قَلۡبِكَ بِاِذۡنِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَهُدًى وَّبُشۡرٰى

په زړه باندې د الله په حُکم دا نازل کړے دے، کوم چې د ځان نه مخکښینو موجودو کتابونو تصدیق کوونکے دے او د ایماندارو د پاره

لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۹۷﴾ مَنۡ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَ

هدایت او زیرے دے (۹۷) هر څوک چې د الله او د هغه د فرښتو او د هغه د رسولانو او

جِبۡرِيۡلَ وَمِيۡكٰلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۹۸﴾ وَلَقَدۡ اَنۡزَلۡنَاۤ

د جبرائیل او مِیکائیل دُښمن وي نو الله د کافرانو دُښمن دے❷ (۹۸) او بیشکه مونږه ستاسو طرف ته

اِلَيۡكَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۚ وَمَا يَكۡفُرُ بِهَاۤ اِلَّا الۡفٰسِقُوۡنَ ﴿۹۹﴾ اَوَكُلَّمَا عٰهَدُوۡا

روښانه آیتونه نازل کړل او د هغې انکار صرف نافرمانه خلق کوي (۹۹) او چې کله هغوئي څه وعده کړې ده

معانقه ٢

=ن ل=

حاشیه ❶ کُفّار د دُنیوي ژوند حِرص لري او د مرګ نه ډیر تښتي، او د مُؤمِن شان دا دے چې که هغه ژوند غواړي نو صرف د دې د پاره چې ډیرې نیکۍ اوکړي او د آخرت توښه جمع کړي. ❷ د دې نه معلومه شوه چې انبیاء کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام او فرښتو سره دُښمني کول کفر او د غضبِ اِلٰهی سبب دے او محبوبانِ حق سره دُښمني کول الله پاک سره دُښمني کول دي.

عَهۡدًا نَّبَذَهٗ فَرِيۡقٌ مِّنۡهُمۡ ؕ بَلۡ اَكۡثَرُهُمۡ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۰۰﴾ وَلَمَّا

نو په هغوئي کښې يوې ډلې هغه وعده غوزار کړې ده بلکه په هغوئي کښې اکثر خو هډو منې نه (۱۰۰) او چې کله

جَآءَهُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيۡقٌ مِّنَ

هغوئي ته د الله يو رَسُول تشريف راوړو کوم چې د هغوئي د کتابونو تصديق کوونکے دے نو د اهلِ کتاب نه

الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡكِتٰبَ ۙ كِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوۡرِهِمۡ كَاَنَّهُمۡ

يوې ډلې د الله کتاب داسې شا ته غوزار کړو لکه هغوئي چې هډو

لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۰۱﴾ وَاتَّبَعُوۡا مَا تَتۡلُوا الشَّيٰطِيۡنُ عَلٰى

په هيڅ نه پوهيږي ❶ (۱۰۱) او هغوئي د سليمان په عهدِ حکومت کښې په هغه جادو پسې شولو کوم به

مُلۡكِ سُلَيۡمٰنَ ۚ وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيۡنَ

چې شيطانانو لوستو او سليمان کُفر نه دے کړے ❷ بلکه شيطانان

كَفَرُوۡا يُعَلِّمُوۡنَ النَّاسَ السِّحۡرَ ۗ وَمَآ اُنۡزِلَ عَلَى الۡمَلَكَيۡنِ

کافران شول چې هغوئي به خلقو ته جادو زده کولو او (هغوئي په هغه جادو پسې هُم وريسې شوي وو) کوم چې په بابل ښار کښې په

بِبَابِلَ هَارُوۡتَ وَمَارُوۡتَ ؕ وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنۡ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوۡلَاۤ

دوو فرښتو هارُوت او ماروُت ❸ باندې نازل کړے شوے وو او هغوئي دواړو به تر هغې پورې چا ته څه نه زده کول تر څو پورې به ئې چې ورته دا نه وو

اِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٌ فَلَا تَكۡفُرۡ ؕ فَيَتَعَلَّمُوۡنَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُوۡنَ بِهٖ

وئيلي چې مونږ خو صرف (د خلقو) امتحان يُو نو (اے خلقو!) تاسو خپل ايمان مه ضائع کوئ، هغه خلق به د هغو فرښتو نه داسې جادو زده کولو چې د هغې

---

حاشيه ❶ يهوديانو به د توريت ډير تعظيم کولو خو چې په حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې ايمان رانوړو نو په توريت ئې عمل اونکړو لکه هغه ئې چې شا ته غوزار کړو. ❷ خلقو په حضرتِ سليمان عَلَيۡهِ السَّلَام باندې د جادُو تُهمت لګولے وو، دلته د هغې رَد شوے دے. ❸ هاروت او ماروت دوه فرښتې دي او فرښتې د ګناهونو نه معصومې وي، د هغوئي په باره کښې مشهورې قيصے يهوديانو د ځانه راجوړې کړې دي دا غلطې او باطلې دي.

بَيْنَ الْمَرْءِ وَ زَوْجِهٖ ؕ وَ مَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

په ذريعه په ښځه او خاوند کښې جُدائي راولي حالانکه هغوئي د هغې په ذريعه چا ته د **الله** د حُکم نه بغير هيڅ نقصان نه شو رسَولے ❶

وَ يَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَ لَا يَنْفَعُهُمْ ؕ وَ لَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ

او هغوئي داسې څيز زده کولو چې هغه هغوئي [خلقو] ته نقصان اُورسوي ❷ او هغوئي ته فائده ورنکړي او يقيناً هغوئي ته معلومه ده چې چا دا سَودا اخستې

مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ؕ قف وَ لَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖۤ اَنْفُسَهُمْ ؕ لَوْ

ده په آخرت کښې د هغه هيڅ حِصّه نشته او هغوئي د خپلو ځانونو خومره بده سودا کړې ده، څنګه به

كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠٢﴾ وَ لَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَ اتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ

ښه وے که هغوئي پوهيدلے (۱۰۲) او که هغوئي ايمان راوړے وے او پرهيزګاري ئې اختيار کړے وے نو د **الله** له طرفه

ع ١٢ ٧ ١٢ اللّٰهِ خَيْرٌ ؕ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٠٣﴾ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا

ثواب ډير ښه دے، که هغوئي پوهيدلے (۱۰۳) اے ايمان والؤ! راعِنا مه

رَاعِنَا وَ قُوْلُوا انْظُرْنَا وَ اسْمَعُوْا ؕ وَ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٠٤﴾

وائے او داسې عرض کوئ چې حُضُور په مونږ نظر [کرم] اوفرمائے ❸ او د مخکښې نه په غور سره اورئ او د کافرانو د پاره دردناک عذاب دے. (۱۰۴)

مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَ لَا الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يُّنَزَّلَ

(اے مسلمانانو!) نه خو د اهلِ کتاب کافران غواړي او نه مشرکان دا غواړي چې په تاسو باندې

---

حاشيه ❶ مؤثر حقيقي **الله** پاک دے او د اسبابو تاثِير د **الله** تعالیٰ د مَشِيّت يعني غوښتلو لاندې دے، يعني چې **الله** پاک اوغواړي نو هله يو څيز اثر کولے شي، او که **الله** تعالیٰ اُونه غواړي نو نه وور سيزل کولے شي، نه اُوبه تنده ماتولے شي او نه دارو شِفا ورکولے شي. ❷ چې په جادو کښې د نقصان تاثِير شته نو په قرآني آيتونو کښې ضرور د شِفاء تاثير شته دے، هُم دغسې چې کُفَّار د جادو په ذريعه نقصان رسَولے شي نو د **الله** تعالیٰ بندګان هُم د کرامت په ذريعه فائده رسَولے شي. ❸ د دې آيت نه معلومه شوه چې د انبياء کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام تعظيم و توقِير کول او د هغوئي په جناب کښې د ادب لحاظ ساتل فرض دي او په کوم ټکي کښې چې د ترکِ ادب [يعني ادب پريښودو] معمولي شان شک وي هغه په خله راوړل ممنوع دي. او دا هُم معلومه شوه چې د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بارګاه ادب **رَبُّ الْعٰلَمِين** پخپله ښائي او د تعظيم مُتَعَلِّق احکام پخپله جاري فرمائي.

عَلَيْكُمْ مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ط وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ

ستاسو د رب له طرفه څه خير نازل کړے شي،حالانکه الله چې د چا د پاره غواړي هغه خپل رحمت سره

يَّشَآءُ ط وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿١٠٥﴾ مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ

خاص کړي، او الله لوئے فضل والا دے (١٠٥) چې کله مونږه کوم يو آيت منسوخ کړُو ❶ يا ئې

نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ط اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

د خلقو نه هير کړو نو د هغې نه بهتر يا د هغې په شان بل آيت راوړو. (اے مخاطبه!) آيا تا ته نه ده معلومه چې الله

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٠٦﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط

په هر څيز قادِر دے (١٠٦) آيا تا ته نه ده معلومه چې د آسمانونو او زمکې بادشاهي صرف د الله لپاره ده،

وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١٠٧﴾ اَمْ تُرِيْدُوْنَ

او د الله په مقابله کښې نه څوک ستاسو حمايتي شته او نه مددګار ❷ (١٠٧) آيا تاسو دا غواړئ

اَنْ تَسْـَٔلُوْا رَسُوْلَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ط وَمَنْ

چې تاسو د خپل رَسُول نه هُم هغسې تپوسونه اوکړئ څنګه چې د دې نه مخکښې د موسیٰ نه شوي وو او څوک چې

يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿١٠٨﴾ وَدَّ

د ايمان په بدله کښې کُفر اختيار کړي نو هغه د نيغې لارې نه بے لارې شو (١٠٨) د اهلِ

كَثِيْرٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِكُمْ

کتاب نه ډيرو خلقو دا اُوغوښتل چې کاش هغوئ تاسو د ايمان نه پس کُفر طرف ته

---

حاشيه ❶ د نسخ معنیٰ ده: سابقه حُکم د کوم وروستي دليلِ شرعي په ذريعه اوچتول [يعني بدلول] او دا په حقيقت کښې د سابقه حُکم د ميعاد ختميدلو بيان وي. ❷ د الله تعالیٰ په مقابله کښې هيڅ څوک د چا مدد نه شي کولے، خو د الله تعالیٰ په اجازت او اختيار ورکولو مدد کيدے شي، په قرآن و حديث کښې د دې ډير مثالونه موجود دي او د بُزرګان دِين مدد کول د لکونو خلقو د تجربے او تَواتُر نه ثابت دي.

الثلثة

كُفَّارًا ۚۖ حَسَدًا مِّنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۚ
اوګرځوي ❶ د خپل زړه د حسد په وجه پس د دې نه چې په هغوئي باندې حق پوره پوره ښکاره شوے دے.
فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
نو تاسو (هغوئي) پريږدئ او (هغوئي ته) مُعافي کوئ تر دې چې الله خپل حُکم راوړي بيشکه الله په هر څيز
قَدِيْرٌ ﴿۱۰۹﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ وَمَا تُقَدِّمُوْا
قادِر دے (۱۰۹) او لمونځ قائم ساتئ او زکوٰة ورکوئ، او د خپلو ځانونو د پاره چې تاسو کومه ښيګړه
لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ
مخکښې ليږئ هغه به د الله په دربار کښې مومئ، بيشکه الله ستاسو ټول کارونه
بَصِيْرٌ ﴿۱۱۰﴾ وَقَالُوْا لَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ كَانَ هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ؕ
ويني (۱۱۰) او اهلِ کتابو اُووئيل: بالکل به جَنَّت ته نه داخليږي مګر هُم هُغه، څوک چې يهودي وي يا عيسائي وي.
تِلْكَ اَمَانِيُّهُمْ ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ بَلٰى ۗ
دا د هغوئي د ځانه راجوړ کړي خواهشات دي. [اے حبيبه!] ته اوفرمايه: که تاسو رښتيني ئې نو خپل دليل راوړئ (۱۱۱) آو ولې نه؟
مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗٓ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۠ وَلَا
چا چې خپل مخ د الله د پاره ښکته کړو او هغه نيکي کوونکے هُم وي نو د هغه اجر د هغه د رب سره دے ❷ او په
خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ ع وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ
هغوئي به نه څه ويره وي او نه به غمژن کيږي (۱۱۲) او يهوديانو اُووئيل: عيسائيان

ع ۱۳ / ۱۴

حاشيه ❶ د دې نه معلومه شوه چې حسد ډير لوئے عيب دے او د دې په وجه انسان ځپله هُم د نيکئ نه منع شي بلکه د نورو خلقو هم د نيکو نه د منع کولو کوشش کښې مصروفه شي. ❷ په جَنَّت کښې د داخليدلو حقيقي معيار صحيح ايمان او صالِح عمل دے او که د هرې زمانے او هر نسل او قوم انسان صحيح ايمان او عمل لري نو هغه به جَنَّت ته ځي. البته دا ياد ساتئ چې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اعلانِ نُبوَّت نه پس د دوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُبوَّت نه منلو والا [يا دوئي آخري نبي نه منلو والا] کس ايمان قطعاً صحيح نه شي کيدے او يو عمل هُم د ايمان نه بغير صالِح نه شي کيدے.

النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۪ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ وَّ

په هيڅ خيز نه دي او عيسائيانو اُووئيل: يهوديان په هيڅ خيز نه دي حالانکه

هُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ مِثْلَ

هغوئي کتاب لوَلي، هُم دغسي جاهلانو د هغه (مخکښينو) په شان

قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ

خبره اوکړه نو الله به د قيامت په ورځ په دوئي کښي د دي خبرې فيصله اوکړي په کومه کښي چي دوئي

يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ

جګړه کوله (۱۱۳) او د هغه نه زيات ظالِم به څوک وي چي د الله په جُماتونو کښي د دي خبرې نه منع کول کوي چي په هغي

فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى فِيْ خَرَابِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ

کښي د الله نوم واخستے شي ❶ او د هغي د خرابولو کوشش اوکړي ❷ هغوئي له جُماتونو ته

يَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا خَآئِفِيْنَ ؕ۬ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

داخليدل مناسب نه وو خو په ويره ويره. د هغوئي د پاره په دُنيا کښي رُسوائي ده او د هغوئي د پاره په آخرت کښي

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۱۴﴾ وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۗ فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ

لوئے عذاب دے (۱۱۴) او مشرق او مغرب ټول د الله دي نو تاسو چي کوم طرف ته مخ کړئ هُم هلته د الله رحمت ❸ ستاسو طرف

وَجْهُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۱۵﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۙ

ته مُتوَجِّه دے، بيشکه الله د فراخئ والا عِلم والا دے (۱۱۵) اومُشرکانواُووئيل: الله د ځان د پاره اولاد جوړ کړے دے

---

حاشيه ❶ د ذِکرُالله نه منع کول په هر ځائے کښي بد دي خو په جُماتونو کښي خصوصاً زيات بد دي ځکه چي هغه خو صرف د هُم دي کار د پاره جوړيږي. ❷ جُمات په هره طريقه شړَولو والا ظالِم دے. د دي مُتعَلِّق نور تفصيل د پاره په تفسير صِراطُ الْجِنان ج۱، ص۱۹۴ کښي مذکور کلام اولوَلئ. ❸ د وَجْهُ الله لُغوي ترجمه ده: "د الله مخ" مخلوق چي څنګه مخ لري الله تعالیٰ د هغه شان مخ نه پاک دے لِهذا دا د مُتشابهاتو نه دي، د دي په مُراد الله پاک ښه پوهيږي.

سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ لَّهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿١١٦﴾

هغه پاک ذات دے، بلکه څه چې په آسمانونو او زمکه کښې دي ټول د هغه په مِلکِيت کښې دي. ټول د هغه په وړاندې سرونه ښکته کړي دي (١١٦)

بَدِیْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاِذَا قَضٰۤی اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ كُنْ

(هغه) بغير د څه سابقه مثال نه آسمانونه او زمکه نوي پيدا کوونکے دے ١ او چې کله هغه ديو کار (کولو) فيصله اوکړي نو هغې ته صرف دا فرمائي

فَیَكُوْنُ ﴿١١٧﴾ وَقَالَ الَّذِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ لَوْلَا یُكَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوْ

چې "اوشه" نو هغه فوراً اوشي ٢ (١١٧) او جاهلانو اُووئيل: **الله** مونږ سره ولې خبرې نه کوي يا

تَاْتِیْنَاۤ اٰیَةٌ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ؕ

مونږ له څه نښه ولې نه راځي. د دوئي نه مخکښې خلقو هُم داسې خبره کړې وه،

تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ قَدْ بَیَّنَّا الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یُّوْقِنُوْنَ ﴿١١٨﴾ اِنَّاۤ

نو د هغوئي زړونو په خپل مينځ کښې يو شان شو. ٣ بيشکه مونږه يقين کوونکو د پاره ښکاره ښکاره نښې بيان کړې (١١٨) اے حبيبه! بيشکه مونږه

اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِیْرًا وَّنَذِیْرًا ۙ وَّلَا تُسْـَٔلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِیْمِ ﴿١١٩﴾

ته په حقه زيرے ورکوونکے او د ويرولو خبرونه ورکوونکے اُوليږلې او ستا نه به د دوزخيانو په باره کښې تپوس نه کيږي (١١٩)

وَلَنْ تَرْضٰی عَنْكَ الْیَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰی حَتّٰی تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ؕ قُلْ

او يهوديان او عيسائيان به هيڅ کله تاسو نه راضي نه شي تر څو چې تاسو د هغوئي د دِين تابعداري اونکړئ ٤ ته اوفرمايه:

---

حاشيه ١ د بديع معنیٰ ده کوم څيز بغير د يو سابقه مثال نه جوړوونکے. د **الله** پاک د دې آسمانونو او زمکې جوړولو نه مخکښې نه بل آسمان وو او نه زمکه نو **الله** تعالیٰ په نوې طريقه دا د عدم نه وجود کښې راوستل. ٢ ياد ساتئ چې **الله** تعالیٰ په يو کار کښې هُم د هيڅ چا مُحتاجه نه دے او د **الله** تعالیٰ د مختلفو کارونو د پاره د فرښتو مقررول حِکمت دے حاجت نه دے. ٣ کُفَّارو سره معاشرت [ناست ولاړه، کور و کلے کول]، او په لِباس او وضع قطع [طور طريقه] کښې مشابهت کول هم منع دي ځکه چې ظاهر د باطن علامت وي او د ظاهر په باطِن باندې اثر کيږي. ځکه د کفارو د طور طريقے نه لرې اوسيدل پکار دي چې د هغوئي ظاهر د مسلمانانو باطِن مُتأَثِّره نه کړي. ٤ د دې آيت نه دا هم معلوميږي چې کُفار په مجموعي حيثيت کله هم د مسلمانانو نه نه شي راضي کيدے اګر که ظاهري طور کله حالات مختلف شي. افسوس چې د زرګاؤ تجرباتو باوجود مسلمانان عِبرت نه اخلي.

إِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ الَّذِي

د الله هدايت حقيقي هدايت دے او (اے مخاطبه!) كه تا له د عِلم راتلو نه پس هم ته د هغوئي د خواهشاتو

جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١٢٠﴾ اَلَّذِيْنَ

تابعداري اوكړې ❶ نو ستا د پاره به د الله نه بچ كولو والا هيڅ څوك نه وي او نه به دې څوك مددګار وي (١٢٠) هُغه خلق

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ

چا ته چې مونږ كتاب وركړے دے نو هغوئي د هغې تلاوت كوي څنګه چې د تلاوت كولو حق دے ❷ هُم دا خلق په دې ايمان لري،

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٢١﴾ ع يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا

او څوك چې د دې انكار اوكړي نو هُم هغوئي نقصان اوچتوونكي دي (١٢١) اے د يعقوب اولاده! زما احسان

نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٢٢﴾ وَ

ياد كړئ ❸ كوم چې ما په تاسو كړے وو او هُغه چې ما د هُغې زمانے په ټولو خلقو تاسو ته فضيلت دركړے وو (١٢٢) او

اتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا

د هغه ورځې نه اُويَريږئ چې كله به يو نفس د بل نفس له طرفه هيڅ بدله نه وركوي او نه به ترينه څه معاوضه اخستے

عَدْلٌ وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذِ ابْتَلٰٓى

كيږي او نه به كافِر ته سفارش فائده وركوي او نه به د هغوئي مدد كيږي (١٢٣) او ياد كړئ چې كله

وقف منزل — ع ١٤ ١٤

---

حاشيه ❶ دلته خطاب نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نه دے بلكه د دې آيت اوريدونكي هر مخاطب ته دے يا بيا په ظاهره خطاب نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دے خو مُراد د هغوئي اُمت دے ځكه چه هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اهلِ كتاب پيروي نه شي كولے. ❷ د دې نه دا معلومه شوه چې د كتابُ الله ډير زيات حُقوق هُم دي. د قرآن حق دا دے چې د دې تعظيم اوكړے شي، دې سره محبت اوكړے شي، په دې ايمان اُوساتلے شي، په دې عمل اوكړے شي او نورو خلقو ته اُورسولے شي. ❸ د الله تعالىٰ د نعمتونو ډيره ډيره تذكره كول د شُكر يو قِسم دے. لِـهذا د حُضورِ اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادَت مبارك تذكِره كول يا د هغې محفل كول په هُم دې قِسم كښې داخل دي.

اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ؕ قَالَ اِنِّيْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ؕ

ابراهيم د هغه **رب** ديو څو خبرو په ذريعه په ازميښت کښې واچولو نو هغه، هغه پوره کړې، **(الله)** اُوفرمائيل: زه تا لره د خلقو پيشوا جوړوونکے يم ①

قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ؕ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٢٤﴾ وَاِذْ

(ابراهيم عرض اوکړو:) او زما د اولاد نه هُم. **[الله]** اوفرمائيل: زما وعده ظالمانو ته نه رسي (١٢٤) او (ياد کړه)

جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ؕ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ

چې کله مونږه دا کور د خلقو د پاره مرجع او امان جوړ کړو او (اے مسلمانانو!) تاسو د ابراهيم د اودريدلو ځائے

اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ وَعَهِدْنَا اِلٰى اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ اَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ

د لمانځه مقام جوړ کړئ ② او مونږه ابراهيم او اسماعيل ته تاکيد اوکړو چې زما کور د طواف کوونکو

لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْعٰكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿١٢٥﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ

او اعتکاف کوونکو او رکوع سُجُود کوونکو د پاره ښه پاک او صفا ساتئ ③ (١٢٥) او ياد کړئ چې کله ابراهيم عرض اوکړو:

رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ اٰمَنَ

اے زما رَبه! دا ښار امن والا جوړ کړې او په دې کښې اوسيدونکو ته کوم چې په **الله** او په ورځ د آخرت ايمان لري

مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيْلًا ثُمَّ

هغوئې ته د مختلفو ميوو رزق ورکړې. ④ **(الله)** اوفرمائيل: او چې څوک کافِر وي نو زه به هغه هُم د لږې شان مودے د پاره فائده اوچتولو ته پريږدم بيا به

---

حاشيه ① د دې نه معلومه شوه چې شرعي احکام او تکليفونه د **الله** تعالیٰ له طرفه ازميښت وي او څوک چې په دې ازميښتونو کښې پوره کامياب شي هغه د دُنيا او آخرت د انعاماتو مُستحق جوړ شي. ② د دې نه معلومه شوه چې کوم کاڼړي ته د نبي د قدمونو ښکلولو شرف حاصل شي هغه عَظَمت لرونکے شي. دا هُم معلومه شوه چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام تعظيم د توحيد خلاف نه دے ځکه چې د مقامِ ابراهيم احترام خو په عين لمانځه کښې کيږي. ③ د دې نه معلومه شوه چې خانه کعبه او مسجِدِ حرام شريف دې د حاجيانو، عُمره کوونکو، طواف کوونکو او اعتکاف والؤ او لمونځ کوونکو د پاره پاک او صفا اوساتلے شي، هُم دا حُکم د جُماتونو پاک او صفا ساتلو دے. ④ حضرتِ ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د خانه کعبے [يعني مکّے مُکَرَّمے] د پاره د رِزق د زياتوالي دُعا غوښتي وه، د هغه دُعا قبوليت هر کس په خپلو سترګو ليدلے شي چې د ټولې دُنيا ميوے او خوراکونه دلته ډير زيات ملاويږي.

اَضۡطَرُّهٗۤ اِلٰی عَذَابِ النَّارِ ؕ وَبِئۡسَ الۡمَصِيۡرُ ﴿۱۲۶﴾ وَاِذۡ يَرۡفَعُ

هغه د دوزخ عذاب طرف ته مجبوره کړم او هغه د ورګرځيدلو ډير بد ځائے دے (۱۲۶) او چې کله

اِبۡرٰهٖمُ الۡقَوَاعِدَ مِنَ الۡبَيۡتِ وَاِسۡمٰعِيۡلُ ؕ رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّا ؕ اِنَّكَ

ابراهيم او اسماعيل د دې کور بُنيادونه اوچتول ۱ (دا دُعا ئې کوله) اے زمونږه رَبه! زمونږ نه ئې قبول کړې، بيشکه هُم ته

اَنۡتَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۱۲۷﴾ رَبَّنَا وَاجۡعَلۡنَا مُسۡلِمَيۡنِ لَكَ وَمِنۡ

اوريدونکے او پوهه ئې (۱۲۷) اے زمونږه رَبه! او مونږه دواړه خپل فرمانبردار لرې او زمونږ د اولاد

ذُرِّيَّتِنَاۤ اُمَّةً مُّسۡلِمَةً لَّكَ ۪ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبۡ عَلَيۡنَا ۚ

نه يو داسې اُمّت جوړ کړې چې ستا فرمانبردار وي، او مونږ ته د خپل عبادت طريقے را اوښائے ۲ او په مونږ باندې خپل رحمت سره رُجُوع اُوفرمائے،

اِنَّكَ اَنۡتَ التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ﴿۱۲۸﴾ رَبَّنَا وَابۡعَثۡ فِيۡهِمۡ رَسُوۡلًا مِّنۡهُمۡ

بيشکه هُم ته ډير توبه قبلوونکے مهربانه ئې (۱۲۸) اے زمونږه رَبه! او په هغوئي کښې د هغوئي نه يو رسول اُوليږې

يَتۡلُوۡا عَلَيۡهِمۡ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الۡكِتٰبَ وَالۡحِكۡمَةَ وَيُزَكِّيۡهِمۡ ؕ

چې هغه په هغوئي باندې ستا د آيتونو تلاوت اوکړي او هغوئي ته ستا کتاب او پوخ عِلم زده کړي ۳ او هغوئي ښه پاک کړي.

اِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۱۲۹﴾ ع وَمَنۡ يَّرۡغَبُ عَنۡ مِّلَّةِ اِبۡرٰهٖمَ اِلَّا ۱۵ ع ۸ ۱۵

بيشکه هُم ته غالِب حِکمت والا ئے (۱۲۹) او د اِبراهيم د دِين نه به هُم هغه مخ اړوي چا

حاشيه ۱ د دې آيت نه معلومه شوه چې د جُماتونو تعمير نهايت اعلیٰ عبادت او د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام سُنَّت دي. ۲ معلومه شوه چې د عبادت طريقے زده کول د حضرتِ ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام سُنَّت دي. د دې د پاره دُعا هُم کول پکار دي او کوشش هُم. ۳ د دې آيت نه د صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرضوان شان هُم معلوم شو چې حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا ته کتاب و حِکمت زده کړو او څوک ئې پاک او صفا کړل د هغوئي اَوَّلِين مِصداق صحابه دي. او دا هُم معلومه شوه چې پوره قرآن آسان نه دے ګڼې د دې د تعليم د پاره به ئې حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه راليږلے. څوک چې وائي قرآن ډير آسان دے هغه د يو لوئے عالِم خوا ته بوځئ، په پينځلّس مِنټه کښې به ئې حال ښکاره شي. دا هُم معلومه شوه چې قرآن سره د حديث هُم ضرورت دے.

مَنۡ سَفِهَ نَفۡسَهٗ ؕ وَلَقَدِ اصۡطَفَيۡنٰهُ فِى الدُّنۡيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِى الۡاٰخِرَةِ
چې ځان بے وقوفه جوړ کړے وي، او بیشکه مونږه هغه په دُنیا کښې غوره کړو او بیشکه هغه په آخرت کښې زمونږه خاص
لَمِنَ الصّٰلِحِيۡنَ ﴿١٣٠﴾ اِذۡ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗۤ اَسۡلِمۡ ۙ قَالَ اَسۡلَمۡتُ لِرَبِّ
قُرب مونِدونکو نه دے ❶ (١٣٠) یاد کړه چې کله د هغه رب هغه ته اُوفرمائیل: فرمانبرداري اوکړه، نو هغه عرض اوکړو: ما فرمانبرداري اوکړله د هغه
الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿١٣١﴾ وَوَصّٰى بِهَاۤ اِبۡرٰهٖمُ بَنِيۡهِ وَيَعۡقُوۡبُ ؕ يٰبَنِىَّ اِنَّ اللّٰهَ
چې د ټولو جهانونو پالونکے دے (١٣١) او ابراهیم او یعقوب خپلو ځامنو ته د هُم دې دِین وصیت اوکړو چې اے زما ځامنو! بیشکه **الله**
اصۡطَفٰى لَـكُمُ الدِّيۡنَ فَلَا تَمُوۡتُنَّ اِلَّا وَاَنۡتُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ ﴿١٣٢﴾ؕ اَمۡ
دا دِین ستاسو د پاره غوره کړے دے نو تاسو هیڅ کله مه مرۀ کیږئ خو په دې حال کښې چې تاسو مسلمانان ئے ❷ (١٣٢) (اے یهودیانو!) آیا
كُنۡتُمۡ شُهَدَآءَ اِذۡ حَضَرَ يَعۡقُوۡبَ الۡمَوۡتُ ۙ اِذۡ قَالَ لِبَنِيۡهِ مَا
تاسو هغه وخت موجود وئ چې کله د یعقوب د وصال وخت راغے، چې کله هغوئي خپلو ځامنو ته اُوفرمائیل: (اے ځامنو)
تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡۢ بَعۡدِىۡ ؕ قَالُوۡا نَعۡبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبۡرٰهٖمَ وَ
زما نه پس به تاسو د چا عبادت کوئ؟ نو هغوئي اُووئیل: مونږ به ستاسو د معبود او ستاسو د پلار او نیکونو اِبراهِیم او
اِسۡمٰعِيۡلَ وَاِسۡحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚۖ وَّنَحۡنُ لَهٗ مُسۡلِمُوۡنَ ﴿١٣٣﴾ تِلۡكَ
اِسمٰعِیل او اسحاق د معبود عبادت کوو، کوم چې یو معبود دے او مونږه د هغه فرمانبردار یُو (١٣٣) دغه
اُمَّةٌ قَدۡ خَلَتۡ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَـكُمۡ مَّا كَسَبۡتُمۡ ۚ وَلَا
یو اُمّت دے کوم چې تیر شوے دے. د هغوئي اعمال د هغوئي د پاره دي او ستاسو اعمال ستاسو د پاره دي ❸ او

حاشیه ❶ معلومه شوه چې د ربنتیني دِین دا پیژندګلو ده چې هغه د صالحینو دِین وي، دا حضرات د هدایت دلیل دي، **الله** تعالیٰ د اسلام د حقانیت دلیل دلته وړکړے دے چې هغه مِلّتِ ابراهیمي دے. ❷ د دې نه معلومه شوه چې مور و پلار دي صرف د مال وَصِیَّت نه کوي بلکه اولاد ته د عقائدِ صحیحه، اعمالِ صالِحه، د دِین د عظمت، په دِین باندې د اِستِقامت، په نیکو باندې د هیمشوالي او د ګناهونو نه د لرې اوسیدلو وَصِیَّت هم کول پکار دي. ❸ د دې نه معلومه شوه چې په آخرت کښې به خپل اعمال په کار راځي او که عقیده ئې خرابه وي نو هیڅ چا ته به د بل د عمل نه فائده نه کیږي.

تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٤﴾ وَقَالُوْا كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى

تاسو نه به د هغوئي د کارونو په باره کښې تپوس نه کيږي (١٣٤) او اهلِ کتابو اُووئيل: يهوديان يا عيسائيان شئ

تَهْتَدُوْا ؕ قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرٰهٖمَ حَنِيْفًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٣٥﴾

هدايت به اُومومئ. ته اوفرمايه: (هيڅ کله نه) مونږ خو د اِبراهِيم دِين اختيارو و کوم چې د هر باطل نه جُدا وو او هغوئي د مشرکِينو نه نه وو ١ (١٣٥)

قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وَ

(اے مسلمانانو!) تاسو اُووائے: مونږه په الله او څه چې زمونږ طرف ته نازل کړے شوي دي په هغې ايمان راوړو او په هغې څه چې د اِبراهِيم او

اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَ

اِسمٰعِيل او اسحاق او يعقوب او د هغوئي اولاد طرف ته نازل کړے شو او موسیٰ او عيسیٰ ته ورکړے

عِيْسٰى وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ

شُو او څه چې باقي انبياء ته د هغوئي د رب له طرفه عطا کړے شُو. مونږ په ايمان راوړلو کښې په هغوئي کښې په يو چا کښې هُم فرق

مِّنْهُمْ ۫ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿١٣٦﴾ فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ

نه کوو ٢ او مونږ د الله په ورانديز غاړي اېښودي دي (١٣٦) بيا که هغوئي هُم داسې ايمان راوړي څنګه چې تاسو ايمان راوړے دے نو بيا خو

بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ شِقَاقٍ ۚ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ

هغوئي هدايت اُوموندو او که مخ واړوي نو هغوئي صرف په مخالفت کښې پراته دي، نو اے حبيبه! نزدې ده چې الله به د هغوئي له

اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٣٧﴾ ؕ صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ

طرفه تا ته کافي وي او هُم هغه اوريدونکے او عِلم والا دے (١٣٧) مونږه د الله رنګ ٣ ځان ته ورکړو او د الله د رنګ نه بهتر رنګ

حاشيه ١ د دې نه معلومه شوه چې حضرت اِبراهِيم عَلَيْهِ السَّلَام ته الله پاک څهٔ عام مقبوليت ورکړے دے چې هر دِين والا د هغوئي په نسبت فخر کوي او دا هُم معلومه شوه چې صرف د غټو خلقو اولاد کيدل کافي نه دي تر څو چې د غټو خلقو په شان کار اونکړي. ٢ د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام په درجو کښې فرق دے څنګه چې د دريمې سيپارے په شروع کښې دي خو د هغوئي په نُبُوّت کښې فرق نشته. ٣ د الله د رنګ نه مُراد د هغه د دِين رښتيني عقائد دي.

اللّٰهِ صِبْغَةً ۚ وَّنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿١٣٨﴾ قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِي اللّٰهِ وَهُوَ

د چا دے؟ او مونږه صرف د هغه عبادت کوونکي يُو (١٣٨) ته اُوفرمايه: آيا ته د الله په باره کښې زمونږ سره جګړه کوئ حالانکه هغه

رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ

زمونږه هُم رب دے ستاسو هُم رب دے، او زمونږه اعمال زمونږ د پاره دي او ستاسو اعمال ستاسو د پاره دي او مونږه

مُخْلِصُوْنَ ﴿١٣٩﴾ اَمْ تَقُوْلُوْنَ اِنَّ اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَ

خالص صرف د هغه يُو (١٣٩) (اے اهلِ کتاب!) آيا تاسو دا وائے چې اِبراهِيم او اِسمٰعِيل او اسحاق او

يَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطَ كَانُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ؕ قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ

يعقوب او د هغوئي اولاد يهوديان يا نصرانيان وو. ته اوفرمايه: آيا تاسو زيات پوهيږئ که

اللّٰهُ ؕ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً عِنْدَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ

الله؟ او د هغه نه زيات ظالِم څوک د چا سره چې د الله له طرفه څه ګواهي وي او هغه هغه پټه کړي او الله

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ

ستاسو د اعمالو نه بے خبره نه دے (١٤٠) دغه يو اُمّت دے چې تير شوے دے. د هغوئي اعمال د هغوئي د پاره دي

ع ١٦ ١٢ ١٦ وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْئَلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤١﴾ ع

او ستاسو اعمال ستاسو د پاره دي او ستاسو نه به د هغوئي د کارونو په باره کښې تپوس نه کيږي ① (١٤١)

---

حاشيه ① په دې کښې د هغه مسلمانانو د پاره هُم نصيحت دے کوم چې د خپل مور و پلار يا پير و مُرشِد اعمالو ته د ځان د پاره په طمعه شي او پخپله د نيکو نه لري او په ګناهونو کښې مصروفه اوسيږي.

سَيَقُوۡلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمۡ عَنۡ قِبۡلَتِهِمُ الَّتِىۡ
اوس به بے وقوفه خلق وائي، ١ چې دا مسلمانان د دوئي د هغه قبلے نه چا واړول په کومه چې دوئي
كَانُوۡا عَلَيۡهَا ؕ قُلۡ لِّلّٰهِ الۡمَشۡرِقُ وَالۡمَغۡرِبُ ؕ يَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ اِلٰى
مخکښې وو؟ ته اوفرمايه مشرق او مغرب ټول صرف د الله دي، هغه چې چا له غواړي د نيغې
صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴿١٤٢﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلۡنٰكُمۡ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوۡنُوۡا
لارې هدايت ورکوي (١٤٢) او هُم دغسې مونږه تاسو بهترين اُمَّت جوړ کړئ چې تاسو
شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوۡنَ الرَّسُوۡلُ عَلَيۡكُمۡ شَهِيۡدًا ؕ وَمَا
په خلقو ګواه جوړ شئ او دا رسول ستاسو نګهبان او ګواه وي، او اے حبيبه!
جَعَلۡنَا الۡقِبۡلَةَ الَّتِىۡ كُنۡتَ عَلَيۡهَاۤ اِلَّا لِنَعۡلَمَ مَنۡ يَّتَّبِعُ الرَّسُوۡلَ
ته چې مخکښې په کومه قبله وې هغه مونږه هُم د دې د پاره مقرره کړې وه چې اُوګورو ٢ څوک د رسول تابعداري کوي
مِمَّنۡ يَّنۡقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيۡهِ ؕ وَاِنۡ كَانَتۡ لَكَبِيۡرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيۡنَ
او څوک بيرته په شا ګرځي، او بيشکه هغه خلق چا ته چې الله هدايت ورکړے وو، د هغوئي نه علاوه (خلقو) باندې
هَدَى اللّٰهُ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيۡعَ اِيۡمَانَكُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ
دا ډيره ګرانه وه ٣ او د الله دا شان نه دے چې ستاسو ايمان ضائع کړي، بيشکه الله په خلقو باندې
لَرَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ﴿١٤٣﴾ قَدۡ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجۡهِكَ فِى السَّمَآءِ ۚ
ډير مهربانه رحم کوونکے دے (١٤٣) مونږ ستا بيا بيا د آسمان په لورې مخ کول وينُو،

---

حاشيه ١ په دې آيت کښې د بيتُ المقدس نه پس خانه کعبه قبله جوړولو باندې اعتراض کوونکو ته بے وقوفه وئيلے شوي دي، د دې نه معلومه شوه چې څوک د دِيني مسائلو په حکمتونو نه پوهيږي بلکه په هغې بے ځايه اعتراض اوکړي هغه احمق او بے وقوفه دے اګر که د دُنيا په کارونو کښې هغه هر څومره چالاکه وي. ٢ د عِلم معنٰی "پوهه" ده، خو چې چرته په آيت کښې د مستقبل په حواله سره د الله تعالیٰ د پاره داسې الفاظ وي نو هلته د دې معنٰی "د الله تعالیٰ د خلقو په وړاندې د هغې ازميښت کول وي" يا "د هغوئي په وړاندې هغه خبره مخې ته راوړل او فرق ښکاره کول وي" ٣ د دې نه معلومه شوه چې د الله تعالیٰ د حُکم د معلومېدلو نه پس د هغې د قبلولو نه په زړه کښې تنګي محسوسول د منافقت نښه ده.

فَلَنُوَلِّیَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ۠ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ

نو ضرور به مونږه تا د هغه قبلے په طرف اُوګرځوو په کومه کښې چې ستا خوشحالي ده ❶ نو اوس خپل مخ مسجدِ حرام طرف

الْحَرَامِ ؕ وَ حَیْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ وَ اِنَّ

ته اُوګرځوه او اے مسلمانانو! تاسو چې هر ځائے کښې ئې خپل مخونه هُم دې طرف ته کړئ او بیشکه

الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَیَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ وَ مَا اللّٰهُ

هُغه خلق چا ته چې کتاب ورکړے شوے دے هغوئي ته ضرور معلومه ده چې دا بدلیدل د هغوئي د **رب** له طرفه حق دي ❷ او **الله** د هغوئي

بِغَافِلٍ عَمَّا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَ لَىٕنْ اَتَیْتَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

د اعمالو نه بے خبره نه دے (۱۴۴) او که ته اهل کِتابو لره

بِكُلِّ اٰیَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ وَ مَاۤ اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَ مَا

هره نښه راوړې نو بیا به هُم هغوئي ستا د قبلے تابعداري نه کوي ❸ او نه ته د هغوئي د قبلے تابعداري اوکړې، او هغوئي

بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ؕ وَ لَىٕنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا

په خپل مینځ کښې هُم د یو بل د قبلے تابِع نه دي او (اے اوریدونکیه!) ❹ که تا له د عِلم راتلو نه پس ته د هغوئي

جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۴۵﴾ اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ

وقف لازم

په خواهشاتو روان شوې نو هغه وخت به ته ضرور زیاتے کوونکے ئې (۱۴۵) هُغه خلق چا ته چې مونږه کتاب

---

حاشیه ❶ د دې آیت نه معلومه شوه چې **الله تعالیٰ** ته د خپل حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا ډیره خوښه ده او **الله تعالیٰ** د هغوئي رِضا پوره کوي. ❷ اهل کتاب ته معلومه وه چې د قِبلے دا بدلیدل د **الله تعالیٰ** له طرفه حق دي ځکه چې د هغوئي په کتابونو کښې د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا وَصف هُم مذکور وو او د هغوئي انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَام د الله د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا نښه هُم بیان کړې وه چې هغوئي به د بَیْتُ الْمُقَدَّس نه کعبے طرف ته مخ مبارک اړوي. ❸ د دلائلو باوجود د اهلِ کتابو دمسلمانانو د قبلے د تا بعداري نه کولو وجه د هغوئي دا حسد وو چې د بني اسرآئیلو نه نُبُوَّت منتقل شو، معلومه شوه چې حسد ډیر بد څیز دے چې دا بنده د حق قبلولو نه منع کوي. ❹ دلته خطاب رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نه دے بلکه د دې اوریدونکي هر مخاطب ته دے یا بیا په ظاهره خو خطاب نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دے او مُراد د هغوئي اُمَّت دے ځکه چې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اهلِ کتابو تابعداري هډو کولے نه شي.

الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ؕ وَ اِنَّ فَرِيْقًا مِّنْهُمْ

ورکړے دے هغوئي دا نبي داسې پیژني څنګه چې هغوئي خپل ځامن پیژني، او بیشکه په هغوئي کښې یوه ډله

لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَ هُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴۶﴾ اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ

د پوهیدلو باوجود حق پټوي (۱۴۶) (اے اوریدونکیه!) ۱ حق هُم هغه دے کوم چې ستا د **رب** له طرفه وي. پس ته بالکل

مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ ع وَ لِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا فَاسْتَبِقُوا

شک والؤ نه مه کیږه (۱۴۷) او د هر یو د پاره د توجُّه یو طرف دے چې د هغې طرف ته هغه مخ کوي نو ته په نیکو کښې

الْخَيْرٰتِ ؕ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى

وړاندې کیدل کوه ۲ تاسو چې هر ځائے کښې ئې **الله** به تاسو ټول راولي او راجمع به مو کړي. بیشکه **الله**

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۴۸﴾ وَ مِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ

په هر څیز قدرت لرونکے دے (۱۴۸) او (اے حبیبه!) ته چې د کوم طرف نه هُم راشې خپل مخ مسجدِ

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَ اِنَّهٗ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَ مَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا

حرام طرف ته کړه او بیشکه دا یقیناً ستا د **رب** له طرفه حق دے او **الله** ستاسو د کارونو نه

تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۹﴾ وَ مِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ

غافِل نه دے (۱۴۹) او اے حبیبه! ته چې د کوم طرف نه هُم راشې خپل مخ مسجدِ حرام طرف

الْحَرَامِ ؕ وَ حَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ۙ لِئَلَّا

ته کړه، او اے مسلمانانو! تاسو چې هر ځائے کښې ئې خپل مخونه د هُم دې طرف ته کړئ چې خلقو

يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ۗ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ ۗ فَلَا

ته په تاسو باندې حُجّت پاتې نه شي خو چې څوک د هغوئي نه نا انصافي اوکړي نو د

وقف منزل — ۱۷ع — وقف النبي صلى الله عليه وسلم

**حاشیه** ۱ دلته خطاب نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نه دے بلکه د دې آیت اوریدونکي هر مخاطب ته دے یا دلته هُم په ښکاره خطاب نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دے خو مُراد ئې اُمّت دے ځکه چې حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حُکمِ الٰهي کښې هډو شک نه شي کولے. ۲ دلته په دې آیت کښې دا خبره ښودلې شوې ده چې مال و دولت، عُهده و منصب، شُهرت و مقبولیت او دُنیاداري داسې څیزونه نه دي چې په دې کښې د یو بل سره مقابله اوکړے شي ځکه چې دا ټول فاني دي، او باقي پاتې کیدونکي نهدي، او د مقابلے قابل څیزونه خو نیکي، عبادات او د خیر کارونه دي.

تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِيْ ۗ وَلِاُتِمَّ نِعْمَتِيْ عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ

هغوئي نه مه ویرېږئ او زما نه اُویرېږئ ① او د پاره د دې چې زه خپل نعمت په تاسو تمام کړم او د پاره د دې چې تاسو

تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۰﴾ۙ كَمَاۤ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا

هدایت اُوموموئ (۱۵۰) څنګه چې مونږه ستاسو په مینځ کښې ستاسو نه یو رسول در اُولیږلو چې هغه په تاسو باندې زمونږه

عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَ

آیتونه تِلاوت کوي او تاسو پاک کوي او تاسو ته کتاب او پوخ عِلم زده کوي او

معانقة ۳

يُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ؕ فَاذْكُرُوْنِيْۤ اَذْكُرْكُمْ وَ

تاسو ته هغه زده کوي څه چې تاسو ته نه وو معلوم ② (۱۵۱) نو تاسو ما یاد کړئ، زه به تاسو یاد کړم او

ع ۱۸ / ۵ / ۲

اشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ﴿۱۵۲﴾ؑ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا

زما شُکر ادا کړئ او زما ناشُکري مه کوئ ③ (۱۵۲) اے ایمان والؤ د صبر

بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ

او لمانځه نه مدد اوغواړئ ④ بیشکه الله صبر کوونکو سره دے (۱۵۳) او څوک چې د الله په لاره کښې قتل کړے شي

يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵۴﴾

هغوئي ته مړه مه وائے، بلکه هغوئي ژوندي دي خو تاسو د هغې شعور نه لرئ ⑤ (۱۵۴)

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَ

او مونږه به ضرور د څه ویرې او لوږې او څه د مالونو او ځانونو او میوو د کمي

---

حاشیه ① د الله تعالیٰ ویره په بله هره ویره باندې غالبه پکار ده او د هغه رضا غوښتل د مخلوق په خوشنودئ باندې غالبه پکار ده. ② حقیقت دا دے چې حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف د قرآن ظاهري مضامِین او د الله احکام نه بلکه رُشد و هدایت، صلاح و فلاح او د عِلم و حِکمت بیشمیره خبرې ښائي ځکه چې دوئي د اَوَّلِینو او آخِرینو د عُلُومو جامِع دي. ③ چې کله د کُفر لفظ د شُکر په مقابله کښې راشي نو د هغې معنیٰ ناشُکري وي او چې کله د اسلام یا ایمان په مقابله کښې راشي نو د هغې معنیٰ بے ایماني وي. په دې آیت کښې د کُفر نه مُراد ناشُکري ده. ④ غیرِ خُدا نه مدد غوښتل شِرک نه دے. د دې موضوع نور تفصیل په تفسیر صِراطُ الْجِنان، ج۱، ص۲۴۷ کښې اوګورئ. ⑤ شهیدان په قطعي طور ژوندي دي خو د هغوئي ژوند څنګه دے مونږه د هغې شعور نه لرو، ځکه د دُنیوي معاملاتو په اعتبار په هغوئي باندې د عام مړي په شان شرعي احکام جاري کیږي.

الۡاَنۡفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِیۡنَ ۱۵۵ۙ الَّذِیۡنَ اِذَاۤ اَصَابَتۡهُمۡ

په ذریعه ستاسو ازمیښت کوو، او صبر کوونکو ته زیرے واوروه (۱۵۵) هٰغه خلق چې کله په هغوئي څه

مُّصِیۡبَةٌ ۙ قَالُوۡۤا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّاۤ اِلَیۡهِ رٰجِعُوۡنَ ۱۵۶ؕ اُولٰٓئِكَ عَلَیۡهِمۡ

مصیبت راشي نو وائي: مونږ هُم د الله یُو او مونږ هُم د هغه په طرف ګرځیدونکي یُو (۱۵۶) دا هٰغه خلق دي په کومو باندې

صَلَوٰتٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٌ ۟ قف وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُهۡتَدُوۡنَ ۱۵۷ اِنَّ

چې د هغوئي د رب له طرفه دُرُودُونه دي او رحمت، او هُم دا خلق هدایت موندونکي دي (۱۵۷) بیشکه

الصَّفَا وَالۡمَرۡوَةَ مِنۡ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنۡ حَجَّ الۡبَیۡتَ اَوِ اعۡتَمَرَ فَلَا

صفا او مَروه د الله د نښنو نه دي، ۱ نو څوک چې د دې کور حج یا عُمره اوکړي نو په هغه

جُنَاحَ عَلَیۡهِ اَنۡ یَّطَّوَّفَ بِهِمَا ؕ وَمَنۡ تَطَوَّعَ خَیۡرًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ

هیڅ ګناه نشته چې په دې دواړو کښې سعي [تلل راتلل] اوکړي، او څوک چې له خپله طرفه نیکي اوکړي نو بیشکه الله

شَاكِرٌ عَلِیۡمٌ ۱۵۸ اِنَّ الَّذِیۡنَ یَكۡتُمُوۡنَ مَاۤ اَنۡزَلۡنَا مِنَ الۡبَیِّنٰتِ

د نیکئ بدله ورکوونکے، خبردار دے (۱۵۸) بیشکه هٰغه خلق کوم چې زمونږه نازلې کړې روښانه خبرې

وَالۡهُدٰی مِنۡۢ بَعۡدِ مَا بَیَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِی الۡكِتٰبِ ۙ اُولٰٓئِكَ

او هدایت پټوي ۲ حالانکه مونږه دا د خلقو د پاره په کتاب کښې واضحه کړې دي نو په هغوئي

یَلۡعَنُهُمُ اللّٰهُ وَیَلۡعَنُهُمُ اللّٰعِنُوۡنَ ۱۵۹ۙ اِلَّا الَّذِیۡنَ تَابُوۡا وَاَصۡلَحُوۡا

الله لعنت فرمائي او لعنت کوونکي په هغوئي لعنت کوي (۱۵۹) خو هٰغه خلق کوم چې توبه اوکړي او [خپله] اصلاح اوکړي

حاشیه ۱ صفا او مَروه غرونو ته دا عَظَمت او بَرَکت د حضرتِ هاجره رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا په نِسبَت حاصل شوے دے، دې نه معلومه شوه چې د صالِحِینو سره نسبت لرونکے څیز عظمت والا شي. ۲ دِیني مسائل پټول ګناه ده، داسې چې د ضرورت په وخت کښې اُونه ښودلے شي یا داسې چې غلطې اوښودلے شي بلکه په غلطو ښودلو خو ډیر سخت وَعِیدونه دي. په دې زمانه کښې د غلطو مسائلو بیانوونکو او د قرآن و حدیث د غلطو تشریحاتو او توضیحاتو کوونکو کمے نشته او دا ټول د مذکوره آیت په وعید کښې داخل دي.

وَبَيَّنُوْا فَاُولٰٓىِٕكَ اَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَاَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٠﴾ اِنَّ

او (پټې خبرې) ښکاره کړي نو زه به د هغوئي توبه قبوله کړم او هُم زه لوئے توبه قبلوونکے مهربانه يم (١٦٠) بيشکه

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ اُولٰٓىِٕكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَ

هغه خلق چې کُفر ئې اوکړو او هُم کافِران ❶ مړه شول په هغوئي باندې د الله او

الْمَلٰٓىِٕكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٦١﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ

فرښتو او انسانانو، د ټولو لعنت دے ❷ (١٦١) هغوئي به هميشه په هغې کښې اوسيږي، د هغوئي نه به

عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿١٦٢﴾ وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ

عذاب نه کمولے کيږي او نه به هغوئي له مُهلت ورکولے کيږي (١٦٢) او ستاسو معبود يو معبود دے د هغه نه سِوا

اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٣﴾ ع اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَ ع ١٩ ٣

بل معبود نشته لوئے رحمت والا مهربانه دے (١٦٣) بيشکه د آسمانونو او زمکې په پيدا کولو او

اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ

د شپې او ورځې په بدليدلو کښې او په کشتئ کښې کومه چې په درياب کښې د خلقو د فائدے د پاره

النَّاسَ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ

چليږي او په هغه اوبو کښې کومې چې الله د آسمان نه رانازلې کړي بيا ئې په هغې

بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ۪ وَّتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ

مړه زمکه راژوندئ کړه او په زمکه کښې ئې هر قِسمه ځناور خواره کړل او د هواګانو چليدل او هغه وريځې

الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿١٦٤﴾ وَمِنَ

چې د آسمان او زمکې تر مينځه د حُکم پابندې دي ❸ په دې ټولو کښې يقيناً د عقلمندو د پاره نښې دي ❹ (١٦٤) او بعضې

---

حاشيه ❶ عربي لفظ "کُفّار" د کافِر جمع ده. ❷ د مرګ په وخت کښې د ايمان د دولت نه محرومه پاتې کيدل د ټولو نه لويه بدبختي ده. او هغه وخت کښې ايمان سلامت پاتې کيدل ډير لوئے سعادت دے، لِهذا هر مسلمان ته پکار دي چې هغه اکر که څومره هُم نيک او پاکباز، عبادت ګُزار او پرهيزګاره وي خود خپلې بدې خاتمے ويره دې لري. ❸ په دې آيت کښې بيان شوو څيزونو کښې چې په هر يو باندې جُدا جُدا غور اوکړئ نو د الله تعالٰی د قدرت داسې حيرانوونکي کرشمے ښکاري چې عقل ورته حيرانيږي. ❹ سائنسي عُلوم هم د معرفتِ اِلٰهي ذريعه جوړيږي. څومره چې سائنسي علم زياتيږي هغه همره به د الله تعالٰی د عَظَمت او قدرت پيژندګلو زياتيږي، لِهذا که څوک د دِينِ اسلام د خدمت او د الله تعالٰی د معرفت په نيَّت سائنسي علوم زده کوي نو دا به هُم عظيم عبادت وي، او الله تعالٰی چې په کائنات کښې کوم د غور و فِکر حُکم فرمائيلے دے نو دا به د هغه د حُکم تعميل هُم اوګرځي.

النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ وَ

خلق د الله نه سِوا نور معبودان جوړوي، هغوئي سره د الله په شان محبت کوي، او

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ

ايمان والا د ټولو نه زيات الله سره محبت کوي، او که ظالمانو ليدلے چې کله به هغوئي عذاب په سترګو

الْعَذَابَ ۙ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ اِذْ

اُوويني څکه چې ټول قُوّت هُم د الله دے او الله سخت عذاب ورکوونکے دے (١٦٥) چې کله

تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا وَرَاَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ

به پيشوايان د خپلو تابعدارئ کوونکو نه بيزاره شي او عذاب به اُووِيني او د هغوئي تولي

بِهِمُ الْاَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً

خپلوئ به غوڅې شي ① (١٦٦) او تابعداري کوونکي به وائي که زمونږ د پاره يو ځل بيرته [دنيا ته] ګرځيدل وے نو مونږ به د دې

فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوْا مِنَّا ؕ كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ

پيشواګانو نه هُم دغسې بيزاره شوي وے څنګه چې دوئي زمونږ نه بيزاره شوي دي ② الله به هُم دغسې د هغوئي اعمال هغوئي ته اُوښائي

ع ٢٠ حَسَرٰتٍ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾ ع يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

چې حسرتونه [يعني ارمانونه] به کوي، او هغوئي د دوزخ نه وتونکي نه دي (١٦٧) اے خلقو!

---

حاشيه ① ياد ساتئ چې د قيامت په ورځ به د کُفّارو خپلوئ ماتې شي خو د اولياؤ او پرهيزګارانو او صالحينو سره به د مسلمانانو د دوستئ خپلوي برقراره وي. ② ياد ساتئ چې د ايمان او اعمالِ صالِحه اصل حسرت خو به صرف کافِر ته کيږي خو مسلمانانو ته به هُم د نيکو په کمي او په ګناهونو کښې د اخته کيدو پښيمانتيا کيږي.

كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَٰلًا طَيِّبًا ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَٰتِ

څه چې په زمکه کښې حلال ① پاکيزه ② دي د هغې نه خورئ او د شيطان په لارو

الشَّيْطَٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِالسُّوٓءِ وَ

مه ځئ، بيشکه هغه ستاسو ښکاره دُښمن دے (١٦٨) هغه به تاسو ته صرف د بدئ او بے حيائي حُکم

الْفَحْشَآءِ وَأَن تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٦٩﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ

درکوي او دا (حُکم به درکوي) چې تاسو د الله په باره کښې هغه څه اُووايے کوم چې تاسو ته پخپله معلوم نه دي (١٦٩) او چې کله هغوئي ته اُووئيل شي چې

اتَّبِعُوا مَآ أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ۗ أَوَ

د هغې تابعداري اوکړئ کوم څه چې الله نازل کړي دي نو وائي: بلکه مونږ خو به د هغې تابعداري کوو په څه چې مونږه خپل پلار نيکه موندلي دي، آيا

لَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾ وَمَثَلُ

اګر که د هغوئي پلار نيکه نه څه عقل لرلو او نه هغوئي هدايت موندونکي وو؟ ③ (١٧٠) او د

الَّذِينَ كَفَرُوا كَمَثَلِ الَّذِي يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَآءً وَ

کافرو مثال د هغه کس په شان دے چې هغه يو داسې [څيز] ته نعرے وهي چې هغه صرف د چغو او نعرو نه علاوه هيڅ

نِدَآءً ۚ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٧١﴾ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا

نه اَوري. (دا كُفّار) کاڼه، چاړاګان او ړانده دي نو دوئي نه پوهيږي ④ (١٧١) اے ايمان والؤ!

---

حاشيه ① په دِينِ اسلام کښې د حلالو خوړلو او د حرامو نه د بچ کيدلو ډير زيات تاکِيد دے، حرامه روزي ګټلو او خوړلو والا کس هيڅ کله مُتّقِي نه شي جوړيدے، رشوت، سُود، غلا، داکه، د خلقو په مال خيټه اچول ټول په هُم دې زُمره کښې راځي. ② د حلال و طيب نه مُراد هغه خيزونه دي کوم چې پخپله هُم حلال دي لکه د چيلي غوښه، سبزي، دال وغيره او مونږ ته حاصل هُم په جائزه ذريعه شي يعني چې د غلا، داکے وغيره په ذريعه نه وي. ③ د شريعت په مقابله کښې د پلار نيکه تابعداري کول حرام دي. هُم دغسې د ګناهونو په کارونو کښې د پلار نيکه تابعداري کول ناجائزه دي ځکه چې د حديث د حُکم مطابق د الله تعالٰی د نافرمانۍ په کار کښې د هيڅ چا اِطاعت نه شي کيدے. زمونږ په معاشره کښې که د غم ښادۍ او په نورو ډيرو موقعو چا ته په شريعت باندې د عمل کولو اُووئيل شي نو هغوئي هُم دا د پلار نيکه، خاندان او برادرۍ د رسم و رواج عُذر پيش کوي، دا عُذر نهايت غلط دے. ④ د غوږ، ژبې او سترګې پوره فائده دا ده چې په دې حق واريدلے شي، اُووئيلے شي او اوليدلے شي او کُفّار د خپلو دې اندامونو نه دا فائدے نه اخلي، په دې اعتبار هغوئي کاڼه، چاړاګان او ړانده دي.

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ

زمونږه دركړي شوي پاک څيزونه خورئ او د الله شُكر ادا كوئ كه تاسو صرف د هغه

تَعْبُدُوْنَ ﴿١٧٢﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ

عبادت كوئ (١٧٢) هغه په تاسو باندې صرف مُردار او وِينه او د خنزير

الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ

غوښه او هغه څناور حرام كړي دي د كوم د ذبح كولو په وخت چې د غيرُ الله نوم اوچت كړے شو ❶ نو څوک چې مجبوره شي حالانكه هغه نه

فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٧٣﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ

خواهش لرونكے وي او نه د ضرورت نه اوړيدونكے وي نو په هغه هيڅ ګناه نشته، بيشكه الله بخښونكے مهربانه دے (١٧٣) بيشكه هُغه خلق چې

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۙ اُولٰٓئِكَ

د الله نازل كړے كتاب پټوي ❷ او د دې په بدله كښې ذليله قيمت اخلي هغوئي

مَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

خپلې خيټې د وور نه ډكوي او الله به نه په ورځ د قيامت هغوئي سره كلام فرمائي ❸

وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٧٤﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا

او نه به ئې پاک كوي او د هغوئي د پاره دردناک عذاب دے (١٧٤) هُم دا هغه خلق دي چا چې

حاشيه ❶ د غيرُ الله په نوم باندې ذبح كولو نه مُراد دا دے چې په ذبح كولو كښې د چرے راښكلو په وخت كښې پرې د الله تعالیٰ نه علاوه د بل چا نوم واخستے شي، داسې څاروے حرام او مُردار دے. ژوندے څاروے چا ته منسوب كولو سره د دې آيت تعلق نشته. نور تفصيل په صِراطُ الْجِنان، ج١، ص ٢٧٤ كښې اوګورئ. ❷ ياد ساتئ چې پټول دا هُم دي چې د كتاب د مضمون نه خوک خبريدلو ته نه پرېښودے شي، نه هغه چا ته اولوستلے شي او نه چا ته اُوښودلے شي او دا هُم پټول دي چې په غلطو تاويلونو كولو د هغې د معنٰى بدلولو كوشش اوكړے شي او د كتاب په اصل معنٰى باندې پرده واچولے شي. ❸ دلته د كلام نه فرمائيلو نه مطلب دا دے چې رحمت سره به ورسره كلام نه فرمائي. يهوديانو به دا هر څه كول او نن هُم ډير خلق هُم داسې كوي.

الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿١٧٥﴾

د هدايت په بدله كښې ګُمراهي او د بخښنې په بدله كښې عذاب واخستو نو دوئي څومره وړر برداشت كوونكي دي ❶ (١٧٥)

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ۗ وَاِنَّ الَّذِيْنَ

دا (سزا) ځكه ده چې الله حق سره كتاب نازل كړے دے، او بيشكه كتاب كښې

اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ لَفِيْ شِقَاقٍۢ بَعِيْدٍ ﴿١٧٦﴾ لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا ٢١ ع ٥ الربع

اختلاف كوونكي ❷ په لرې مخالفت او ضِد كښې اخته دي (١٧٦) اصل نيكي دا نه ده چې تاسو

وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ

مشرق يا مغرب طرف ته مخ كړئ بلكه اصل نيک هغه دے څوک چې په الله

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى الْمَالَ

او قيامت او فرښتو او كتاب او پيغمبرانو باندې ايمان راوړي او د الله په مَحبَّت كښې

عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَ

خپل ګران مال خپلوانو او يتيمانو او مسكينانو او مسافرو ❸ او سوالګرو ته [وركړي] او

السَّآئِلِيْنَ وَفِي الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَ

(د غلامانو او وينزو) ځټونه آزادولو كښې ئې اولګوي، او لمونځ قائم ساتي او زكوٰة وركړي، او

الْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَ

هغه خلق چې پوره كوونكي وي وعدو خپلو لره چې كله وعده اوكړي او مصيبت او سختئ كښې

حاشيه ❶ په دې آيت كښې "ما" د خلقو د محاورے په اعتبار د تعجب په معنٰى كښې دے او دا اِستفهاميه هُم كيدے شي. ❷ كتاب نه مُراد قرآن شريف دے يا تَورات شريف، په وړومبي صورت كښې به اختلاف نه مُراد وي "نه منل" او په دوئم صورت كښې به د دې نه مُراد وي "په صحيح طور نه منل" ځكه چې يهوديانو به قرآن خو بالكل نه منلو او د تورات د منلو دعوه دار وو، خو په صحيح طور به ئې نه منلو. ❸ په آيت كښې د ذِكر شوي لفظ "اِبنِ السَّبِيل" لفظي ترجمه ده "د لارې ځوئ" او د دې نه مُراد "مسافر" وي.

الضَّرَّآءِ وَحِينَ الْبَأْسِ ۗ أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا ۖ وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ

او د جِهاد په وخت كښې صبر كوونكي دي، هُم دا خلق رښتيني دي ١ او هُم دوئي

الْمُتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ

پرهيزګار دي (١٧٧) اے ايمان والؤ! په تاسو باندې د وژلو شوو ٢ د قتل بدله اخستل فرض

فِي الْقَتْلَى ۖ الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنثَىٰ بِالْأُنثَىٰ ۚ فَمَنْ

كړے شول، د آزاد په بدل كښې آزاد او د غلام په بدله كښې غُلام او د زنانه په بدله كښې زنانه، نو د چا د پاره

عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيْهِ

چې د هغه د وررو له طرفه څه معافي وركړے شي نو په ښه طريقه دې مطالبه اوكړے شي او وارث ته دې په ښه طريقه ادائيګي

بِإِحْسَٰنٍ ۗ ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ۗ فَمَنِ اعْتَدَىٰ بَعْدَ

اوكړے شي. ٣ دا ستاسو د **رب** له طرفه آساني او رحمت دے. نو د دې نه پس چې څوک زياتے

ذَٰلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٨﴾ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰٓأُولِي

اوكړي د هغه د پاره دردناک عذاب دے (١٧٨) او اے عقلمندو! د وِينې بدله اخستلو كښې ستاسو

الْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ

ژوند دے چې تاسو بچ پاتې شئ ٤ (١٧٩) په تاسو فرض كړے شوي دي ٥ چې كله په تاسو كښې چا ته

---

حاشيه ١ يعني صحيح عقائد لرونكي لـمونځ ګُزاره، زكوٰة او صدقات وركوونكي، د صبر عادت لرونكي، د وعدے پابند او نيک اعمال كوونكي خپله د ايمان دعوىٰ كښې په كامِل طور رښتوني دي. الله تعالىٰ دې مونږ هُم داسې جوړ كړي. ٢ عربي لفظ ”قتلىٰ“ د قتيل جمع ده. ٣ كه د وژلي شوي كس وارثان د مال په بدله كښې معاف كولو باندې راضي شي نو هغوئي ته په مطالبه كولو كښې او بل طرف ته قاتل ته دِيَت ادا كولو كښې د ښې طريقے اختيارولو حُكم وركړے شوے دے. ٤ په قِصاص كښې ژوند داسې دے چې په قِصاص كښې د قتل كيدلو له ويرې به سړے د بل د قتل كولو نه ځان ساتي او كه قاتل ته دا سزا وركړے شي نو نورو ته به هُم ترينه ډير عبرت حاصليږي او دا ځيز به د خلقو د ژوند د حفاظت ذريعه جوړيږي. ٥ د ميراث د احكامو نازليدلو نه مخكښې مړ كيدونكي كس باندې د خپل مال په باره كښې وَصِيَّت كول واجب وو ځكه چې هغه وخت كښې به صرف د وَصِيَّت مطابق مال تقسيميدلو او چې كله د ميراث احكام راغلل نو د وَصِيَّت حُكمِ وجُوب منسوخ شو، البته د دې جواز اوس هُم باقي دے.

الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا ۖ ۚ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ

مرګ راشي (نو) که هغه څه مال پرېږدي نو د خپل مور و پلار او نزدې خپلوانو د پاره دې په ښه طريقه

بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿١٨٠﴾ فَمَنْ بَدَّلَهُ بَعْدَ مَا سَمِعَهُ

وَصِيَّت اوکړي. دا په پرهيزګارو واجِب دي (١٨٠) بيا د وصيت اوريدلو نه پس که څوک هغه بدل کړي نو

فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى الَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٨١﴾ فَمَنْ

د هغې ګناه په هغه بدلوونکو ده ❶ بيشکه الله اوريدونکے او عِلم والا دے (١٨١) بيا چا ته

خَافَ مِنْ مُوصٍ جَنَفًا أَوْ إِثْمًا فَأَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ

چې د وصيت کوونکي له طرفه د بے انصافۍ يا ګناه انديښنه وي نو هغه دې د هغوئي په مينځ کښې روغه اوکړي نو په هغه هيڅ ګناه نشته ❷

ع ٢٢ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٨٢﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ

بيشکه الله بخښونکے مهربانه دے (١٨٢) اے ايمان والؤ په تاسو روژے فرض کړے

الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ

شوے ❸ څنګه چې تاسو نه مخکښې خلقو باندې فرض کړے شوې وې چې تاسو

تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ ۚ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ

پرهيزګاره جوړ شئ (١٨٣) د شمير يو څو ورځې دي نو په تاسو کښې چې څوک بيمار وي يا په

---

حاشيه ❶ وصيت کولو نه پس وصيت کوونکي ته په خپل ژوند کښې د وصيت بدلولو اختيار وي خو د هغه د وفات کيدلو نه پس بل چا ته د هغه په وصيت کښې د تبديلۍ شرعاً اجازت نشته. ❷ که کوم عالِم، حاکِم، وصي يا خپلوان وغيره ته معلومه وي چې مړ کيدونکے په وَصِيَّت کښې په چا زياتے کوي، يا د شرعي احکامو پابندي نه کوي او هغه مړ کيدونکے کس پوهه کړي او وصيت پرې صحيح کړي نو دا کس به ګنهګار نه وي بلکه د خپل نيک عمل په وجه به د ثواب مُستَحِق وي. ❸ په دې آيت کښې د روژو د فرضيت بيان دے. په شريعت کښې روژه دا ده چې د صبا صادق نه د لمر پريوتلو پورې د روژے په نيت د خوراک څښاک او همبسترۍ نه ځان اُوساتي.

سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ

سفر کښې وي نو دومره روژے دې په نورو ورځو کښې اُونيسي ❶ او څوک چې د دې طاقت نه لري په هغوئي د يو مِسکِين د طعام

مِسْكِيْنٍ ؕ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ ؕ وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ

فِديه دَه، بيا څوک چې له خپله طرفه زياته نيکي اوکړي نو هغه د هغه د پاره بهتره دَه، او که تاسو پوهيږئ نو روژه

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۴﴾ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ

نيول ستاسو د پاره زيات بهتر دي (۱۸۴) د رَمَضان مياشت ده ❷ په کومه کښې چې

الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ ۚ فَمَنْ شَهِدَ

قرآن نازل کړے شو چې هغه د خلقو د پاره هدايت او رهنمائي ده او د فيصلے په روښانه خبرو (مشتمل دے) نو په تاسو کښې چې

مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ؕ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ

څوک دا مياشت اُومومي نو ضرور دې د دې روژے اُونيسي، او څوک چې بيمار وي يا په سفر کښې وي نو دومره روژے دې

اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ؗ وَ

په نورو ورځو کښې اُونيسي. **الله** په تاسو آساني غواړي او په تاسو سختي نه غواړي او (دا آسانئ د دې د پاره دي)

لِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَلَعَلَّكُمْ

چې تاسو (د روژو) شمير پوره کړئ او د پاره د دې چې تاسو په دې خبره د **الله** لوئي والے بيان کړئ چې هغه تاسو ته هدايت درکړو او چې تاسو

---

**حاشيه** ❶ مريض ته في الحال د روژه نه نيولو رخصت په دې صورت کښې دے چې که هغه ته د روژو نيولو په وجه د مرض زياتيدلو يا هلاک کيدلو انديښنه وي او مسافر ته رخصت په دې صورت کښې دے چې که هغه د ۹۲ کلوميټر يا د دې نه د زياتې فاصلے په سفر وي. ❷ رَمَضان هغه واحده مياشت ده د کومې نوم چې په قرآنِ پاک کښې راغلے دے او قرآنِ مجيد سره د نِسبت په وجه د رَمَضان مياشتې ته عظمت و شرافت حاصل شو. د دې نه معلومه شوه چې کوم وخت ته د يو شرف و عَظَمت والا څيز سره نسبت حاصل شي نو هغه وخت تر قيامته پورې شرف والا شي، په دې وجه کومې ورځې او ساعت ته چې د حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادَت او مِعراج سره نسبت دے هغه د عظمت او شرافت والا شولې.

تَشْكُرُوْنَ ﴿١٨٥﴾ وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ ؕ اُجِيْبُ

شُکر ګُزار جوړ شئ ❶ (١٨٥) او اے حبيبه! چې کله ستا نه زما بندګان زما په باره کښې تپوس اوکړي نو بيشکه زه نزدې يم، زه د دُعا کوونکي

دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ۙ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ وَلْيُؤْمِنُوْا بِيْ لَعَلَّهُمْ

دُعا قبلووم چې کله هغه زما نه دُعا کوي ❷ نو هغوئي ته پکار دي چې زما حُکم اُومني او په ما ايمان راوړي د پاره د دې

يَرْشُدُوْنَ ﴿١٨٦﴾ اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ اِلٰى نِسَآئِكُمْ ؕ

چې هدايت اُومومي (١٨٦) ستاسو د پاره د روژو په شپو کښې د خپلو ښځو خوا ته تلل حلال کړے شُو، ❸

هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ؕ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ

هغوئي ستاسو د پاره لباس دي او تاسو د هغوئي د پاره لباس ئي. **الله** ته معلوم دي چې تاسو به خپل ځانونه په

تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ ۚ فَالْـٰٔنَ

خيانت کښې اچول نو هغه ستاسو توبه قبوله کړه او تاسو ئي معاف کړئ، نو اوس

بَاشِرُوْهُنَّ وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ۠ وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا

هغوئي سره کوروالے کوئ او څه چې **الله** ستاسو په نصيب کښې ليکلي دي هغه طلب کړئ ❹ او خورئ او څښئ

حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ

تر دې پورې چې تاسو ته بيل ښکاره شي د سپين والي (د سحر) تار د تور والي (د شپې) د

---

**حاشيه** ❶ د شمير پوره کيدلو نه مُراد د رَمَضان يو کم ديرش يا ديرش روژے پوره کول دي او د تکبير وئيلو نه مراد دا دے چې **الله** تعالیٰ تاسو ته د خپل دِين طريقے زده کړې نو تاسو په دې خبره د **الله** تعالیٰ لوئے والے بيان کړئ او د **الله** تعالیٰ شُکر ادا کړئ. ❷ د دُعا معنیٰ ده خپل حاجت پيش کول او د اِجابَت يعني قبوليت معنیٰ دا ده چې پروردګار عَزَّوَجَل د خپل بنده په دُعا باندې ''لَبَّيْكَ يَاعَبْدِیْ'' فرمائي البته چې څه اوغوښتلے شي هُم د هغې حاصليدل بله خبره ده. ❸ د عَرَبِی لفظ اَلرَّفَث لُغوي معنیٰ ده، د ښځې او خاوند د پردے داسې خبرې کول کومې چې د خلقو په مخکښې نه شي کيدلے او دلته د دې نه مُراد جماع کول دي. ❹ د الله تعالیٰ ليکلي شوي طلب کولو نه مُراد دا هُم دے چې خپلو ښځو سره همبستري د اولاد حاصلولو په نيت کول پکار دي چې دې سره د مسلمانانو په افرادي قُوت کښې اضافه اوشي او دِين قوي شي.

الْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ

تار نه بیا د شپې راتلو پورې روژے پوره کړئ او د ښځو سره کوروالے مه کوئ تر څو پورې چې تاسو

عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ۗ كَذَٰلِكَ

په جُماتونو کښې په اِعتِکاف کښې ئي (١) دا د الله حدونه دي نو دې ته مه نزدې کیږئ. الله هُم دغسې

يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾ وَلَا تَأْكُلُوا

د خلقو د پاره خپل آیتونه ښکاره بیانوي چې هغوئې پرهیزګاره شي (١٨٧) او په خپل مینځ کښې

أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا

د یو بل مال ناحقه مه خورئ او حاکمانو له د دې مقدمه د دې د پاره مه وړئ

ع ٢٣ ٧ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾ يَسْأَلُونَكَ

چې د خلقو څه مال په ناجائزه طریقه قصداً [اِرادَتاً] اوخورئ (٢) (١٨٨) ستا نه د نوې

عَنِ الْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَن

سپوږمۍ په باره کښې تپوس کوي (٣) ته اوفرمایه، دا د خلقو او د حج د پاره د وخت ښنبې دي او دا هیڅ نیکي نه ده چې

تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ ۚ وَأْتُوا

تاسو د کور شاتنے دیوال مات کړئ او په هغې راځئ، مګر اصل نیک خو پرهیزګار وي (٤) او کورونو

---

حاشیه (١) په دې کښې دا بیان دے چې د رَمَضان په شپو کښې روژه دار د پاره د خپلې ښځې سره همبستري حلاله ده هله چې هغه معتکِف نه وي خو په اِعتِکاف کښې ښځو سره د کوروالي تعلقات حرام دي. (٢) د ناجائزه فائدے د پاره په چا مقدمه کول او هغه حکامو ته وړل ناجائزه او حرام دي. هُم دغسې د خپلې فائدے د پاره بل ته د ضرر رَسَوَلو د پاره په حکامو اثر اچول او رشوتونه ورکول حرام دي. حُکامو ته د رسیدلو طاقت لرونکي خلق دې د دې آیت حُکم یاد ساتي. (٣) عربي لفظ اَهِلَّة د هِلال جمع ده او د نوې میاشتې د ورومبۍ او دوئمې شپې سپوږمۍ ته هِلال وائي. (٤) دا آیت د زمانهٔ جهالت د یو رسم متعلق نازل شو، د دې نه معلومه شوه چې یو څیز د ممانعت نه بغیر ناجائزه ګڼل د جاهلانو کار دے. له خپله طرفه غلط رسمونه جوړول او پابندئ لګول جائز نه دي. ډیر کارونه هسې هُم جائز وي خو له خپله طرفه هغه شرعاً ضروري ګڼل هغه خِلافِ شریعت شي.

الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾ وَ

ته د هغو په دروازو راځئ او د الله نه تل ویریږئ په دې امید چې تاسو کامیاب شئ (۱۸۹) او

قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ

د الله په لاره کښې د هغوئي سره جنګ اوکړئ څوک چې تاسو سره جنګ کوي او د حد نه مه تیریږئ، بیشکه الله

لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿١٩٠﴾ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَ

د حد نه تیریدونکي نه خوښوي (۱۹۰) او (د جهاد په دوران کښې) چې کافران کوم ځائے اُوموموئ قتل ئې کړئ[1] او

أَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ وَلَا

هغوئي د هغه ځائے نه اُوباسئ د کوم ځائے نه چې هغوئي تاسو وِیستلي وئ او فِتنه د قتل نه زیاته سخته وي، او د

تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ ۚ فَإِنْ

مسجدِ حرام خوا ته هغوئي سره جنګ مه کوئ تر څو چې هغوئي تاسو سره هلته جنګ نه وي کړے او که

قَاتَلُوكُمْ فَاقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْكَافِرِينَ ﴿١٩١﴾ فَإِنِ انْتَهَوْا

هغوئي تاسو سره جنګ اوکړي نو هغوئي قتل کړئ. د کافرو هُم دا سزا ده[2] (۱۹۱) بیا که هغوئي قلار شي

فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٩٢﴾ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَ

نو بیشکه الله بخښونکے، مهربانه دے (۱۹۲) او هغوئي سره جنګیږئ تر دې چې هیڅ فِتنه پاتې نه شي[3] او

يَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ ۖ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿١٩٣﴾

عبادت د الله د پاره شي، بیا که هغوئي قلار شي نو صرف په ظالمانو باندې به د سختئ سزا باقي پاتې شي (۱۹۳)

الشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمَاتُ قِصَاصٌ ۚ فَمَنِ

د ادب والا میاشتې په بدله کښې د ادب والا میاشت ده او د ټولو ادب والا څیزونو بدل دے، نو څوک چې

---

حاشیه [1] دلته د جهاد په دوران کښې د کافرانو د قتل کولو خبره کیږي، دا حُکم نه دے چې که امن وي او که جنګ وي، که صُلح وي او که جګړه په هر حال کښې هغوئي قتل کړئ. [2] د حرم په حُدُودو کښې مسلمانان د جنګ کولو نه منع کړے شو ځکه چې دا د حرم د حُرمت خلاف دي خو که کُفّار هلته مسلمانانو سره جنګ شروع کړي نو هغوئي ته د جواب ورکولو د پاره هلته هُم هغوئي سره د جنګ کولو او د هغوئي د قتل کولو اجازت دے. [3] دلته د فِتنے نه مُراد ''شِرک'' دے.

اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ص

تاسو سره زياتے اوکړي هغه سره هُم هُغه همره زياتے اوکړئ څومره چې هغه ستاسو سره زياتے کړے وي

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٩٤﴾ وَاَنْفِقُوْا فِيْ

او د الله نه تل ويريږئ او پوهه شئ چې الله ويره لرونکو سره دے ❶ (١٩٤) او د الله په لاره کښې

معٰ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ ۚ وَاَحْسِنُوْا ۛ ۚ

[مال] خرچ کړئ او په خپلو لاسو خپل ځان په هلاکت کښې مه اچوئ او نيکي کوئ،

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٩٥﴾ وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ؕ فَاِنْ

بيشکه الله نيکي کوونکو سره مُحبَّت فرمائي (١٩٥) او حج او عُمره د الله د پاره پوره کړئ، بيا که تاسو

اُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى

(د مکے نه) حصار کړے شئ ❷ نو (حرم ته) د قُربانئ څاروے اوليږئ کوم چې درته آسان وي، او خپل سرونه مه خروئ تر څو چې

يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ ؕ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖٓ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ

قرباني خپل ځائے ته نه وي رسيدلي، بيا په تاسو کښې که څوک مريض وي يا د هغه په سر کښې څه تکليف وي

فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْ صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ وقفة فَمَنْ تَمَتَّعَ

نو د روژے يا خيرات يا قربانئ فِديه دې ورکړي، ❸ بيا چې کله تاسو په اطمينان شئ نو څوک چې حج سره

---

حاشيه ❶ د دِينِ اسلام اعلٰى اخلاق، پاکيزه کردار او د ظُلم کولو نه د بچ اوسيدلو د درس ورکولو عَظَمت اوګورئ چې په ډير جذباتو او د انتقام د جذبے په جوش کښې او په دُښمن باندې د قبضه حاصليدلو په وخت کښې په بدله اخستلو کښې مسلمانانو ته د تقوىٰ او عدل او انصاف درس ورکولے کيږي او د زياتي کولو نه ئې منع کوي. ❷ د حج يا عُمرے اِحرام تړلو نه پس په څه وجه، لکه د دُښمن يا سرے خور ځناور د ويرې، يا د سفر په وجه د مرض زياتيدلو د غالِب ګُمان په وجه که حج يا عُمره نه شي کولے نو دې ته اِحصار وائي. ❸ د احرام په حالت کښې چې د کومې پابندئ خلاف ورزئ کولو باندې دَم يعني قرباني لازميږي، هغه خلاف ورزي که د بيمارئ، يا په سر کښې د زخم، وړو يا غټو داڼو يا د سپږو وغيره د سخت تکليف په وجه وي نو په هغې کښې به د قربانئ په ځائے شپږو مسکينانو ته د يوې يوې صدقے ورکولو يا دواړه وخته په مړه ګيډه د طعام ورکولو يا د درې روژو نيولو يا د قربانئ کولو اختيار وي.

بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ

د عُمرے یو ځائے کولو فائده اوچته کړي په هغه باندې قرباني لازمه ده کومه چې آسانه وي، بیا څوک چې (د قربانۍ قدرت) نه لري نو درې

ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ

روژے دې د حج په ورځو کښې اُونیسي او ووه روژے (هغه وخت اُونیسئ) چې کله خپل کور ته را اوګرځئ [را اورسئ]، دا پوره لس دي ①

ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ

دا حُکم د هغه د پاره دے څوک چې د مکے اوسیدونکے نه وي ② او د **الله** نه تل ویرېږئ

٢٤ ع ٨ ٨ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ ع الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ ۚ

او خبر شئ چې **الله** سخت عذاب ورکوونکے دے (۱۹۶) حج یو څو معلومې میاشتې دي

فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي

نو څوک چې په هغې کښې د حج نِیَّت اوکړي نو په حج کښې دې نه د ښځو په مخکښې د صُحبت تذکره کوي او نه څه ګناه او نه دې چا سره

وقف النبي صلى الله عليه وسلم الْحَجِّ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ ۗ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ

جګړه کوي، او تاسو چې کومه نیکي اوکړئ **الله** ته هغه معلومه ده او توښه ځان سره واخلئ، پس د ټولو نه بهتره

الزَّادِ التَّقْوَىٰ ۚ وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٧﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ

توښه یقیناً پرهیزګاري ده او اے د عقل خاوندانو! زما نه تل ویرېږئ ③ (۱۹۷) په تاسو هیڅ ګناه نشته

جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُوا فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ ۚ فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ

چې تاسو د خپل **رب** فضل اولټوئ، نو چې کله تاسو د عرفات نه بیرته را اُوګرځئ

حاشیه ① څوک چې په یو سفر کښې د حج او عُمرے سعادت حاصل کړي نو په هغه باندې د شکرانے په طور قرباني لازمه ده، که د قربانۍ قدرت نه لري نو لس روژے دې اُونیسي، درې روژے د احرام تړلو نه پس د یکم شوال نه د نهم ذُوالْحِجَّةِ الْحرام پورې دې اونیسي او ووه روژے دې د ذُوالْحِجَّةِ الْحرام نه پس اونیسي. ② د حجِ تمتع یا حجِ قِران جائز کیدل صرف د آفاقي یعني میقات نه بهر والؤ د پاره دي. د مِیقات په حُدُودو کښې او د دې نه دننه اوسیدونکو د پاره نه د تمتع اجازت شته او نه د قِران، هغوئي صرف حجِ اِفراد کولے شي. ③ د عقل والا په الفاظو ئي ځکه مخاطب کړي دي چې خلق پوهه شي چې د عقل تقاضه د **الله** ویره ده. څوک چې د **الله** نه نه ویرېږي هغه د بے عقلو په شان دے. عقل هُم هغه دے کوم چې په زړه کښې د **الله** تعالیٰ نه ویره پیدا کړي او د کوم عقل په وجه چې انسان بے دِینه شي هغه عقل نه دے بلکه بے عقلي ده.

فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۪ وَاذْكُرُوْهُ كَمَا هَدٰىكُمْ ۚ وَ

نو د مشعرِ حرام خوا ته الله ياد کړئ او د هغه ذِکر اوکړئ ځکه چې هغه تاسو ته هدايت درکړو، اګر

اِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿١٩٨﴾ ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ

چې د دې نه مخکښې تاسو يقيناً ګمراه وئ (۱۹۸) بيا (اے قريشو!) تاسو هُم د هُم هغه ځائے نه بيرته را اُوګرځئ د کوم ځائے نه

اَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٩﴾ فَاِذَا

چې نور خلق راګرځي [1] او د الله نه بخښنه اوغواړئ بيشکه الله بخښونکے مهربانه دے (۱۹۹) بيا چې کله

قَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ؕ

د خپل حج کارونه پوره کړئ نو د الله ذِکر اوکړئ څنګه به مو چې د خپل پلار نيکه ذِکر کولو بلکه د هغې نه هُم زيات (ذِکر اوکړئ) [2]

فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ

او چې کوم انسان دا وائي چې اے زمونږه رَبه! مونږ ته په دُنيا کښې راکړې [3] او په آخرت کښې د هغه

مِنْ خَلَاقٍ ﴿٢٠٠﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً

هيڅ حِصّه نشته (۲۰۰) او څوک داسې وائي چې اے زمونږه رَبه! مونږ ته په دُنيا کښې خير راکړې

النصف

وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ

او مونږ ته په آخرت کښې (هُم) خير راکړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه اوساتې (۲۰۱) د هُغو خلقو د پاره د هغوئې د ګټلو

---

حاشيه [1] [په زمانه جاهليت کښې] قبيلهٔ قريش والا به د نورو خلقو سره په عرفات کښې د وقوف کولو په ځائے په مزدَلِفه کښې حصار شوا و چې کله به خلق د عرفات نه بيرته را اوګرځيدل نو دوئي به د مزدلفه نه راګرځيدل او په دې کښې به ئي خپل لوئے والے ګڼلو. په دې آيت کښې هغوئي ته حُکم ورکړے شو چې هغوئي دې هُم د ټولو سره يو ځائے په عرفات کښې وقوف کوي او يو ځائے دې بيرته راګرځي. د دې نه معلومه شوه چې اسلامي احکام د وررولۍ په حساب سره نه بدليږي او نه د چا د رُتبے او مقام په وجه په هغې کښې بدلون کيږي بلکه د مالدار او غريب، تور او سپين او عربي عجمي د ټولو د پاره د اسلام احکام برابر دي. [2] په زمانهٔ جاهليت کښې به د عربو خلقو د حج نه پس د کعبے خوا ته د خپل پلار نيکه فضائل بيانول. په اسلام کښې بيان کړے شو چې دا د شُهرت او ځان ښودلو بيکاره خبرې دي، د دې په ځائے ذوق و شوق سره ذِکرِ اِلٰهي اوکړئ. [3] ياد ساتئ مُؤمِن که د دُنيا ښيګړه غواړي نو دا هُم جائز دي او دا د دُنيا غوښتل که د دِين د تائيد و تقويت د پاره وي نو دا دُعا به هُم د دِين د اُمورو نه شميرلے کيږي. خو دا ياد ساتئ چې آخرت بالکل هيرول او صرف دُنيا غوښتل په هيڅ حال کښې د مسلمان د شان لائق نه دي.

مِمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ

شوو اعمالو نه حِصَّه ده او الله زر حساب کوونکے دے (۲۰۲) او د شمیر په ورځو کښې د الله

مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ

ذِکر اوکړئ ❶ نو څوک چې تادي اوکړي او په دوه ورځو کښې (د مِنٰی نه) لاړ شي نو په هغه هیڅ گناه نشته. ❷ او څوک چې وروستو پاتې شي

اِثْمَ عَلَيْهِ ۙ لِمَنِ اتَّقٰى ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ

نو په هغه (هُم) هیڅ گناه نشته ( دا زیرے) د پرهیزگار د پاره دے، او د الله نه تل ویریږئ او پوهه شئ چې تاسو به هُم د هغه په طرف

تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۰۳﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

پاځولے کیږئ (۲۰۳) او د خلقو نه بعضې هغه دے چې د دُنیا په ژوند کښې د هغه خبره په تا ډیره ښه لګي

وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ ۙ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿۲۰۴﴾ وَاِذَا تَوَلّٰى

او هغه د خپل زړه په خبره الله گواه جوړوي حالانکه هغه د تِولو نه زیات جګړه کوونکے دے (۲۰۴) او چې کله بیرته اوګرځي

سَعٰى فِي الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيْهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ؕ وَاللّٰهُ

نو کوشش کوي چې په زمکه کښې فساد خور کړي او پټے او خاروي هلاک کړي، او الله

لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿۲۰۵﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ

فساد نه خوښوي❸ (۲۰۵) او چې کله هغه ته اوویل شي چې د الله نه اُویَریږه نو هغه خپل ضد نور گناه ته راپاروي

---

حاشیه ❶ د شمیر د ورځو نه مُراد اَیَّامِ تشریق دي او ذِکرُالله نه مُراد د لمونځونو نه پس او د جَمرات د رمي [یعني د شیطانانو د ویشتلو] په وخت کښې تکبیر وئیل مُراد دي او د آیت نه مراد دا دي چې په مِنٰی کښې د قیام په دوران کښې د الله تعالیٰ په ذِکر کښې مشغوله اوسئ. ❷ دلته په دوه روځو کښې د رمي کولو نه پس تللو نه مُراد د ۱۰ ذُوالحِجَّه نه پس دوه ورځې دي، لِهذا که څوک د دولسم تاریخ رمي اوکړي او مِنٰی نه بیرته راشي نو په هغه هیڅ گناه نشته، اګر چې په دیارلسمه باندې رمي کولو نه پس بیرته تلل غوره دي. ❸ په دې آیتونو کښې اګر چې د یو خاص منافِق تذکره ده خو دا آیت د ډیرو خلقو د پوهه کولو د پاره کافي دے. زمونږ په معاشره کښې هُم ډیر خلق داسې دي چې ډیرې خوږې خبرې کوي، په ډیره نرمئ خبرې کوي او ډیره عاجزي ښکاره کوي خو پټ په پټه د دین په مسائلو کښې او په خلقو کښې یا خاندانونو کښې فساد جوړوي او هغوئي د هلاکت اوبربادئ ذریعه جوړیږي.

فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۲۰۶﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ

نو داسي کس له دوزخ کافي دے، او هغه ضرور ډير بد د اوسيدلو ځائے دے ❶ (۲۰۶) او بعضې د خلقو نه هُغه خوک دے کوم چې

نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰۷﴾ يٰۤاَيُّهَا

د **الله** د رضا لټولو د پاره خپل ځان خرخوي، او **الله** په بندګانو باندې ډير مهربانه دے (۲۰۷) اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ۪ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ

ايمان والؤ! په اسلام کښې پوره پوره داخل شئ او د شيطان په قدمونو

الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۲۰۸﴾ فَاِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا

مه ځئ بيشکه هغه ستاسو ښکاره دُښمن دے (۲۰۸) پس که چرته تاسو اُوښوييږئ وروستو د دې نه چې

جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۰۹﴾ هَلْ

تاسو ته روښانه دلائل راغلي دي نو پوهه شئ چې **الله** زبردست حِکمت والا دے ❷ (۲۰۹) آيا

يَنْظُرُوْنَ اِلَّاۤ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَ

هغوئي د هُم دې انتظار کوي چې د وريځو په سورو کښې پرې د **الله** عذاب او فرښتے راشي او

۲۵ ع ۱۴ ۹ قُضِيَ الْاَمْرُ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۲۱۰﴾ ع سَلْ بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ كَمْ

فيصله اوکړے شي، او ټول کارونه صرف د **الله** په طرف ګرځولے کيږي (۲۱۰) بني اِسرائيل نه تپوس اوکړئ چې

اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ اٰيَةٍۢ بَيِّنَةٍ ؕ وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا

مونږه هغوئي ته څومره روښانه نښې ورکړې ❸ او څوک چې د **الله** نعمت خپل ځان ته راتلو نه پس

**حاشيه** ❶ د منافق انسان يو علامت دا وي چې که هغه پوهه کړے شي نو په خپله خبره پورې اونښلي، د بل خبره منل خپله بے ادبي ګڼي او چې څوک ورته نصيحت اوکړي نو هغه د خپل عِزّت مسئله جوړه کړي. افسوس چې زمونږه په معاشره کښې هُم داسي خلق ډير دي. ❷ د دې نه مراد دا دے چې که تاسو د واضحه دلائلو باوجود په اسلام کښې پوره پوره داخليدلو نه لرې اوسيږئ او د اسلام د لارې خلاف سلوک اختيار کړئ نو دا به ستاسو سخت جُرم وي. ❸ ياد ساتئ چې د بني اسرائيلو نه د روښانه نښو په باره کښې تپوس کول په حقيقت کښې د هغوئي د پوهه کولو د پاره او د هغوئي د خپلو نافرمانو باوجود هغوئي په خُلو د **الله** تعالیٰ د مهربانو د اقرار کولو د پاره دي.

جَآءَتْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ

بدل كړي نو بيشكه د الله عذاب سخت دے ❶ (٢١١) د كافرو په نظر كښې ❷ د دُنيا ژوند ښكلے جوړ كړے

الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ

شوے دے او هغوئي په مسلمانانو پورې خاندي، او (د الله نه) ويريدلو والا به د قيامت په ورځ د دې

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾ كَانَ

كافرانو نه پاس وي ❸ او الله چې چا له غواړي بے حسابه رزق وركوي (٢١٢) ټول

النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۫ فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ وَ

خلق په يو دين وو نو الله انبياء را اوليږل زيرے وركوونكي او

مُنْذِرِيْنَ ۪ وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ

ويره اوروونكي هغوئي سره ئې رښتينے كتاب راكوز كړو چې هغوئي د خلقو په مينځ كښې د هغوئي په اختلاف كښې

فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ مِنْۢ بَعْدِ

فيصله اوكړي، او كومو خلقو ته چې كتاب وركړے شو هُم هغوئي د خپل مينځ د بُغض و حسد په وجه په كتاب كښې اختلاف اوكړو (دا اختلاف ئې)

مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ ۚ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

د هغې نه پس (اوكړو) چې هغوئي له روښانه احكام راغلي وو نو الله ايمان والؤ ته په خپل حُكم د هغه حق خبرې هدايت وركړو

حاشيه ❶ د الله تعالیٰ د نعمت نه مراد آياتِ اِلٰهيه دي كوم چې د هدايت سبب دي او د هغې په وجه د گمراهئ نه نجات حاصليږي، هُم د دې نه هغه آيتونه هُم دي په كومو كښې چې د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت او صفت او د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُبُوَّت او رسالت بيان دے او د يهود و نصارىٰ په خپلو كتابونو كښې تحريف كول په دې نعمت كښې بدلون كول دي. ❷ د كافرو د پاره د دُنيا ژوند د سهولتونو والا كولو نه مراد دا دے چې د هغوئي هُم دا ژوند خوښ دے، هغوئي د دې قدر كوي او په هُم دې پسې مره دي. ياد ساتئ د دُنيا ژوند هغه دے كوم چې د نفس په خواهشاتو كښې اولګي او كوم ژوند چې د آخرت توښه جمع كولو كښې اولګي هغه بِفَضلِهٖ تعالیٰ ديني ژوند دے. ❸ د دې نه دا هُم معلومه شوه چې په غريبانانو مسلمانانو پورې توقې كول يا يو مُؤمِن ذليله يا سپک ګڼل د كافرو طريقه ده. لِهذا فاسِق و كافِر اګر چې مالدار وي خو عِزَّت والا نه دي او مُؤمِن اګر كه غريب وي او د هر قوم سره تَعَلُّق لري عِزَّت والا دے په شرط د دې چې مُتَّقِي وي.



وقف لازم

لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى
په کومه کښې چې خلقو جګړه کوله ❶ او الله چې چا ته غواړي
صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢١٣﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا
سمه لار ورښائي (٢١٣) آيا ستاسو دا ګُمان دے ❷ چې جَنَّت ته به داخل شئ حالانکه
يَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَ
په تاسو باندې د مخکښينو خلقو په شان حالت نه دے راغلے. هغوئي ته سختي او شِدَّت
الضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى
اورسيدو او هغوئي په زوره زوره اورقولے شُو تر دې چې رسول او هغه سره ايمان والؤ اُووئيل: د الله مدد
نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ ﴿٢١٤﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ؕ
به کله راځي؟ واورئ! بيشکه د الله مدد نزدې دے (٢١٤) تا نه تپوس کوي څه خرچ کړو؟
قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَ
ته اُوفرمايه: کوم مال چې تاسو په نيکئ کښې خرچ کوئ نو هغه د مور او پلار او نزدې خپلوانو او يتيمانو او
الْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ
محتاجانو او مسافر د پاره دے ❸ او تاسو چې څه ښيګړه اوکړئ بيشکه الله ته هغه
عَلِيْمٌ ﴿٢١٥﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ
معلومه ده (٢١٥) په تاسو باندې جهاد فرض کړے شوے دے حالانکه هغه تاسو ته ناخوښه دے او نزدې ده چې

حاشيه ❶ نفسِ اختلاف مذموم نه دے خو د الله تعالیٰ او د هغه د رَسُول عَلَيْهِ السَّلَام د احکامو سره اختلاف کول، او دغسې د حق واضحه کيدلو باوجود اختلاف کول غلط دي. ❷ دا آيت د غزوۂ احزاب مُتَعَلِّق نازل شو چې په هغې کښې مسلمانانو ته د يخنئ او لوږې په وجه سخت تکليفونه رسيدلي وو. په دې کښې هغوئي ته د صبر تلقين اوکړے شو او ورته بيان کړے شُو چې د الله پاک په لاره کښې تکليفونه برداشت کول د هميشه نه د الله پاک د خاصو بندګانو معمول تير شوے دے. ❸ په دې آيت کښې د صَدَقۂ نافِله بيان دے. مور و پلار ته زکوٰۃ او صدقاتِ واجِبه ورکول جائز نه دي.

تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ

يوه خبره به تاسو ناخوښه ګڼړئ حالانکه هغه ستاسو په حق کښې بهتره وي، او نزدې ده چې يوه خبره به تاسو خوښه ګڼړئ حالانکه هغه ستاسو

٢٦ ع ٦ ١٠ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢١٦﴾ ع يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ

په حق کښې بده وي، او الله ته معلومه ده او تاسو ته نه ده معلومه[1] (٢١٦) تا نه د حُرمت والا

الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ ۗ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ۗ وَصَدٌّ عَنْ

مياشت کښې د جِهاد کولو په باره کښې تپوس کوي، ته اوفرمايه: په دې مياشت کښې جنګ کول لويه ګناه ده، او د الله د لارې

سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌۢ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ

نه حصارول او په هغه ايمان نه راوړل او مسجدِ حرام نه منع کول او د هغې اوسيدونکي د هغه ځائے نه وِيستل

اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُوْنَ

د الله په نزد د دې نه هُم لويه ګناه ده[2] او فِتنه د قتل نه لوئے جُرم دے، او هغوئي به هميشه

يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا ۗ وَمَنْ

تاسو سره جنګيږي، تر دې چې که هغوئي کولے شي نو تاسو به ستاسو د دِين نه واړوي[3] او په تاسو

يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ

کښې چې څوک د خپل دِين نه مُرتَد شي بيا شي هغه کافر مړ نو د هغوئي ټول اعمال په

---

حاشيه [1] د يو څيز د ښه يا بد کيدلو مدار هر ځائے په خپل سوچ نه بلکه د الله تعالیٰ په حُکم کيښودل پکار دي. الله تعالیٰ چې د کوم څيز حُکم ورکړے دے هغه په هر حال کښې زمونږ د پاره بهتر دے او د څه نه ئې چې منع فرمائيلي ده هغه په يو حال کښې هُم زمونږ د پاره بهتر نه دي. [2] د دې نه معلومه شوه چې پخپله په لويو لويو عيبونو کښې د اخته کيدلو نه باوجود خپل ځان ته د کتلو په ځائے په نورو پورې ټوقې کول د کافرو طريقه ده، دا بيماري دلته هُم عامه ده چې خلق د ټولې دُنيا عيبونه او غيبتونه بيانوي او پخپله د هغوئي نه زيات په عيبونو کښې ککړ وي. [3] په دې آيت کښې خبر ورکړے شوے دے چې کُفّار به هميشه مسلمانانو سره دُښمني ساتي او څومره چې کيدے شي هغوئي به مسلمانان د دِين نه د اړولو کوشش کوي چنانچه نن هُم د کُفّارو زرګاؤ تنظيمونه په نوو نوو طريقو مسلمانان د اسلام نه اړولو او د هغوئي اخلاقيات تباه کولو او د هغوئي د ايمان کمزوري کولو په کوشش کښې لګيا دي.

أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا

دُنیا او آخرت کښي برباد شول، او هغوئي دوزخیان دي او هغوئي به په هغي کښي

خَالِدُونَ ﴿٢١٧﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي

همیشه اوسیږي ❶ (٢١٧) بیشکه هغه خلق چي ایمان ئي راوړو او هغوئي چا چي د الله د پاره هجرت اوکړو او د الله په لاره کښي ئي

سَبِيلِ اللَّهِ ۙ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٢١٨﴾

جهاد اوکړو، هغوئي د الله د رحمت امیدوار دي ❷ او الله بخښونکے مهربانه دے (٢١٨)

يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَ

تا نه د شرابو او جُوارئ مُتَعَلِّق تپوس کوي. ته اوفرمایه: په دي دواړو کښي کبیره ګناه ده او

مَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا ۗ وَيَسْأَلُونَكَ

د خلقو لپاره پکښي څه دُنیوي ګټي هُم دي او د دي دواړو ګناه د دي د ګټي نه زیاته لویه ده، او تا نه تپوس کوي

مَاذَا يُنْفِقُونَ ۖ قُلِ الْعَفْوَ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ

چي (د الله په لاره کښي) څه خرچ کړي؟ ته اوفرمایه:: څه چي زیات پاتي شي. هُم دغه شان الله تاسو ته آیتونه بیانوي

لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١٩﴾ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۗ وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ

د پاره د دي چي تاسو غور و فِکر اوکړئ (٢١٩) د دُنیا او آخرت په کارونو کښي (غور و فکر کوئ) او تا نه د یتیمانو د مسئلے

الْيَتَامَىٰ ۖ قُلْ إِصْلَاحٌ لَهُمْ خَيْرٌ ۖ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ ۚ وَ

تپوس کوي. تاسو اوفرمائے: هغوئي سره ښیګړه کول بهتر دي ❸ او که د هغوئي سره یو ځائے خرچ کوئ نو ستاسو وروڼه دي، او

---

حاشیه ❶ یاد ساتئ چي مُرتد کیدل ډیر سخت جرم دے، افسوس! نن د مسلمانانو اکثریت د دین د بُنیادي عقائدو نه لاعِلمه دے، [په دي وجه] د غم ښادئ په موقعو باندي د دوئي د خُلو نه ډیري کُفریه جُملے اُوځي. ❷ د دي نه معلومه شوه چي عمل کولو سره په الله تعالیٰ باندي اجر ورکول نه واجب کیږي بلکه ثواب ورکول صرف د الله تعالیٰ فضل دے. ❸ اګر چي دا آیت د یتیمانو د مالي اصلاح په باره کښي نازل شوے دے خو د اصلاح په لفظ کښي ټول مصلحتونه داخل دي. د یتیمانو د اخلاقو، اعمالو، تربیت، تعلیم د ټولو اصلاح کول پکار دي. داسي اوګڼئ چي یتیمان د ټول مسلم قوم د پاره د اولاد په شان دي.

اللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ

الله ورانوونکے کس د اصلاح کوونکي نه جُدا ډېر ښه پيژني ❶ او که الله غوښتلے نو تاسو به ئې په مشقت کښې اچولي وے. بيشکه

اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٢٠﴾ وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ وَ

الله زبردست حکمت والا دے (٢٢٠) او مشرکو ښځو سره نکاح مه کوئ تر څو چې مسلماني نه شي، او

لَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا تُنْكِحُوا

او بيشکه مسلمانه وِينزه د مُشرکې ښځې نه ښه ده اگر چې هغه ستاسو خوښه وي، او (مسلمانانې ښځې)

الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ؕ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّلَوْ

د مشرکانو په نکاح کښې مه ورکوئ ❷ تر څو چې هغوئي ايمان نه وي راوړے او بيشکه مسلمان غلام د مشرک نه ښه دے اگر چې هغه مشرک

اَعْجَبَكُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۖۚ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلَى الْجَنَّةِ

ستاسو خوښ وي، هغوئي د دوزخ طرف ته بلل کوي او الله په خپل حکم د جنّت

٢٧ ع ٥ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ۚ وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٢١﴾ ع وَ

او بخښنې طرف ته بلل کوي، او خپل آيتونه د خلقو د پاره بيانوي د دې چې هغوئي نصيحت حاصل کړي (٢٢١) او

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ؕ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي

تا نه د حيض په باره کښې تپوس کوي، ته اوفرمايه: هغه ناپاکي ده نو د حيض په ورځو کښې د ښځو نه

---

حاشيه ❶ دا فرمان نهايت جامع دے او د ژوند د زرګاو شعبو په لکونو معاملاتو کښې د رهنمائي د پاره کافي دے، چې چرته په هُم يو څيز کښې ښه او بد دواړه نيتونه ممکن دي، هلته که نورو خلقو ته د بد نيت مُتَعَلِّق نه وي معلوم نو الله تعالیٰ ته خو معلوم دي. ❷ انتهائي افسوس دے چې په قرآن کښې دومره صراحت او وضاحت سره د حُکم راتلو باوجود د مسلمانانو هلکانو د مُشرکو جينکو سره او هُم دغسې د کافرو هلکانو او مسلمانو جينکو په خپل مينځ کښې د ودونو رواج ورځ په ورځ زياتيږي. د دې ټول صورتحال وَبال په دې کښې د اخته کيدلو هلکانو او جينکو په سر دے او په هغو مور و پلار هُم کوم چې په خوشحالئ خوشحالئ خپل اولاد دې دوزخ ته غورزوي، هُم دغسې د دې وَبال تش د نوم جاهلانو دانشورو، د لِبرل اِزم د مريضانو او د دِين دُښمنانو قلمکارو باندې هُم دے کوم چې د دې په تائيد او حمايت کښې ليکل کوي.

الْمَحِيضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ۖ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ

بیل اوسیږئ او هغوئي ته مه نزدې کیږئ تر څو چې هغوئي پاکې نه شي ① بیا چې کله هغوئي ښې پاکې شي نو هغوئي له د هغه ځائے نه ورشئ

مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ

د کوم ځائے نه [د ورتللو] چې تاسو ته الله حُکم درکړے دے، بیشکه الله د ډیرې توبې کوونکو سره محبت فرمائي او ډیر صفا سُتهره

الْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾ نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ

اوسیدونکي خوښوي (۲۲۲) ستاسو ښځې ستاسو پټي دي نو خپلو پټو ته چې څنګه غواړئ

شِئْتُمْ ۖ وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ مُلَاقُوهُ ۗ

راشئ ② او د خپلې فائدے کار مخکښې اوکړئ او د الله نه تل ویریږئ او پوهه شئ چې تاسو به هغه سره مخامخ کیږئ

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٢٣﴾ وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِأَيْمَانِكُمْ أَنْ

او اے حبیبه! ایمان والؤ ته زیرے ورکړه (۲۲۳) او د خپلو قسمونو په وجه د الله نُوم په احسان کولو کښې او پرهیزګاري اختیارولو کښې

تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٤﴾ لَا

او د خلقو په مینځ کښې صُلح کولو کښې رُکاوټ مه جوړوئ ③ او الله اوریدونکے او عِلم والا دے (۲۲۴) او

يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَٰكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا

الله به په هغه قسمونو تاسو نه نیسي کوم چې ستاسو د ژبې نه بے اراده اُوځي ④ خو په هغې نیول کوي د کومو چې ستاسو

كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٢٥﴾ لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ

زړونو اراده کړې وي، او الله ډیر بخښونکے، ډیر حِلم والا دے (۲۲۵) او هغه خلق کوم چې خپلو ښځو د نه ورتللو

---

حاشیه ① د حیض په حالت کښې ښځو سره کوروالے کول حرام دي، باقي د هغوئي سره خبرې کول، هغوئي سره خوراک څښاک کول تر دې چې د هغوئي جُوټه خوړل هم جائز دي، ګناه نه ده. ② خپلې ښځې سره په هره طریقه کوروالے جائزه دے، په شرط د دې چې صُحبت په مخکښني مُقام کښې وي. ③ دلته یوه اهمه مسئله یاده ساتئ چې که یو کس د نیکئ نه کولو قَسَم اوخوري نو هغه ته پکار دي چې قسم نه پوره کوي بلکه هغه نیک کار دې اوکړي او د قسم کفَّاره دې ورکړي. ④ په خبره خبره قسم خوړل نه دي پکار، بعضې خلقو قسم خپل تکیهٔ کلام جوړ کړے وي چې په اراده او بے اراده ئې په ژبه قسم جاري وي او د دې خبرې هُم خیال نه ساتي چې خبره رښتیا ده او که دروغ، دا سخت معیوب عمل دے.

نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ۚ فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٢٦﴾

قسم اُوخوري د هغوئي د پاره د څلورو مياشتو مُهلت دے، پس كه په دې موده كښې هغوئي رجوع اوكړي نو الله بخښونكے مهربانه دے ① (٢٢٦)

وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٢٧﴾ وَالْمُطَلَّقٰتُ

او كه هغه د طلاق پخه اراده اوكړي نو الله اوريدونكے، عِلم والا دے (٢٢٧) او طلاق والا ښځې دې

يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ۭ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ اَنْ يَّكْتُمْنَ مَا

خپل ځانونه درې حيضونو پورې حصارې ساتي، او هغوئي له حلال نه دي چې هغه پټ كړي

خَلَقَ اللّٰهُ فِيْٓ اَرْحَامِهِنَّ اِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ وَ

څه چې الله د هغوئي په خيټو كښې پيدا كړي دي كه په الله او قيامت باندې ايمان لري، او

بُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا ۭ وَلَهُنَّ

د هغوئي خاوندان په دې موده كښې د هغوئي د بيرته ګرځولو حق لري كه هغوئي د اصلاح اراده لري ② او د ښځو د پاره

مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۠ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۭ وَ

هُم په سړو د شريعت مطابق هُم داسې حق دے څنګه چې (د هغوئي) په ښځو دے، او

٢٨ ع ٧ ١٢ اللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٢٨﴾ اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۠ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ

سړو ته په هغوئي فضيلت حاصل دے او الله غالِب، حكمت والا دے (٢٢٨) طلاق دوه ځله پورې دے، بيا د ښيګړې سره ځان سره حصار ول دي يا په

---

حاشيه ① دا قسم خوړل چې زه به د خپلې ښځې سره څلور مياشتو پورې يا هيڅ كله هُم صُحبت نه كووم، دې ته اِيلاء وائي. د دې حُكم دا دے چې كه قَسم مات كړي او د څلورو مياشتو نه مخكښې صُحبت اوكړي نو بيا خو په هغه باندې د قسم كفّاره واجب ده او كه داسې اونكړي نو څلور مياشتې پس به ښځې ته طلاقِ بائنه اوشي. ② په آيت كښې د "اَرَادُوْٓ" د لفظ نه دا هُم معلومه شوه چې په طلاقِ رَجعي كښې د رجوع د پاره د ښځې خوښه ضروري نه ده صرف د سړي رجوع كافي ده، خو د ظُلم كولو او د ښځې نه د خپل انتقام اخستلو د پاره رجوع كول سخته بده خبره ده. افسوس چې زمونږ په خوا و شا كښې د دې جهالت كمے هُم نشته، ښځې د ظلم او د سخركنئ نه د انتقام اخستلو ذريعه جوړولې كيږي تر دې چې بعضې وخت خو واده صرف په دې نيت كيږي او بعضې وخت د طلاق نه پس رجوع هم په دې بد نِيَّت كوي.

تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ ۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ

ښه طريقه پرېښودل دي، ① او ستاسو د پاره جائز نه دي چې تاسو ښځو ته څه ورکړي دي د هغې نه څه بيرته

شَيْئًا إِلَّا أَنْ يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا يُقِيمَا

واخلئ خو په دې صورت کښې چې دواړه انديښنه لري چې هغوئي به د **الله** حدونه قائم اُونه ساتلے شي، نو که تاسو انديښنه لرئ چې ښځه او خاوند به

حُدُودَ اللَّهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ

د **الله** حدونه قائم نه کړے شي نو په هغوئي باندې په هغې (مالي معاوضه) کښې هيڅ ګناه نشته کومه چې ښځه په بدله کښې ورکړي او

اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا ۚ وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٢٩﴾

خلاصے حاصل کړي، دا د **الله** حدونه دي د دې نه مخکښې مه اَوړئ او څوک چې د **الله** د حدونو نه مخکښې واوړي نو هُم هغه ظالـمان دي (۲۲۹)

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۗ

بيا که خاوند ښځې له دريم طلاق ورکړي نو بيا به هغه ښځه د هغه د پاره نه حلالېږي تر څو پورې چې د بل خاوند سره نکاح اونکړي ②

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا

بيا هغه بل خاوند که هغې ته طلاق ورکړي نو په هغو دواړو باندې د يو بل طرف ته راګرځيدلو کښې هيڅ ګناه نشته که هغوئي دا ګمان چې (اوس به

حُدُودَ اللَّهِ ۗ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٢٣٠﴾ وَ

د **الله** حدونه قائم اُوساتي، او دا د **الله** حدونه دي کوم چې هغه د عقلمندو د پاره بيانوي (۲۳۰) او

حاشيه ① په ښه طريقه باندې د ځان سره حصارولو نه مُراد د رجوع کولو په ذريعه حصارول دي او په ښه طريقه باندې پرېښودلو نه مراد چې (يو) طلاق ورکړي او عدت ختميدلو ته ئې پرېږدي چې په دې طريقه صرف يو طلاق بائنه شي. شريعت په طلاق ورکولو او نه ورکولو دواړو صورتونو کښې د ښيګړې او خير خواهئ فرمائيلي دي، زمونږ په دې زمانه کښې د خلقو يو ګڼ شمير په دواړو صورتونو کښې اُلټه چليږي، په طلاق ورکولو کښې هم غلطه طريقه او د ښځې په ساتلو کښې هُم غلطه طريقه. **الله** تعالیٰ دې ټولو ته هدايت ورکړي. ② درې طلاقونه که په درې مياشتو کښې ورکړے شي يا په يوه مياشت کښې يا په يوه ورځ کښې يا په يو مجلس کښې يا په يوه جُمله کښې، په هر صورت کښې درې واړه واقع کيږي او ښځه په سړي باندې حرامه شي. د درې طلاقو نه پس بغير د شرعي طريقے نه د ښځې او د سړي کوروالے وغيره کول صريح حرام او ناجائزه دي او د داسې روغې کولو کوشش کوونکي هم په ګناه کښې برابر شريک دي.

اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ
چې کله تاسو ښځو ته طلاق ورکړئ او هغوئي د خپل (عِدّت آخري) مودے ته (نزدې) اورسي نو هغه وخت هغوئي په ښه طريقه څان سره حصاري کړئ يا
سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ ۖ وَلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا ۚ وَمَنْ
ئې په ښه طريقه پريږدئ او هغوئي د نقصان ورکولو د پاره مه حصاروئ چې تاسو (په هغوئي) زياتے اوکړئ [1] او څوک
يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ۫ وَّ
چې داسې اوکړي نو هغه په خپل څان باندې ظُلم اوکړو، او د الله د آيتونو نه ټوقې مه جوړوئ او
اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَ
په خپلو څانونو باندې د الله احسان ياد کړئ او هغه چې په تاسو باندې کوم کتاب او حکمت رانازل
الْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ
کړے دے (هغه ياد کړئ) هغه تاسو ته د هغې په ذريعه نصيحت فرمائي، او د الله نه تل ويريږئ او پوهه شئ چې الله په هر څه
عَلِيْمٌ ﴿٢٣١﴾ ع وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ
پوهيږي (۲۳۱) او چې کله تاسو ښځو ته طلاق ورکړئ او د هغوئي (د عِدّت) موده پوره شي نو اے د زنانو سرپرستو! هغوئي خپلو
اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ ذٰلِكَ
خاوندانو سره د نکاح کولو نه مه حصاروئ چې کله هغوئي د شريعت مطابق په خپل مينځ کښې رضامند شي دا
يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ
نصيحت هغه ته ورکولے کيږي څوک چې په تاسو کښې په الله او قيامت باندې ايمان لري. [2]

ع ٢٩ ١٣ الثلثة

حاشيه [1] [د يو يا دوه] طلاقو والا ښځې ته د عِدَّت ختميدلو نه مخکښې د رُجُوع کولو يا نه کولو اختيار دے خو دا اختيار د ظُلم او زياتي حِيله جوړول ممنوع او ناجائزه دي. څوک چې داسې کوي هغه در اصل په خپل څان باندې ظُلم کوي او دا کار سراسر د الله په آيتونو پورې د ټوقو کولو برابر دے، داسې کسانو ته ياد ساتل پکار دي چې که په ښځو باندې ظُلم او زياتے کول او د احکامِ شرعِيه مخالفت نه که په کائنات کښې بل څوک هُم نه وي خبر نو الله تعالیٰ ته خو يقيناً هر څه معلوم دي او د هغه په بارګاه کښې خو به ضرور جواب ورکول وي. [2] چې کله د کومې ښځې عِدّت تير شي او د عِدّت نه پس هغه د چا سره د نکاح اراده اوکړي، که هغه څوک نوے سړے وي او يا که هُم هغه وي چا چې (رجعي يا د درې نه کم بائنه) طلاق ورکړے وو نو که هغه سړے او ښځه دواړه رضامند وي نو د زنانه سرپرستو ته د بے وجه منع کولو حق نشته.

ذٰلِكُمْ اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٢﴾

دا ستاسو د پاره زيات صفا او پاکيزه کار دے او الله پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ① (٢٣٢)

وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ

او ميندې دې خپلو بچو ته پوره دوه کاله پيئ ورکوي،② (دا حُکم) د هغه د پاره (دے) څوک چې د پيئ ورکولو موده پوره

الرَّضَاعَةَ ؕ وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ لَا

کول غواړي، او د ماشوم په پلار باندې د رواج مطابق د ښځو د طعام او لباس ذمه واري ده، په

تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ ۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ

يو نفس باندې به صرف دومره بوج اچولے کيږي څومره چې د هغې طاقت وي. مور ته دې د هغې د اولاد په وجه تکليف ورنکړے شي او نه دې پلار

بِوَلَدِهٖ ۗ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ۚ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ

ته د هغه د اولاد په وجه تکليف ورکړے شي③ او څوک چې د پلار قائم مقام دے په هغه باندې هُم داسې (حُکم) دے④ بيا که مور او پلار دواړه

مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ؕ وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ

په خپلو کښې رضامندئ او مشورے سره د پيئو نه پريکړه کوي نو په هغوئ گناه نشته، او که تاسو غواړئ چې

---

حاشيه ① يعني په دې حُکم باندې عمل کول ستاسو د پاره د زياتې پاکيزګئ او طهارت باعث دې ځکه چې بعضې وخت د سابقه تعلقاتو په وجه ښځې غلط قدم پورته کړي او هغه بيا وروستو د ټولو د پاره د پريشانئ باعث جوړ شي، ځکه زنانه د بلې نکاح نه بے وجه مه منع کوئ. ② ماشوم ته د پيئو ورکولو مُتَعَلِّق د احکامو د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره تفسير صِراطُ الْجِنان، ج۱، ص ۳۵۷ اوګورئ. ③ مور ته تکليف ورکول دا دي چې په کوم صورت کښې په هغې باندې ماشوم ته پيئ ورکول ضروري نه دي په هغې کښې هغه په پيئ ورکولو مجبوره کول او پلار ته تکليف ورکول دا دي چې په هغه باندې د هغه د طاقت نه زياته ذِمه واري واچولے شي. يا د آيت دا معنٰى ده چې نه دې مور بچي ته تکليف ورکوي او نه پلار، د مور ماشوم ته تکليف ورکول دا دي چې هغه ته په وخت پيئ نه ورکوي او د هغه خيال نه ساتي، يا ئې په ځان پسې عادت کولو نه پس پريږدي او د پلار بچي ته تکليف ورکول دا دي چې د مور سره عادت ماشوم د هغې نه په زور واخلي او يا د هغه د مور په حق کښې کوتاهي کوي چې د هغې نه هغه ته نقصان اورسي. ④ که د ماشوم پلار وفات شوے وي نو کومې ذمه دارئ چې په پلار باندې وي بيا به هغه د هغه په قائم مقام باندې وي.

تَسْتَرْضِعُوْۤا اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَیْكُمْ اِذَا سَلَّمْتُمْ مَّاۤ اٰتَیْتُمْ

د نورو ښځو په ذريعه خپلو بچو ته پئ ورکړئ نو هُم په تاسو هيڅ باک نشته هله چې تاسو کومه معاوضه ورکول مقرر کړي دي چې هغه

بِالْمَعْرُوْفِؕ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ وَ اعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ﴿۲۳۳﴾

په ښه طريقه ادا کړئ، او د **الله** نه تل ويريږئ او پوهه شئ چې **الله** ستاسو کارونه وِيني (۲۳۳)

وَ الَّذِیْنَ یُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَ یَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا یَّتَرَبَّصْنَ

او په تاسو کښې چې څوک مړ شي او ښځې ترينه پاتې شي نو هغه ښځې دې څلور مياشتې

بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرًاۚ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ

او لس ورځې خپل ځانونه حصار ساتي ① نو چې کله هغه خپلې (اختتامي) مودے ته اورسي نو اے سرپرستو! تاسو باندې په دې کار کښې هيڅ

عَلَیْكُمْ فِیْمَا فَعَلْنَ فِیْۤ اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِؕ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

باک نشته څه چې ښځې په خپله معامله کښې د شريعت مطابق اوکړي ② او **الله** ستاسو د کارونو نه

خَبِیْرٌ ﴿۲۳۴﴾ وَ لَا جُنَاحَ عَلَیْكُمْ فِیْمَا عَرَّضْتُمْ بِهٖ مِنْ خِطْبَةِ

خبردار دے (۲۳۴) او په تاسو باندې په دې خبره کښې هيڅ ګناه نشته چې په څه اشاره کنايه تاسو

النِّسَآءِ اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِیْۤ اَنْفُسِكُمْؕ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ

ښځو ته د نکاح پيغام ورکړئ يا ئې خپل زړه کښې پټ اوساتئ. **الله** ته معلومه ده چې اوس به تاسو

سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ وَ لٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا اِلَّاۤ اَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا

د هغو تذکره کوئ خو هغو سره پټه وعده مه کوئ مګر دا چې د شريعت مطابق څه

مَّعْرُوْفًا۬ؕ وَ لَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى یَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗؕ

خبره اوکړئ، او د نکاح عقد مه پخوئ تر څو پورې چې (د عِدّت) ليکلے شوے (حکم) خپلې (اختتامي) مودے ته اُونه رسي،

---

حاشيه ① په دې آيت کښې د مړ شوي سړي د ښځې د عِدّت بيان دے چې د ښځې عِدّت څلور مياشتې او لس ورځې دے. دا په داسې صورت کښې چې سړے د [اسلامي] مياشتې په وړومبي تاريخ وفات شوے وي، ګني ښځه به يو سل او ديرش ورځې پوره کوي. نور تفصيل په تفسير **صِراطُ الْجِنان**، ج ۱، ص ۳۵۹ کښې اوګورئ. ② د دې نه معلومه شوه چې ښځو ته د شريعت په دائره کښې اوسيدلو سره د خپلو معاملاتو اختيار شته او هغه پخپله هُم خپله نکاح کولے شي البته په مشوره چليدل بهرحال بهتر دي.

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ

او پوهه شئ چې الله ته معلوم دي څه چې ستاسو په زړونو کښې دي او د هغه نه اُويَريږئ او پوهه شئ چې

ع ۴ ۳۰ ۱۴ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿٢٣٥﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا

الله ډير بخښونکے، حِلم والا دے[1] (۲۳۵) که تاسو ښځو له طلاق ورکړئ نو تر څو چې تاسو هغوئي له

لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۚۖ وَّمَتِّعُوْهُنَّ ۚ عَلَى

لاس نه وي وروړے يا مو څه مهر نه وي مقرر کړے تر هغې پورې په تاسو هيڅ مطالبه نشته[2] او هغوئي ته (يوه جوړه) استعمال د پاره ورکړئ. په

الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ ۚ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى

مالدار باندې د هغه د طاقت مطابق او تنګدسته باندې د هغه د طاقت مطابق ورکول لازم دي. د شرعي دستور مطابق هغوئي ته فائده اورسوئ،[3] دا په

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٢٣٦﴾ وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ

ښيګړه کوونکو باندې واجب دي (۲۳۶) که تاسو ښځو له هغو سره د يو ځائے کيدلونه مخکښې طلاق ورکړئ او تاسو د هغو د پاره څه

فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ اَوْ يَعْفُوَا

مهر هُم مقرر کړے وي نو څومره چې تاسو مقرر کړے وو د هغې نيم واجِب دے مګر دا که ښځې څه مهر معاف کړي يا هغه (خاوند) زيات ورکړي

الَّذِيْ بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ؕ وَاَنْ تَعْفُوْٓا اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ؕ وَلَا

د چا په لاس کښې چې د نکاح غُوټه ده، او اے سړو ستاسو زيات ورکول پرهيزګارئ ته زيات نزدې دي،[4] او په

حاشيه [1] د وفات عدت تيروونکي ښځې سره نکاح کول يا د نکاح ښکاره پيغام ورکول يا ورسره د نکاح وعده کول حرام دي خو په پرده کښې د نکاح خواهش ښکاره کول ګناه نه ده مثلًا چې دا ورته اُووائي چې، ته خو ډيره نيکه ښځه ئې، يا خپله اراده په زړه کښې اوساتي او په ژبه هيڅ اُونه وائي، دا هُم ګناه نه ده. [2] دې آيت نه د مهر يو څو مسائل بيانيږي. د هغې تفصيل باندې پوهيدلو د پاره تفسير صِراطُ الْجِنان، جلد اص ۳۶۱ تا ۳۶۳ اوګورئ. [3] د دې آيتونو نه معلومه شوه چې عِلمِ فِقه د ډير فضيلت او اهميت حامل دے ځکه چې په دې کښې عباداتو سره سره د معاملاتو، لکه د نکاح، حق مهر او طلاق وغيره متعلق هم شرعي احکام بيانيږي. [4] د ښځې له طرفه معافي دا ده چې هغه د نِيم مهر نه څه حصه يا پوره معاف کړي. او د سړي له طرفه معافي دا ده چې که هغه پوره مهر ادا کړے وي نو باقي نيم بيرته وانخلي او د زيات ورکولو صورت دا دے چې د نيم ورکولو په ځائے پوره مهر ورکړي.

تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ط اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٣٧﴾

خپل مینځ کښې په یو بل احسان کول مه هېروئ بیشکه **اللّٰه** ستاسو کارونه وِیني (1) (٢٣٧)

حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ق وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴿٢٣٨﴾

د ټولو لمونځونو پابندي اوکړئ او خصوصاً د مینځني لمونځ او د **اللّٰه** په حضور کښې په ادب اودرېږئ (٢٣٨)

فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا ج فَاِذَآ اَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ

بیا که تاسو دوېرې په حالت کښې ئے نو پیاده یا سواره (چې څنګه کیدے شي لمونځ اوکړئ) (2) بیا چې کله دا طمینان په حالت کښې شئ نو **اللّٰه** یاد کړئ

كَمَا عَلَّمَكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٩﴾ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ

څنګه چې هغه تاسو ته زده کړي دي کوم چې تاسو ته نه وو معلوم (٢٣٩) او څوک چې په تاسو کښې

مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ج صلے وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا اِلَى

مړه شي او ښځې ترینه پاتې شي هغوئي دې د خپلو ښځو د پاره (کورونو نه) د ویستلو نه بغیر د پوره

الْحَوْلِ غَيْرَ اِخْرَاجٍ ج فَاِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْ مَا

کاله پورې د خرچې ورکولو وصیت اوکړي (3) بیا که هغوئي پخپله اُوځي نو په تاسو باندې په دې معامله کښې هیڅ مواخذه نشته څه چې

فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوْفٍ ط وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٤٠﴾ وَ

هغوئي په خپله باره کښې د شریعت مطابق اوکړي او **اللّٰه** زبردست، (4) حکمت والا دے (٢٤٠) او

---

حاشیه (1) د طلاق معامله دومره سخته وي چې عام طور دواړه فریقه د انتقام جذبے رانده کړي وي او د یو بل د وژلو خواهشمند وي خو **اللّٰه** تعالیٰ په دې حال کښې هم د حُسنِ سُلوک حکم فرمائي او په دې کښې هم خصوصاً سړي ته زیات تاکید دے ځکه چې زیات تکلیف عام طور د سړي او د هغه د خاندان له طرفه ورکولے کیږي. (2) دلته د دُښمن یا د سرے خورو ځناورو وغیره د ویرې په حالت کښې د لمانځه حُکم او طریقه بیان کړے شوې ده، که د ویرې داسې صورت وي چې په یو ځائے کښې اودریدل ناممکنه شي نو پیاده تللو کښې یا په سورلئ چې څنګه کیدے شي لمونځ اوکړئ. (3) د اسلام په شروع کښې د کونډې عِدّت یو کال وو او هغه یو کال به هغه د خاوند په کور کښې ناسته وه او د نان نفقے مُستحِقه به وه، بیا د یو کال عدت خو د سُوْرَةُ الْبَقَرَه د آیت نمبر ٢٣٤ په ذریعه منسوخ شو او د ټول کور نفقه د سورۂ نِسآء د آیت نمبر ١٢ یعني د مِیراث په آیت منسوخ شو. (4) عربي لفظ "عَزِیْزٌ" د عزة نه جوړ شوے دے، دا په مختلفو معنو کښې استعمالیږي، لکه عزت والا، غلبے والا او زبردست وغیره

لِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۴۱﴾ كَذٰلِكَ

د طلاق والا ښځو و د پاره هُم د شرعي دستور مطابق خرچه ده، ❶ دا په پرهيزګارو باندي واجب ده (۲۴۱) الله هُم دغسي ستاسو

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۴۲﴾ ع اَلَمْ تَرَ اِلَى ع ۳۱ ۷ ۱۵

د پاره خپل آيتونه واضحه بيانوي د پاره د دي چي تاسو پوهه شئ (۲۴۲) اے حبيبه! آيا تا هغه خلق

الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ اُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ ۠ فَقَالَ لَهُمُ

نه وو ليدلي کوم چي د مرګ له ويري د زرګاؤ په شمير کښي د خپلو کورونو نه اُووتل نو الله هغوئي ته اوفرمائيل:

اللّٰهُ مُوْتُوْا ۫ ثُمَّ اَحْيَاهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَ

مره شئ، ❷ بيا ئي ژوندي کړل، بيشکه الله په خلقو فضل کوونکے دے

لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۲۴۳﴾ وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ

خو اکثر خلق شُکر نه ادا کوي (۲۴۳) او د الله په لاره کښي

اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۴﴾ مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ

اوجنګيږئ او پوهه شئ چي الله اوريدونکے او علم والا دے (۲۴۴) څوک شته چي الله له ښه

قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗٓ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً ؕ وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَ

قرض ورکړي ❸ نو الله به د هغه د پاره هُغه قرض په ډير چنده زيات کړي او الله تنګي راولي او

يَبْصُۜطُ ۠ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۴۵﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْۢ بَنِيْٓ

فراخي راولي او تاسو به هُم د هغه په طرف ګرځولے کيږئ (۲۴۵) اے حبيبه! آيا تا د بني اسرائيلو يوه ډله

---

حاشيه ❶ دلته په آيت کښي دا بيان کړے شوي دي چي د طلاق په عدت کښي په خاوند باندي ښځي ته نان نفقه ورکول لازم دي. د تفصيل د پاره بهارِ شريعت، جلد ۱ حصه ۸ نه "د نان نفقے بيان" اولولئ. ❷ د دي واقعے نه معلومه شوه چي انسان د مرګ له ويري په تيښته ځان نه شي خلاصولے، تښتيدل بے کاره دي، کوم مرګ چي مُقدر دے هغه به ضرور راځي. انسان ته پکار دي چي د الله په رضا باندي راضي اوسي. ❸ د الله په لار کښي اخلاص سره خرچ کول ئي د قرض سره تعبير کړي دي دا د الله تعالیٰ د کمال درجے لُطف و کرم دے ځکه چي بنده هغه جوړ کړے دے او د بنده مال د هغه عطا کړے دے، حقيقي مالِک هُم هغه دے او بنده د هغه په عطا مجازي مِلک لري خو بيا ئي هُم د مجازي مِلک والا ورکړه قرض سره تعبير کړي ده.

وقف لازم

اِسْرَآءِيْلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى ۘ اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا

اُونه ليدله د موسیٰ نه پس، ❶ چې کله هغوئي خپل يو نبي ته اُووئيل چې زمونږ د پاره يو بادشاه مقرر کړې

نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ

چې مونږه د الله په لاره کښې جنګ اوکړو، هغه نبي اُوفرمائيل: آيا داسې خو به نه کيږي چې که په تاسو جهاد فرض

الْقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ قَالُوْا وَمَا لَنَآ اَلَّا نُقَاتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ

کړے شي نو بيا تاسو جهاد نه کوئ؟ هغوئي اُووئيل: په مونږ څه شوي دي چې مونږه د الله په لار کښې جنګ اُونکړو حالانکه

قَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَاَبْنَآئِنَا ؕ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ

مونږه د خپل وطن او خپل اولاد نه وِيستلے شوي يُو ❷ نو بيا چې کله په هغوئي جهاد

الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٤٦﴾ وَ

فرض کړے شو نو په هغوئي کښې د لږو خلقو نه علاوه (باقي) ټولو مخ اوګرځولو، او الله ظالمان ډير ښه پيژني (٢٤٦) او

قَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا ؕ قَالُوْٓا اَنّٰى

هغوئي ته د هغوئي نبي اُوفرمائيل: بيشکه الله طالُوت ستاسو بادشاه مقرر کړے دے. ❸ هغوئي اُووئيل: ده ته

يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ

په مونږه باندې څنګه بادشاهي حاصله شوه حالانکه مونږه د ده نه زيات د بادشاهۍ مستحِق يُو او ده ته په مال کښې هُم

سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهٗ بَسْطَةً

فراخي نه ده ورکړې شوې. هغه نبي اُوفرمائيل: دا الله په تاسو باندې مُنتخب کړے دے او ده ته ئې په عِلم او

---

حاشيه ❶ د جهاد حُکم ورکولو نه پس اوس د جهاد د همت او حوصلے پيدا کولو والا يوه واقعه د ډيرو زړه راښکونکو تفصيلاتو سره بيانيږي. ❷ د دې واقعے نه دا هُم معلومه شوه چې کله د قوم اعتقادي او عملي حالت خراب شي نو په هغوئي باندې ظالِم او جابِر قومونه مُسلط کړے شي. که دې آيت ته اوکتلے شي او د ټولې دُنيا د مسلمانانو ملکونو اعتقادي او عملي حالت ته اوکتلے شي نو پاسنۍ [يعني په دې آيتونو کښې بيان شوې] نقشه به په واضحه طور ښکاره شي. د قرآن د داسې قِسم وا قعات بيانول صرف تاريخي واقعات بيانول نه دي بلکه د عبرت او نصيحت طرف ته راوستل مقصد دي. ❸ د عربي لفظ "بَعَثَ" لُغوي معنیٰ ده يو څيز اُودرول، او د مختلفو قرائنو په اعتبار د دې معنیٰ بدليږي رابدليږي، دلته دا لفظ د راليږلو او مقرر کولو په معنیٰ کښې دے.

فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ

بدن كښې فراخي زياته وركړي ده او **الله** چې چا له اوغواړي خپل مُلک وركوي، او **الله** فراخۍ والا،

عَلِيْمٌ ﴿٢٤٧﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖٓ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ

عِلم والا دے (٢٤٧) او هغوئي ته د هغوئي نبي اُوفرمائيل: د ده د بادشاهۍ نښه دا ده چې تاسو له به هغه

التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى وَ

تابُوت راشي په كوم كښې چې ستاسو د **رب** له طرفه د زړونو سكون دے او د مُعزّز موسیٰ او مُعزّز هارون ❶ د پرېښودو

اٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

څيزونو بقيه ده ❷ هغه به فرښتو راپورته كړے وي. بيشكه په دې كښې ستاسو د پاره لويه نښه ده كه تاسو

ع ٣٢ ٦ ١٢ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٤٨﴾ فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ

ايماندار ئې (٢٤٨) بيا چې كله طالُوت لښكر بوتلو او د ښار نه جُدا شو نو هغه اُووئيل: بيشكه **الله**

مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ لَّمْ

د يو نهر په ذريعه ستاسو ازميښت اخستو والا دے ❸ نو څوک چې د هغه نهر نه اُوبه اوڅښي هغه زما نه دے او چې څوک ئې

يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْٓ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوْا مِنْهُ

اُونه څښي هغه زما دے سِوا د دې نه چې څوک يو چونګ په خپل لاس كښې راواخلي، نو په هغوئي كښې د لږو شان خلقو

حاشيه ❶ بعضې عُلمائے كرامو فرمائيلي دي چې په تابُوت كښې د حضرت موسیٰ او حضرت هارون عَلَيْهِمَاالسَّلَام د امت د عُلماء تبركات وو، لِهذا د "اٰل" نه مراد هُم هغه عُلماء دي او بعضو فرمائيلی دی چې په تابُوت كښې د حضرت موسیٰ و هارون عَلَيْهِمَاالسَّلَام خپل تبرُّكات وو او "اٰل" د تعظيم په طور هُم د هغوئي د پاره استعمال شوے دے. ❷ د دې نه معلومه شوه چې د **الله** تعالیٰ د محبوبو بندګانو سره نِسبت لرونكے هر څيز بابركته وي څنګه چې په تابُوت كښې د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نعلَينِ شريفَين يعني پيزار مبارک هُم د بركت ذريعه وو. ❸ دې واقعے نه دا حِكمت هُم معلوم شو چې د جهاد نه مخكښې ازميښت كول بهتر دي. كه په عين موقع څوک بے زړه توب [بُزدِلي] ښكاره كړي نو د هغې نتيجه ښه نه وي. د امن په حالت كښې د فوځ تربيت او محنت او مشقت د هُم دې مقصد د پاره وي. او دا هُم معلومه شوه چې د يو غټ امتحان نه مخكښې د وړوكي امتحان نه تيريدل پكار دي چې دې سره په زړه كښې قُوّت پيدا كيږي.

اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۙ قَالُوْا

نه علاوه ټولو د هغه نهر نه اوبه اوڅښلې، بيا چې کله طالوت او هغه سره ملګري مسلمانان په نهر واوښتل نو هغوئي اُووئيل:

لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ

په مونږ کښې نن جالُوت او د هغه لښکريانو سره د مقابلے طاقت نشته. (خو) کومو چې الله سره د ملاقات يقين لرلو

مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةًۢ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

هغوئي اُووئيل: ډير ځله وړه ډله د الله په حُکم په لويه غالبه ډله راغلې ده ①

وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ قَالُوْا

او الله صبر کوونکو سره ملګرے دے (٢٤٩) بيا چې هغوئي جالُوت او د هغه لښکرونو سره مخامخ شو نو هغوئي عرض اوکړو:

رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ

اے زمونږه رَبه! په مونږه صبر را واچوې او مونږ ته ثابِت قدمي راکړې او د کافر قوم په مقابله کښې زمونږه

الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٥٠﴾ ؕ فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۙ قف وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَ

مدد اوفرمائے ② (٢٥٠) نو هغوئي د الله په حکم دُښمنان اُوزغلول او داؤد جالُود قتل کړو او

اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ؕ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ

الله هغه ته بادشاهي او حِکمت ورکړل او هغه ته ئې چې څه غوښتل ورزده کړل، او که الله په خلقو کښې

حاشيه ① اخلاص، جذبه او همت د الله تعالیٰ د مدد حاصلولو ذريعے دي او په اسلامي تاريخ کښې د وړې ډلې په لويه ډله باندې د غالب راتلو ډير مثالونه موجود دي، څنګه چې په غزوهٔ بدر کښې د مسلمانانو لږ شمير ٣١٣ د کافرو١٠٠٠ ته نزدې کسانو په لويه ډله باندې غالب راغلل، په جنګِ يرموک کښې د مسلمانانو پنځوس زره ته نزدې لښکر د کفارو د لسو لکو لوئے لښکر باندې غالب راغلو. ② دې نه معلومه شوه چې دُښمن سره جنګ کولو د پاره صرف ظاهري اسبابو باندې يقين کول نه دي پکار بلکه د الله پاک په بارګاه کښې د صبر، ثابِت قدمئ او د دُښمنانو خلاف د مدد دُعا هُم کول پکار دي چې د ظاهري اسبابو سره د الله تعالیٰ مدد هم شاملِ حال شي.

النَّاسَ بَعۡضَهُمۡ بِبَعۡضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ الۡاَرۡضُ وَ لٰکِنَّ اللّٰہَ ذُوۡ فَضۡلٍ

د يو په ذريعه بل لرې نه کړي نو ضرور به ځمکه تباه شي ① خو الله په ټول جهان باندې فضل

عَلَی الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۲۵۱﴾ تِلۡکَ اٰیٰتُ اللّٰہِ نَتۡلُوۡہَا عَلَیۡکَ بِالۡحَقِّ ؕ وَ اِنَّکَ

کوونکے دے (۲۵۱) دا د الله آيتونه دي کوم چې اے حبيبه! مونږه ستاسو په وړاندې حق سره تلاوت کوو، او بيشکه ته

لَمِنَ الۡمُرۡسَلِیۡنَ ﴿۲۵۲﴾

د رسولانو نه ئې (۲۵۲)

---

حاشيه ① دلته د جهاد د حکمت بيان دے چې په جهاد کښې په زرګاؤ مصلحتونه دي، که ګيا اُو نه ريبلے شي نو پټے به تباه شي، که د آپريشن په ذريعه فاسِد مَواد خارج نه کړے شي نو بدن به خراب شي، که غلان او ډاکوان ګرفتار نه کړے شي نو امن به برباد شي. هم دغسې د جهاد په ذريعه که کبرژن خلق، باغيان او سرکشه خلق دباؤ نه کړے شي نو بنه خلق به ژوند تير نه کړے شي.

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۘ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ

دا رسولان دي ❶ مونږ په دوئي کښې يو ته په بل باندې فضيلت عطا کړو، په دوئي کښې بعضو سره الله کلام فرمائيلے او ځوک هغه دے چې هغه ته

بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ

ئې ټولو باندې په درجو اوچتوالے عطا کړو ❷ او مونږه د مريم ځوئ عيسیٰ ته ښکاره نښې ورکړې او د پاکيزه رُوح په ذريعه مو د هغه

الْقُدُسِ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ مِّنْ

مدد اوکړو، او که الله غوښتلے نو د هغوئي نه پس والا خلق به په خپل مينځ کښې نه جنګيدلے، پس

بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَ

د هغې نه چې هغوئي ته ښکاره نښې راغلې وې خو هغوئي خپل مينځ کښې اختلاف اوکړو نو په هغوئي کښې ځوک مسلمان پاتې شو او

مِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۫ قف وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ

ځوک کافر شو او که الله غوښتلے نو هغوئي به جګړه نه کولے، خو الله چې څه غواړي

مَا يُرِيْدُ ﴿۲۵۳﴾ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ

هغه کوي ❸ (۲۵۳) اے د ايمان خاوندانو! زمونږ درکړي شوي رزق نه د الله په لاره کښې اولګوئ

مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ ؕ

د هغه ورځې د راتلو نه مخکښې چې په هغې کښې به نه څه اخستل خرڅول کيږي او نه به د کافرو د پاره دوستي وي او نه شفاعت ❹

---

حاشيه ❶ عربي لفظ "اَلرُّسُلُ" د رسُول جمع دے. ❷ په اصلِ نُبُوَّت يعني نبي کيدلو کښې خو ټول انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام برابر دي البته د هغوئي په درجو کښې فرق دے، بعضې د بعضو نه اعلیٰ دي او زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه اعلیٰ دے. ❸ الله تعالیٰ چې څه غواړي هغه کوي، د هغه په ملک کښې د هغه د ارادے خلاف ځوک هيڅ هُم نه شي کولے او هُم دا د الله تعالیٰ شان دے. مونږ ته دا حُکم شوے دے چې د الله تعالیٰ په حکم خپل سرونه ښکته کړو او څه چې ئې فرمائيلي دي د هغې مطابق عمل اوکړو. ❹ د قيامت په ورځ به هُم هغه مال پکار راځي کوم چې په دُنيا کښې د نيک کار د پاره خرچ کړے شوے وي او هُم دغسې به صرف نيک دوستان په کار راځي، او شفاعت به هم د الله تعالیٰ په اجازت کيږي او هغه هُم صرف د مسلمانانو لپاره.



ع ۳۳ ۵

وَالۡكٰفِرُوۡنَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ﴿٢٥٤﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلۡحَىُّ الۡقَيُّوۡمُ ۚ

او هُم کافران ظالـمان دي (١) (٢٥٤) الله هغه دے د چا نه سِوا چي بل معبود نشته (٢) هغه ېخپله ژوندے دے، د نورو قائم ساتونکے دے،

لَا تَاۡخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوۡمٌ ؕ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ

هغه ته نه پرکالي [يعني نه د خوب جټکه، پيرشاني] ورځي او نه خوب، څه چي په آسمانونو کښې دي او څه چي په زمکه کښې دي ټول د هغه دي.

مَنۡ ذَا الَّذِىۡ يَشۡفَعُ عِنۡدَهٗۤ اِلَّا بِاِذۡنِهٖ ؕ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمَا

څوک دے چي هغه ته د هغه د اجازت نه بغير سفارش اوکړي؟ هغه ته معلوم دي څه چي د هغوئي مخي ته دي او څه چي

خَلۡفَهُمۡ ۚ وَلَا يُحِيۡطُوۡنَ بِشَىۡءٍ مِّنۡ عِلۡمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ

د هغوئي شا ته دي، او خلق د هغه د عِلم نه صرف دومره حاصلولے شي څومره چي هغه غواړي، د هغه کُرسۍ آسمان او

السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ ۚ وَلَا يَـُٔوۡدُهٗ حِفۡظُهُمَا ۚ وَهُوَ الۡعَلِىُّ الۡعَظِيۡمُ ﴿٢٥٥﴾

زمکه په خپله فراخۍ کښې اخستي دي، او د هغوئي حفاظت هغه ستړے کولے نه شي او هُم هغه اوچت شان والا، عَظَمت والا دے (٢٥٥)

لَاۤ اِكۡرَاهَ فِى الدِّيۡنِ ۙۗ قَدۡ تَّبَيَّنَ الرُّشۡدُ مِنَ الۡغَىِّ ۚ فَمَنۡ يَّكۡفُرۡ

په دِين کښې هيڅ زور [زبردستي] نشته (٣) بيشکه د هدايت لاره د ګُمراهۍ نه بېله جُدا شوه نو څوک چي

بِالطَّاغُوۡتِ وَيُؤۡمِنۡۢ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسۡتَمۡسَكَ بِالۡعُرۡوَةِ الۡوُثۡقٰى ۚ

د شيطان اُونه مني او په الله ايمان راوړي هغه ډيره مضبوطه غُوټه [آسره] اونيوله،

حاشيه (١) د ظُلم معنٰی ده، يو څيز په غلط ځائے کښې استعمالول، د کافرو د ايمان په ځائے کُفر او د فرمانبردارۍ په ځائے ګناهونه او د شُکر په ځائے ناشُکري اختيارول د هغوئي ظُلم دے، او ولي چي دلته د ظُلم د ټولو نه بد تره درجه مُراد ده ځکه ئي فرمائيلي دي چي هُم کافران ظالـمان دي. (٢) دا آيت د "آيَةُ الۡكُرۡسِى" په نوم مشهور دے، په دې کښې د ذاتِ باري تعالٰی مُتَعَلِّق د انتهائي اعلٰی مسائلو بيان دے او په دې کښې چي بنده څومره غور کوي هغه همره پکښې د الله تعالٰی عَظَمت او د هغه په باره کښې عقائد واضحه کيږي. (٣) ياد ساتئ! يو کافر هُم په زور مسلمانول جائز نه دي خو مسلمان به د اسلام نه وتلو نه په زور منع کولے کيږي ځکه چي اسلام قبلولو نه پس کفر اختيارول د دِينِ اسلام توهين او د نورو د پاره د بغاوت لاره ده چي د دې بندول ضروري دي.

لَا انْفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٥٦﴾ اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ

چي هغه غوټه به کله هم نه خلاصيږي ① او الله اوريدونکے او عِلم والا دے (٢٥٦) الله د مسلمانانو دوست [مددګار]

اٰمَنُوْا ۙ يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۗ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ

دے هغوئي د تِيارو نه نُور طرف ته اُوباسي، ② او څوک چي کافر دي د هغوئي حمايتيان

الطَّاغُوْتُ ۙ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ۗ اُولٰٓئِكَ

شيطانان دي، هغه [شيطانان] هغوئي د نُور نه تِيارو طرف ته اُوباسي. هُم دا خلق

ع ٣٤ ٢ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٥٧﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ

دوزخ والا دي، دوئي به هميشه په هغي کښې اوسيږي (٢٥٧) اے حبيبه! آيا تا هغه نه وو ليدلے چا چي ابراهيم سره

وقف لازم اِبْرٰهٖمَ فِيْ رَبِّهٖٓ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ ۘ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ

د هغه د **رب** په باره کښې په دې وجه جګړه کړې وه چي **الله** هغه ته بادشاهي ورکړې ده، چي کله ابراهيم اوفرمائيل: زما **رب** هغه دے کوم چي ژوندي

وَيُمِيْتُ ۙ قَالَ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ۗ قَالَ اِبْرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَاْتِيْ

کول کوي او مړ کول کوي. هغه اُووئيل: زه هُم ژوند ورکووم او مرګ ورکووم. ابراهيم اُوفرمائيل: نو **الله**

بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ ۗ

لمر د مشرق نه راولي پس ته ئې د مغرب نه راوله. نو هغه کافر حيران پاتې شو ③

---

حاشيه ① هر سرکشه او ګُمراه ته طاغوت وئيلے کيږي. شيطان، نجومي، جادوګر او بُت وغيره د ټولو د پاره دا لفظ وئيلے کيږي. دلته په آيت کښې ئې د طاغُوت نه د بچ کيدلو فرمائيلي دي ځکه چي په اسلام باندې مضبوطيا سره هُم هغه [کس] قائم پاتي کيدے شي، څوک چي د بے دينو د صُحبت، اُلفت، د هغوئي کتابونه کتلو او د هغوئي وعظ اوريدلو نه لرې اوسي او څوک چي د خپل ايمان په رسئ پخپله چاره راښکارېي د هغه رسئ د کټ کيدلو نه بچ کيدل مشکل دي. ② د عربئ لفظ "ظُلُمات" نه کُفر او "نُور" نه ايمان مراد دے او ولې چي د کُفر په سوونو قسمونه دي او اسلام صرف يو دِين دے، ځکه دلته "نُور" واحد او "ظُلُمات" جمع ذکر کړے شوي دي. ③ په دې آيت کښې د عقائدو په باره کښې د مناظره کولو ثبوت دے او دا د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام سُنَّت دي، لِهذا مناظره کول بده خبره نه ده، البته په دې کښې چي کوم تَکَبُّر او سرکشي او د حق نه قبلولو اړخ داخل شوے دے دا بد دے او د هم دې وجوهاتو په وجه ئې علمائے کرام مذمت بيانوي.

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵۸﴾ اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ

او الله ظالمانو ته هدايت نهورکوي (۲۵۸) يا (آيا تا) هغه کس (اُونه ليدو) چې هغه په يوه استوګنه [آبادي] تيريدلو

وَّهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا ۚ قَالَ اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ

او هغه استوګنه په خپلو چتونو لويدلې پرته وه (۱) نو هغه کس اُووئيل: الله به دوئي د مرګ نه پس څنګه ژوندي کوي؟ نو الله هغه سل کاله د مرګ په

مَوْتِهَا ۚ فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ؕ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ؕ قَالَ

حالت کښې اوساتلو، بيا ئې ژوندے کړلو، (بيا ئې هغه کس ته) اوفرمائيل: ته دلته څومره موده حصار شوے ئې؟ هغه عرض اوکړو:

لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ قَالَ بَلْ لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ

زه به يوه ورځ يا د يوے ورځې نه هُم څه وخت کم حصار شوے يم. الله اوفرمائيل: (نه) بلکه ته دلته سل کاله حصار شوے ئې او خپل خوراک

اِلٰى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۚ وَانْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ ۫ وَلِنَجْعَلَكَ

او اُوبو ته اُوګوره چې تر اوسه پورې نه دي بد بوداره شوي او خپل خَرته اوګوره (چې هډوکي ئې هُم سلامت نه دي پاتې) او دا (هرڅه) ځکه (اوکړے شُو)

اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا

چې مونږه تا د خلقو د پاره يوه نښه جوړ کړو او دې هډوکو ته اوګوره چې مونږه دا څنګه راپاخوو (ژوندي کوو) بيا ورته غوښې

لَحْمًا ؕ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ ۙ قَالَ اَعْلَمُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

ور اغوندو، نو چې کله په هغه دا معامله ښکاره شوه نو هغه اُووئيل: زه ښه پوهيږم چې الله په هر څيز

قَدِيْرٌ ﴿۲۵۹﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ

قادِر دے (۲۵۹) او چې کله ابراهيم عرض اوکړو: اے زما رَبه! ته ما ته را اُوښائے چې ته به مړي څنګه ژوندي کوے؟

قَالَ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ ؕ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ ؕ

الله اوفرمائيل: آيا ته يقين نه لرې؟ ابراهيم عرض اوکړو: يقين ولې نه لرم خو دا (غواړم) چې زما زړه ته قرار حاصل شي. (۲)

---

حاشيه (۱) د اکثرو مفسرينو د قول مطابق په دې آيت کښې بيان شوې واقعه د حضرت عُزَير عَلَيْهِ السَّلَام ده او د هغه استوګنې [آبادئ] نه مُراد بيتُ المُقَدَّس دے. (۲) په دې آيت کښې د مړو د ژوندي کولو په باره کښې د الله تعالیٰ په عظيم قدرت باندې دلالت کوونکې يوه بله واقعه بيانيږي. د دې تفصيل باندې پوهيدلو د پاره تفسير صِراطُ الْجِنان جلد، ۱ صفحه ۳۹۳ اولولئ.

قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ

الله اُوفرمائيل:نو په مرغو کښې يو څلور مرغۍ اُونيسه بيا هغه ځان سره عادت کړه بيا د هغه ټولو يوه يوه

عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ وَاعْلَمْ

ټکړه په هر غر باندې کيږده بيا هغوئي را اُوبله نو هغوئي به ستا خوا ته په منډه منډه راشي او پوهه شه

أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦٠﴾ مَّثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ ع ٣٥ ٣ ٣

چې الله غالِب حِکمت والا دے ❶ (٢٦٠) د هُغه خلقو مثال کوم چې خپل مالونه د الله په لاره کښې خرچ

اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنبُلَةٍ

کوي ❷ د هُغه دانے په شان دے چې هغې ووه وَږي اوکړل، په هر وَږي کښې

مِّائَةُ حَبَّةٍ ۗ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾

سل دانے دي، او الله به ئې د دې نه هُم زياتې کړي د چا د پاره چې اوغواړي او الله فراخۍ والا، عِلم والا دے ❸ (٢٦١)

الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا

هُغه خلق چې خپل مالونه د الله په لاره کښې لګوي بيا د خرچ کولو نه پس

أَنفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى ۙ لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ

نه احسان زباتي او نه تکليف ورکوي ❹ د هغوئي انعام د هغوئي رب سره دے او په هغوئي به نه څه ويره وي

---

حاشيه ❶ د دې نه معلومه شوه چې د الله تعالیٰ په بارګاه کښې د انبياء و مُرسلين عَلَيۡهِمُ السَّلَام مرتبه ډيره اوچته ده، چې الله تعالیٰ د هغوئي خواهشات پوره کوي، د هغوئي دُعاګانې قبلوي، تر دې چې د هغوئي په دُعا مړي هُم ژوندي کوي. ❷ په دې آيت کښې د واجب يا نفل د قيد نه بغير د خرچ کولو فرمائيلې شوي دي او د نيکۍ په ټولو صورتونو کښې خرچ کول د الله په لاره کښې خرچ کول دي لکه د يو عالِم يا طالِبِ عِلم مدد کول، غريب باندې طعام خوړل يا ورله جامے، دوائي يا راشن اخستل. ❸ ياد ساتئ چې نيک اعمال خو يو شان وي خو اخلاص، ښه نيت او نِسبت وغيره کښې د فرق په وجه بعضې وخت په ثواب کښې ډير فرق وي. ❹ صدقه ورکولو نه پس احسان زباتل او چا ته ئې چې صدقه ورکړې وي هغه ته تکليف ورکول ناجائزه او ممنوع دي. احسان زباتل خو دا دي چې ورکولو نه پس د نورو په مخکښې دا ښکاره کړي چې ما تا سره داسې داسې سُلوک کړے دے او دغسې د هغه زړه بد کړي او تکليف ورکول دا دي چې هغه ته پيغور اوکړي چې ته غريب وې، مُفلِس وې، مجبوره وې، بيکاره وې، ما درسره ښه اوکړل يا په بله طريقه په هغه دباؤ واچوي.

وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾ قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ

او نه به هغوئي غمژن کيږي (۲۶۲) ښه خبره کول او معاف کول د هغه خيرات نه بهتر دي د کوم نه پس

يَّتْبَعُهَآ اَذًى ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ﴿٢٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا

چې تکليف ورکول وي، او الله بے پرواه حِلم لرونکے دے (۲۶۳) اے ايمان والؤ! په احسان زباتلو او تکليف ورکولو خپلې

صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِيْ يُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ

صدقے مه بربادوئ ❶ د هغه کس په شان کوم چې خپل مال خلقو ته ښودنې د پاره خرچ کوي

وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ

او په الله او قيامت باندې ايمان نه راوړي، نو د هغه مثال داسې دے لکه يو ښويه کاڼے

عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ

چې وي، په هغې خاوره وي نو په هغې باندې تيز باران اوشو او هغه ئې صفا کاڼے پريښودو، داسې خلق به د خپلو کړو اعمالو نه په هيڅ څيز باندې

مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦٤﴾ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ

هُم قُدرت نه مومي ❷ او الله کافرو ته هدايت نه ورکوي (۲۶۴) او کوم خلق چې

يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ

خپل مالونه د الله د رضا حاصلولو د پاره او د خپلو زړونو د ثابت قدم ساتلو د پاره خرچ کوي د هغوئي مثال

---

حاشيه ❶ که سوالګر ته څه نه ورکوي نو هغه سره دې په خوش اخلاقۍ سره ښه خبره کوي چې په هغه بده اُونه لګي او که هغه په سوال کولو کښې اصرار اوکړي يا ژبه ورانه اوخوزوي نو هغه سره درګُزر کول پکار دي، سوالګر ته د نه ورکولو په صورت کښې هغه سره ښه خبره کول او د هغه په زياتي باندې هغه معاف کول د هغه صدقے نه بهتر دي د کومې د ورکړې نه پس چې هغه ته پيغور ورکړے شي يا پرې احسان اوزباتلے شي يا په څه بله طريقه هغه ته تکليف ورکړے شي. ❷ په ښکاره او پټه دواړو طريقو باندې د صدقه کولو اجازت شته خو د خپل زړه په حالت باندې نظر ساتل ضروري دي. افسوس چې زمونږ په معاشره کښې رياکاري، احسان زباتل او تکليف ورکول، درې واړه بد اعمال ډير زيات دي. که پيسے خرچ کړي نو د خپل نوم بينر لګول يا خپل تصوير يا خبر چاپ کول عام معمول دے، هُم دغسې که څوک په خاندان کښې د کوم يو مدد اوکړي نو بيا ټول عمر هغه په دباو کښې ساتي او چې کله ئې زړه اوغواړي د خلقو په مخکښې ئې رُسوا کړي، دا ډيره بده خبره ده.

كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ

د هغه باغ په شان دے کوم چې په يوه اوچته زمکه وي په هغې زوردار باران اوشو نو هغه باغ دوچنده ميوه اوکړه بيا که

لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٦٥﴾ اَيَوَدُّ

زوردار باران پرې اونشي نو پرخه ئې کافي ده، او **الله** ستاسو کارونه وِيني ❶ (٢٦٥) آيا په تاسو کښې

اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّ اَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

به څوک دا خوښوي چې هغه سره د کجورو او انګورو يو باغ وي چې د هغې نه لاندې نهرونه

الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۙ وَ اَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ

بهيږي، د هغه د پاره په هغې کښې د هر قِسمه ميوے وي او هغه بوډاوالي ته اورسي او حال دا وي چې د هغه

ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۖ فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ؕ

کمزورې او بے وسه بچي وي بيا په هغې باندې يوه بُورَبَکئ [د هوا يو غونډارے] راشي چې په هغې کښې وور وي نو ټول باغ اوسوزي.

٣٦ ع ٤ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢٦٦﴾ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

**الله** تاسو ته هُم دغسې خپل آيتونه واضحه بيانوي چې تاسو غور و فِکر اوکړئ ❷ (٢٦٦) اے ايماندارو!

اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّاۤ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ

د خپلې پاکې ګټې نه او د هغې نه کوم چې مونږه ستاسو د پاره د زمکې نه راويستلې دي (د **الله** په لاره کښې) خه

الْاَرْضِ ۪ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ

خرچ کړئ او د خرچ کولو په وخت کښې خاص د ناقصه مال (ورکولو) اراده مه کوئ حالانکه (که هُم هغه تا ته درکړے شي نو) ته به ئې د

حاشيه ❶ په دې آيت کښې د هغه خلقو مثال بيان کړے شوے دے څوک چې خالصتاً د رضائے اِلٰهی حاصلولو او خپل زړونه په ايمان باندې استقامت سره ساتلو د پاره اخلاص سره عمل کوي لکه څنګه چې د اوچتې زمکې باغ په هر حال کښې ډيرې ميوے کوي که باران زيات وي او که کم وي، هُم دغسې د اخلاص والا مومن صدقه که لږه وي او که ډيره **الله** تعالیٰ ئې زياتوي. د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې صرف د مال مقدار نه بلکه د زړه حالت کتلے کيږي. ❷ اَللّٰهُ اَكْبَرُ! څومره زړه درزَوونکے مثال دے. کاش چې مونږه پوهه شو او خپل ټول اعمال، لمونځ، ذِکر و دُرُود، تلاوت، نعت خواني، حج و عمره، زکٰوة و صدقات وغيره د رياکارئ د تباهئ نه اوساتُو او د خپلو اعمالو محاسبه کول شروع کړو.

اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ؕ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿٢٦٧﴾

ستركو پټولو نه بغير قبول نكړې ① او پوهه شئ چې الله بې پرواه، د حَمد لائق دے (۲۶۷)

اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَآءِ ۚ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ

شيطان تاسو ته د محتاجۍ انديښنه دركوي او د بې حيائۍ حُكم دركوي ② او الله تاسو سره له خپله طرفه

مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُّؤْتِي الْحِكْمَةَ

د بخښنې او فضل وعده كوي او الله فراخۍ والا، عِلم والا دے (۲۶۸) الله چې چا له اوغواړي

مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا ؕ وَ

حكمت وركوي، او چا ته چې حكمت وركړے شي نو بيشكه هغه ته ډير زيات خير وركړے شو، او

مَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ

هُم عقل لرونكي نصيحت مني (۲۶۹) او تاسو چې څه خرچ كړئ يا

نَذَرْتُمْ مِّنْ نَّذْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿٢٧٠﴾

څه نذر اُومنئ [منبنته اوكړئ] نو الله ته هغه معلوم دي، او د ظالـمانو هيڅ مددګار نشته (۲۷۰)

اِنْ تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا هِيَ ۚ وَاِنْ تُخْفُوْهَا وَتُؤْتُوْهَا

كه تاسو ښكاره خيرات وركوئ نو خومره ښه خبره ده او كه تاسو په پټه فقيرانو ته

---

حاشيه ① ډير خلق ښځپله ښه [څيزونه] استعمالوي خو چې كله د الله په لار كښې وركړه كوي نو بيكاره او خراب څيزونه وركوي. د هغوئي د پاره په دې آيت كښې عبرت دے. كه يو څيز ښځپله ښه وي خو انسان ئې د ځان د پاره نه خوښوي نو د هغې په وركولو كښې باك نشته، ښه هله نه وي چې يو څيز ورته د ښه نه كيدلو په وجه ناخوښه وي. ② شيطان قِسماقِسم وسوسے وراچوي چې كه ته [د الله په لار كښې] خرچ اوكړې، صدقه وركړې نو ښځپله به فقير او ناداره شې لِـهٰذا مه خرچ كوه. دا د شيطان ډير لوئے چال دے چې د الله تعالىٰ په لاره كښې د مال خرچ كولو په وخت كښې داسې انديښنے وراچوي حالانكه د كومو خلقو په زړونو كښې چې دا وسوسه وراچولے كيږي هُم هغه خلق په ودونو كښې، په جائز او ناجائزه رسمونو كښې او په عام ژوند كښې بے دريغه مال خرچ كوي.

الْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَ يُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ ؕ
ورکړه اوکړئ نو دا ستاسو د پاره د ټولو نه بهتره ده، ❶ او الله به ستاسو نه ستاسو څه بدئ لرې [يعني معاف] کړي،
وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٢٧١﴾ لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَ لٰكِنَّ
او الله ستاسو د کارونو نه خبردار دے (٢٧١) خلقو ته هدايت ورکول په تا لازم نه دي، ❷ خو
اللّٰهَ يَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ مَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ؕ
الله چې چا ته غواړي هدايت ورکوي، او تاسو چې کوم ښه څيز خرچ کړئ نو هغه هم ستاسو د پاره فائده مند دے،
وَ مَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ ؕ وَ مَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ
او تاسو صرف د الله د رضا غوښتلو د پاره خرچ اوکړئ او تاسو چې کوم مال خرچ کوئ هغه به تاسو ته پوره پوره درکولے
اِلَيْكُمْ وَ اَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٢٧٢﴾ لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِىْ
کيږي او په تاسو به هيڅ زياتے نه کيږي (٢٧٢) د هغه فقيرانو د پاره کوم چې د الله په لاره کښې
سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِى الْاَرْضِ ؗ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ
حصار کړے شول، هغوئ په زمکه کښې نه شي ګرځيدلے، بے خبره خلق هغوئ د سوال کولو نه د
اَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ ۚ تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ۚ لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا ؕ
ځان بچ ساتلو په وجه مالدار ګڼي. ❸ ته به هغوئ د نښې نه اوپيژنې. ❹ هغوئ د خلقو نه په زارئ سره سوال نه کوي،

---

حاشيه ❶ په اکثرو اعمالو کښې هُم دا قاعده ده چې هغه په پټه او ښکاره دواړه شان جائز دي خو د رياکارئ د پاره ښکاره ورکول حرام دي او د نورو د ترغيب د پاره ښکاره ورکول ثواب دے. مشائخ او عُلماء ډير اعمال اعلانيه ځکه کوي چې د هغوئ متعلقينو او مريدانو ته ترغيب اوشي. ❷ حضورِ انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بشير و نذير او داعي يعني دعوت ورکوونکے جوړ شوے راليږلے شوے دے، د هغوئ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرض دعوت ورکولو سره پوره شولو او د دې نه زيات کوشش کول په هغوئ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لازم نه وو. ❸ دا آيت د اهلِ صُفّه په حق کښې نازل شو. د هغه حضراتو شمير خلور سوه ته نزدے وو، دوئ هجرت کړے وو او مدينے مُنَوَّرے ته حاضر شوي وو، دلته د دوئ نه کورونه وو او نه کورنئ او قبيله او نه دې حضراتو ودونه کړي وو، د هغوئ ټول وختونه به په عبادت کښې تيريدل، د شپې به قرآنِ کريم زده کولو کښې او د ورځې به جهاد کښې مشغوله اوسيدل، دا د هغوئ د شپې او ورځې معمول وو. ❹ د هُم دغه حضراتو په صف کښې هغه علماء او طلبه او مبلغين او د دِين خادمان داخل دي کوم چې ديني کارونو کښې د مشغوليت په وجه د څه [مال] ګټلو فُرصت نه لري. دا خلق د خپل عزت او وقار او مُرَوَّت په وجه د خلقو نه سوال هُم نه کوي او خپل فَقر هُم پټوي چې د هغې په وجه خلق دا ګڼي چې د دوئ ګُزاره ډيره ښه روانه ده خو حقيقت د دې خلاف وي او په تحقيق کولو به د هغوئ ژوندون په ډيرو مشقتونو کښې تيريدل د ډيرو علاماتو او قرائنو نه معلوم شي.

٣٨ ع ٧ الربع ٥

وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٢٧٣﴾ ع اَلَّذِيْنَ

او تاسو چي څه خيرات كوئ هغه الله ته معلوم دے (۲۷۳) هغه خلق

يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ

چي په شپه كښي او ورځ كښي پټ او ښكاره خپل مالونه خيرات كوي د هغوئ د پاره د هغوئ اجر

وقف منزل

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٧٤﴾ اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ

د هغوئ د **رب** سره دے، په هغوئ به نه څه ويره وي او نه به هغوئ غمژن كيږي (۲۷۴) كوم خلق چي سُود

الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ

خوري هغوئ به د قيامت په ورځ نه شي اودريدے خو په شان د هغه كس څوك چي شيطان په نيولو ليونے

وقف لازم

مِنَ الْمَسِّ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْٓا اِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ وَاَحَلَّ

كړے وي، دا سزا په دې وجه ده چي هغوئ اُووئيل: اخستل او خرخول خو هُم د سُود په شان دي حالانكه الله

اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ؕ فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى

اخستل او خرخول حلال كړي دي او سُودئې حرام كړے دے نو چا له چي د هغه د **رب** له طرفه نصيحت راغے بيا هغه منع شو نو د هغه د پاره

فَلَهٗ مَا سَلَفَ ؕ وَاَمْرُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ وَمَنْ عَادَ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

حلال دي هغه څه چي مخكښي تير شوي دي، او د هغه معامَله د **الله** په حواله ده او څوك چي بيا داسي حركت كوي نو هغوئ دوزخيان دي،

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢٧٥﴾ يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ؕ

هغوئ به په هغي كښي په مودو اوسيږي (۱) (۲۷۵) الله سُود ختموي او صدقات زياتوي،

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ ﴿٢٧٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ

او **الله** يو ناشُكره لوئے ګنهګار هُم نه خوښوي (۲۷۶) بيشكه هغه خلق چي ايمان ئې راوړو او

---

**حاشيه** (۱) سود حلال ګڼلو والا كس كافر دے ځكه چي دا حرامِ قطعي دے او هر حرام قطعي حلال ګڼلو والا كافر دے او داسي كس به هميشه په جَهنَّم كښي اوسيږي او څوك چي سُود د حرام ګڼلو سره خوري هغه سخت ګنهګار دے او د اُوكړدي مودے پورې به په جَهنَّم كښي اوسيږي.

عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ

ښه کارونه ئې اوکړل او لمونځ ئې قائم کړو او زکوٰة ئې ورکړو، د هغوئې اجر

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٧٧﴾ يٰۤاَيُّهَا

د هغوئې **رب** سره دے، او په هغوئې به نه څه ویره وي او نه به هغوئې غمژن کیږي (۲۷۷) اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا اِنْ كُنْتُمْ

ایمان والؤ! د **الله** نه اُویَریږئ او کوم سُود چې باقي پاتې شوے دے هغه پریږدئ که تاسو

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٧٨﴾ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَاْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ

ایماندار ئې (۲۷۸) بیا که تاسو داسې اونکړئ نو د **الله** او د رسول له طرفه د جنګ یقین اوکړئ، او که

وَاِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِكُمْ ۚ لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٢٧٩﴾

تاسو توبه اوکړئ نو ستاسو د پاره ستاسو اصل مال اخستل جائز دي، ۱ نه به تاسو چا ته نقصان ورکوئ او نه به تاسو ته نقصان درکولے کیږي ۲ (۲۷۹)

وَاِنْ كَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيْسَرَةٍ ۭ وَاَنْ تَصَدَّقُوْا خَيْرٌ

او که مقروض تنګدسته وي نو هغه ته د آسانۍ پورې مُهلت ورکړئ، او ستاسو قرض صدقه کول ستاسو د پاره

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٨٠﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى

د تولو نه بهتر دي که تاسو پوهیږئ ۳ (۲۸۰) او د هغه ورځې نه اُویَریږئ په کومه ورځ به چې تاسو د **الله** طرف ته ګرځولے

---

**حاشیه** ۱ دا شدید ترین وعید دے، د چا مجال دے چې **الله** تعالیٰ او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د جنګ تَصَوُّر هُم اوکړي، چنانچه کله چې دا آیت نازل شو نو د کومو اصحابو چې سُودي معامله وه هغوئې خپل سُودي مطالبات پریښودل او د سُود اخستلو او ورکولو نه ئې توبه اوکړه. خو د نن صبا تش د نوم مسلمانانو دانشورو حال دا دے چې هغوئې د توبه کولو په ځائے بخپله **الله** تعالیٰ سره اعلانِ جنګ کوي او د سُود په ضرورت او اَهَمِیَّت باندې کتابونه، آرټیکل او مضمونونه او کالمونه لیکي. ۲ دا آیت اګر چې د سُود مُتَعَلِّق دے خو په عمومي ژوند کښې هُم د شریعت او عقل تقاضه دا ده چې نه ظُلم اوکړے شي او نه ظُلم برداشت کړے شي یعنې د ظُلم ختمولو کوشش کول پکار دي ځکه چې بعضې وخت ظُلم برداشت کول ظالم ته نوره حوصله ورکوي خو چرته چې د معاف کولو صورت جوړیږي هلته دې هغه اختیار کړے شي. ۳ معلومه شوه چې قرض دار که تنګدسته وي یا غریب وي نو هغه ته مُهلت ورکول یا د قرض څه حصه یا پوره قرضه معاف کول د اجرِ عظیم سبب دے.

ع ٣٨ ٨ ٢

اللّٰهِ ۗ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٨١﴾

کیږئ، بیا به هر کس ته د هغه ګټه [یعني د عمل] پوره پوره [بدله] ورکړے شي او په هغوئ به ظُلم نه کیږي (۲۸۱)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ ۗ

اے ایمان والو چې کله تاسو یو مقرره وخته پورې د یو قرض ورکړه راکړه اوکړئ نو هغه اولیکئ،

وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ ۪ وَلَا يَاْبَ كَاتِبٌ اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا

او ستاسو مینځ کښې یو لیکونکي ته په انصاف سره (معاهده) لیکل پکار دي او لیکونکے دې د لیکلو نه انکار نه کوي څنګه چې

عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ ۚ وَلْيُمْلِلِ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ

هغه ته **الله** زده کړي دي نو هغه له لیکل پکار دي، او په کوم کس چې حق لازم راځي هغه دې ئې [په لیکونکي] لیکي او د **الله** نه دې

رَبَّهٗ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـًٔا ۗ فَاِنْ كَانَ الَّذِيْ عَلَيْهِ

اُویریږي چې د هغه **رب** دے او د هُغه حق نه دې هیڅ کمے نه کوي،[1] بیا په چا چې حق

الْحَقُّ سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ

راځي که هغه بے عقله یا کمزورے وي یا ئې [لیکونکي ته] نه شي اِملا کولے [نه شي بیانولے] نو د هغه ولي دې ئې په

وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ۗ وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ ۚ فَاِنْ لَّمْ

انصاف سره پرې اولیکي،[2] او د خپلو نارینو نه دوه ګواهان جوړ کړئ، بیا که

---

**حاشیه** ① چې کله د قرض څه معامله وي، اګر که د قرض ورکړه راکړه وي یا اخستل خرڅول، رقم ئې مخکښې ورکړے وي او مال به وروسته اخلي یا ئې مال په قرضو ورکړو او رقم به وروسته وصولوي، هُم دغسې دکان یا مکان په کرایه باندې اخستلو کښې د اډوانس یا کرایه معامله وي، په داسې ټولو صورتونو کښې معاهده لیکل پکار ده. دا حُکم واجِب نه دے خو په دې باندې عمل کولو سره بنده د ډیرو تکلیفونو نه بچ کیږي او زمونږ په زمانه کښې خو په دې باندې عمل کول انتهائي اهم شوي دي. ② که څوک پخپله نه شي لیکلےلکه یو ماشوم یا ډیر زیات بوډایا نابینا وغیره دے نو هغه دې ئې په بل کس اولیکي او چا ته چې د لیکلو اُووئیل شي هغه ته د لیکلو نه انکار کول نه دي پکار ځکه چې دا لیکل د خلقو مدد کول دي او د لیکونکي په دې کښې څه نقصان هُم نشته نو ویریا [د مفتو] ثواب ولې پریږدي.

يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ

دوه نارينه نه وي نو يو نارينه او دوه زنانه د هغه ګواهانو نه (منتخب کړئ) کوم چې تاسو خوښوئ

اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ؕ وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ

چې که په هغوئي کښې د يوې زنانه نه هير شي نو بله به ئې هغې ته ورياد کړي، ① او چې کله ګواهان را اُوبللے شي نو هغوئي دې

اِذَا مَا دُعُوْا ؕ وَلَا تَسْـَٔمُوْۤا اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا اِلٰۤى اَجَلِهٖ ؕ

راتلو نه انکار نه کوي، او که قرض لږ وي او که ډير هغه د هغې د مودے پورې ليکلو کښې ناراستي مه کوئ. دا د الله په نزد زياته

ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَاَدْنٰۤى اَلَّا تَرْتَابُوْۤا اِلَّاۤ اَنْ

د انصاف خبره ده او په دې کښې به ګواهي ډيره ښه صحيح کيږي او دا دې ته نزدې ده چې تاسو (وروسته) په شک کښې نه پريوځئ (هره

تَكُوْنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَلَّا

معاهده ليکئ) ② خو دا چې خه لاس په لاس سودا وي چې د هغې تاسو په خپل مينځ کښې اخستل ورکول اوکړئ نو دې په نه ليکلو کښې په تاسو

تَكْتُبُوْهَا ؕ وَاَشْهِدُوْۤا اِذَا تَبَايَعْتُمْ ۪ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيْدٌ ؕ۬

هيڅ باک نشته او چې کله اخستل خرڅول کوئ نو ګواه جوړوئ او نه دې يو ليکونکي ته نقصان اورسولے شي او نه ګواه ته (يا نه دې ليکونکے

وَاِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌ بِكُمْ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ ؕ

څه نقصان رسوي او نه ګواه) او که تاسو داسې اوکړئ نو دا به ستاسو نافرماني وي او د **الله** نه اُويريږئ او **الله** تاسو ته زده کوي ③

---

حاشيه ① د ورکړې راکړې معاهده ليکلو نه پس په هغې ګواهان هم جوړول پکار دي چې په وخت د ضرورت کښې پکار راشي. ګواهان دوه نارينه يا يو نارينه او دوه زنانه ضروري وي. ② د قرض د معاملاتو په ليکلو کښې سستي کول نه دي پکار، بلکه قرض که لږ وي او که زيات، د هغې مقدار، نوعيت او موده ليکل پکار دي، د دې يوه فائده دا ده چې د **الله** تعالیٰ په نزد دا ډيره د انصاف خبره ده او دې سره د بندګانو د حقونو حفاظت کيږي، دويمه فائده ئې دا ده چې دې سره به ګواهي صحيح او آسانه کيږي، دريمه فائده ئې دا ده چې معامله به صفا وي او د يو بل په زړه کښې به خيرے نه پاتې کيږي. ③ د عربئ په اعتبار سره لفظ "**يُضَآرَّ**" په معروف او مجهول دواړو معنو کښې اخستلے شي. د مجهول په اعتبار به معنیٰ وي چې ليکونکو او ګواهانو ته دې نقصان ورنکړے شي او د معروف لوستلو په صورت کښې به معنیٰ دا وي چې ليکونکے او ګواهان دې ورکړې راکړې والؤ ته نقصان نه رسوي.

وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿٢٨٢﴾ وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا

او الله ته هر څه معلوم دي (٢٨٢) او که تاسو په سفر کښې ئي او ليکونکے اُونه

كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ ؕ فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْیُؤَدِّ

مومئ نو (د قرض خواه په قبضه کښې دې څه) څيز گانړه وي، او که ستاسو په يو بل اطمينان وي نو هغه (مقروض) چې امانتدار گڼلے شوے وو هغه دې

الَّذِی اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ وَلْیَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ ؕ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ؕ

خپل امانت ادا کړي او د الله نه دې اُويريږي چې د هغه رب دے او گواهي مه پټوئ،

۳۹
ع
۷

وَمَنْ یَّكْتُمْهَا فَاِنَّهٗۤ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِیْمٌ ﴿٢٨٣﴾ ع

او څوک چې گواهي پټه کړي نو د هغه زړه گنهگار دے او الله ته ستاسو کارونه ډير ښه معلوم دي[1] (٢٨٣)

لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِیْۤ اَنْفُسِكُمْ اَوْ

څه چې په آسمانونو کښې دي او څه چې په زمکه کښې دي ټول صرف د الله دي، او څه چې ستاسو په زړونو کښې دي، که هغه تاسو ښکاره کړئ يا

تُخْفُوْهُ یُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ؕ فَیَغْفِرُ لِمَنْ یَّشَآءُ وَیُعَذِّبُ مَنْ یَّشَآءُ ؕ

ئي پټ کړئ الله به تاسو نه د هغې حساب اخلي[2]، نو چا له چې اُوغواړي بخښنه به ورکړي او چا له چې اُوغواړي سزا به ورکړي،

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿٢٨٤﴾ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَاۤ اُنْزِلَ

او الله په هر څيز قادر دے (٢٨٤) رسول په هغې ايمان راوړو څه چې د رب له طرفه

---

حاشيه ❶ په آيت نمبر ٢٨٢ او ٢٨٣ غور اوکړئ او پوهه شئ چې الله تعالیٰ زمونږه خالصتاً دُنيوي معاملاتو کښې هُم مونږ ته څومره واضحه احکامات ارشاد فرمائيلي دي. د دې نه معلومه شوه چې زمونږه دِين کامِل دے چې په دې کښې عقائدو او عباداتو سره سره د معاملاتو پورې بيان دے او حقوق العباد نهايت اهم دي چې الله تعالیٰ په نهايت وضاحت سره د دې بيان فرمائيلے دے او د شريعت په احکامو کښې بے شميره حکمتونه دي او په دې کښې زمونږه ډير زيات خير دے. ❷ د انسان په زړه کښې ډير خيالات راځي لکه وسوسه او عزم و اِراده. وسوسو نه زړه پاک کول د انسان په قدرت کښې نه دي، په دې باندې نيول نشته. دويم هغه خيالونه کومو ته چې انسان په خپل زړه کښې ځائے ورکوي او په هغې د عمل کولو قصد و اراده کوي، په هغې به مواخذه [نِيول] کيږي او هُم د هغې بيان په دې آيت کښې دے چې په خپلو زړونو کښې موجود څيز تاسو ښکاره کړئ يا ئي پټ کړئ الله تعالیٰ به په هغې ستاسو مُحاسبه فرمائي.

اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ

په هغه نازل کړې شو او مسلمانانو هُم. ټولو په الله او د هغه په فرښتو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو باندې

وَرُسُلِهٖ ۟ قف لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۟ قف وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَ

ایمان راوړو ددې ویناسره چې مونږه د هغه په یو رسول باندې هُم ایمان راوړلو کښې فرق نه کوو او هغوئي عرض اوکړو: اے زمونږه رَبـه! مونږه واوریدل او

اَطَعْنَا ۫ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿٢٨٥﴾ لَا يُكَلِّفُ

مونږه اُو منل (زمونږ د پاره دې) ستا معافي وي او هُم ستا په طرف ګرځیدل دي (۲۸۵) په هر نفس باندې

اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا

الله د هغه د طاقت برابر بوج اچوي. کوم نفس چې ښه اوګټل هغه هُم د هغه د پاره دي او کوم نفس چې بد اُوګټل د هغې

اكْتَسَبَتْ ؕ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَاۤ اِنْ نَّسِيْنَاۤ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا

وبال هُم په هغه دے ① اے زمونږه رَبـه! که زمونږ نه هیر شي یا خطا اوکړو نو مونږه مه نیسې، اے زمونږه رَبـه!

وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَاۤ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ

په مونږه درووند بوج مه اچوې څنګه چې تا زمونږ نه مخکښې خلقو باندې اچولے وو،

رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا وقفة وَاغْفِرْ لَنَا وقفة

اے زمونږهٔ رَبـه! او په مونږه هُغه بوج مه اچوې د کوم چې مونږه طاقت نه لرو او مونږه معاف کړې او مونږه اُوبخښې،

ع ٤٠ ٨ وَارْحَمْنَا وقفة اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٨٦﴾ ع

او په مونږه مهرباني اوکړې، ته زمونږه مالِک ئې، پس د کافِر قوم په مقابله کښې زمونږ مدد اُوفرمائے (۲۸۶)

---

حاشیه ① دا آیتِ مبارکه د آخرت د ثواب او عذاب په باره کښې دے خو داسې معامله په دُنیا کښې هُم تل پیښیږي چې هر سړے د خپل محنت میوه خوري، محنت کوونکي ته د هغه د محنت بدله میلاویږي او سُست او ناراسته او د عمل نه کولو والا به د خپلې سستۍ انجام اُوویني.